# بغدادي پير

نصير احمد احمدي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارا اوتو کړې جامې په بکس کې کېښودې، ویې ویل:

_سوزان، څه فکر کوې؟! د پوهنتون اووه ورځې رخصتي دې په دومره سترې سفر ارزي؟!

ځواني نجلۍ ریموټ ور واخیست، تلویزیون یې مړ کړ، ویې ویل:

_تر دې ډېره رخصتي نه لرو، ښه ده، څو ورځې به د لندن له شور ماشوره لیرې یو.

لارا ناره کړه!

_ټامه!

غوږ یې ونیو، څه یې وانه ورېدل. لور ته یې وکتل، ویې یل:

_ورور دې چېرته دی؟!

سوزان کړکۍ ته ودرېده، له پورته یې لاندې وکتل، پلار یې د واګون موټر پر سر د لرګې وړه کیشتۍ تړله.

ویې ویل:

_مخکې یې موټر پاکاوه.

لارا د بکس ځنځیر کش کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان پر زېنو کښته شوه، د باندې ووته، لمر پوست لګېده، نري باد د ونې ببرې پاڼې خوځولې.

سوزان یودم چیغه کړه، منډه یې واخیسته، لیرې ودرېده. په خشکه یې وویل:

_پلاره ، تر اوسه لا یخني ده!

له عمره پوخ سړي د موټر مخکینۍ شیشې ته د اوبو پایپ نیولی و، خندل یې....

سوزان پر خپله غاړه لاس تېر کړ، ګوتې یې لندې شوې، ټټر ته یې وکتل، لوند و. د ونې له سیورې لمر ته شوه.

ویې ویل:

_پلاره! ټام دې نه لید؟

سړي زېر زمینې ته اشاره وکړه.

سوزان ورغله. ژېړ ګروپ بل و، د زېر زمینې په بل سر کې ټکا خته. تر زړو کوچونو تېره شوه، پښه یې له بایسکل سره ولګېده، پر ولاړو کارتنونو یې لاس تکیه کړ، د وښو د رېبلو د ماشین له سره یې د مخ نقاب ور واخیست، نقاب اوږدې سرې داړې درلودې، سترګې یې تر غوږونو پرې وې.

نقاب یې خپل مخ ته ور واغوست. ارام ګامونه یې واخیستل، مخکې لاړه، ورور یې د لرګي په یوه لوی صندوق کې څه لټول.

سوزان ملا کړوپه کړه، وغرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټام ور ونه کتل.

د سوزان د تندي نرۍ ګونځې سره ورغلې:

_ونه ډار شوې؟!

ټام وويل:

_د کرکټ په توپ پسې ګرځم. مياشت مخکې مې په همدې صندوق کې ليد.

سوزان وخندل:

_په دومره جنجال نه ارزي!

_ارزي، له کرکټه پرته مېله، نه مېله!

سوزان ډاروونکی نقاب ليرې کړ، پر يوه کارټن کېناسته.

ټام وويل:

_ايرلنډ مې نه خوښېږي، کاشکې مو يوه اوونۍ همدلته په لندن کې تېره کړې وای.

سوزان ودرېده، درب شو، سر ته يې لاس ونيو، له پورته د لرګي کوچينی صندوق راولوېد، پر ځمکه ولګېد، پورتنۍ تخته يې بېله شوه.

ټام چيغه کړه!

_پام !

سوزان کېناسته، له ځمکې يې کوم شی راپورته کړ، ګروپ ته يې ونيو، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_مډال!

ټام په بېړه ور وکتل، مډال يې د خپلې خور له ګوتو وايست، ورو يې وويل:

_د ژېړو دی، ورته وګوره، څه پرې ليکل شوي! د انګلستان د ملکې مډال : ۱۹۳۵ م کال.

سوزان وويل:

_اوس ۲۰۱٦ کال دی، مانا يواتيا کاله يې وتلي دي!

ټام پېرمخې پروت صندوق په بله خوا را واړاوه. يوه پنډه، زړه کتابچه ترې ولوېده. سوزان کتابچه ور واخيسته، ور پو يې کړل، ويې ټوخل. د کتابچې پر پوښ يې څنګله تېره کړه، شونډې يې وخوځېدې:

بغدادی پير

ډېوېډ جونز.

سوزان د کتابچې ځای ځای پاڼې واړولې، يو ځای ليکلي و:

...يوې مرغۍ ته مې وکتل، د ستونې سپينې پستې بڼکې به يې وپړسېدې، اخيستې هوا به يې په خواړه غږ بدله شوه.

بوډا په بېړه وويل:

_خوښه دې شوه، ارزانه ده؟!

ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه....

یودم یې بې غاښونو خوله خلاصه شوه، په خوند یې وویل:

_ها! خو سم ووایه چې کوتر باز یې!

سوزان یوه بله پاڼه واړوله:

...امان الله خان وویل:

_ناوخته ده،وار له واره به د مطلب خبره راواخلم، الن مایک پېژنئ؟!

ټوخي واخیستم، له خولې مې چایو داره وکړه. پیاله مې پر مېز کېښوده. بخښنه مې وغوښته. ژر مې له جېبه سپین رومیال را وایست، د خپلې کورتۍ د ټټر پر لنده شوې برخه مې تېر کړ. سفیر ته مې وکتل، په لاس کې نیولې پیاله یې لړزېدله....

د کتابچې په بله پاڼه کې لیکلي ول:

...یودم مې ډېر خندی واورېد، یوه کوچیاني غږ وویل:

_پیر صېب خو له خپلې ک ... خبر نه دی، پرتوګ یې په چپه خوا اغوستی، نو ورک سېرلی به څنګه په خپلو پښو راولي!....

سوزان بله پاڼه واړوله:

...زه به پر څمکه ګرځېدم، خو خلکو به اسمان ته کتل. په هرې سپینې کوترې پسې به یې چیغې وهلې (( پیر ګل ته وګورئ، له ځانه یې کوتره جوړه کړې، پر خپلو مریدانو راګرځي...)). چا چې به ولیدم، پرځان یې د دوزخ اور حرام ګاڼه....

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان بېرته د کتابچې پاڼې سره وروستې.

*    *    *

موټر تېز و، ونې، کورونه، شنې کروندې په منډه شاته تلې....

سوزان وويل:

_پلاره! مېله نو داسې وي؟!

سړي وخندل، د موټر له اکسليټره يې پښه پورته کړه.

سوزان د مخې سيټ ته غړۍ ور اوږده کړه، د سرعت ستن پنځوسو ميلو ته راکښته شوه.

ويې ويل:

_ اوس نو په رښتيا مېله شوه، له لارې هم بايد خوند واخلو.

ټام چيغه کړه!

_هلته وګورئ!

سوزان مخ ور واړاوه. ليرې په شنو غونډيو کې دوو سپينو آسانو منډې وهلې....

لارا وويل:

_لارې ته ګوره!

سړي لاس ور وغځاوه، د ښځې پر ورانه يې پسته چونډۍ ور ولګوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لارا مخ سور شو، په بېړه یې شاته وکتل، اولادونو یې ورمېږونه کاږه کړي ول، د موټر د شا له شیشې یې آسونو ته کتل... د ونو غوټه راغله، آسونه ورک شول.

سوزان مخ واړاوه، د موټر د عقب نما په آیینه کې یې د خپل پلار وړو سترګو ته وکتل، ورو یې وویل:

_پلاره! نیکه دې څنګه سړی و؟!

سړي وخندل:

_څنګه دې یودم زما نیکه ذهن ته درغی؟!

_هسې!

_زما نیکه ستا د مور د نیکه غوندې کشیش نه و چې ټول عمر په کلیسا کې تېر کړي.

د لارا تنده تروه شوه:

_ته باید زما نیکه ته احترام وکړې!

سړي وخندل:

_ما خو کومه بده خبره نه ده کړې!

غلی شو، په خوند یې وویل:

_اه! برېټانیې ته د ډېوېډ جونز خدمتونه نه شو هېرولئ! پوهېږئ! نیکه مې په برېټانوي هند کې ږېره سپینه کړه. پوره څلوېښت کاله یې ملکې ته خدمت وکړ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان وویل:

_مډال مې یې ولید.

سړي په بېړه ور وکتل.

سوزان وویل:

_نن سهار مې په زېر زمیني کې یو صندوق وموند....

سړی په خبره کې ور ولوېد:

_هلته یوه زړه کتابچه هم وه.

_هو! راسره را وامې خیسته.

سړي وخندل:

_ښه دې وکړل، خو پام ورسره کوه.

ټام وویل:

پلاره! تا لوستې ده؟!

_هو! خو کلونه مخکې، سم مې نه دی په یاد! تاسو یې ولولئ! پر خپل غور نیکه به افتخار وکړئ!

*   *   *

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کشتۍ پر غولي ګڼ موټر ولاړ ول. سمندري مرغانو خپل اوږده، سپین وزرونه باد ته ور کړي ول... هوار تلل.

سوزان د کشتۍ اوسپنیزې کټارې ته ودرېده، د سمندر اوبه ارامې وې، کله کله به د نجلۍ ژېړ، اوږده وېښته دهغې ښۍ سترګې ته راغلل، ګوتې به یې ترې لاندې کړې، تر غوږ به یې واړول.

کشتۍ ورو تله، شاته یې د سپینو ځګونو لیکه پاتې کېدله.... سوزان مخ واړاوه. پر مخامخ اوږده څوکۍ یوه جوړه ښکارېدله. ځواني نجلۍ د هلک پر زنګون سر ایښی و، هلک د نجلۍ په ژېړو وېښتو کې ګوتې تېرولې.

د ټام غږ یې واورېد. دا یې د کشتۍ سالون ته د خوراک له پاره ور بلله. ورغله، د کاچوغو او پنجو ټکا خته..ګڼ کسان ناست ول، ډېرو یې تنګې سترګې او پیتې پوزې درلودې، د چین، جاپان او کوریا سیلانیان ول.

سوزان مېز ته نږدې څوکۍ وښویوله، کېناسته، سره کړې غوښه یې خوښه نه شوه، له ګارسونه یې د ترکاري سوپ را وغوښت. ډوډۍ یې وخوړه، کوټې ته لاړه. پر کټ پرېوته، د کمپیوټر له بکسه یې د خپل غور نیکه کتابچه را وایسته.

بغدادي پیر

ډېوېډ جونز

د مطالعې ګروپ یې ولګاوه، ځای ځای پاڼې یې واړولې، مسلسل تاریخونه یې نه درلودل، کله کله به د یوه او بل یاداښت تر مینځ میاشتې او ان کلونه وتلي ول.

بېرته لومړۍ پاڼې ته راغله، د سوزان غور نیکه ( ډېوېډ جونز ) لیکلي ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېتانياوي هند_ لاهور_ ۱۹۱۹ م کال _د فبرورۍ اووه ويشتمه:

_نا ارامه يم، کيسه مالومه ده، غرمه مې هندي شراب وڅښل، ښه نه ول، پر زړه مې ترخې اوبه را اوښتې...نيم ساعت مې په تشناب کې تېر کړ، بې ګټې و، اخير مې د مېلمستون زړې خدمتګارې ( راني ) ته ور غږ کړل، له جارو سره راغله، ګېډې ته مې غبرګ لاسونه نيولي ول، له دردې تاوېدم، ډاکټر مې راوغوښت، راني د باندې ووته، شېبه وروسته يې يو کوچينی خيرن بوتل راته ونيو. ويې ويل چې يوناني دوا ده، د نس تاو به دې ښه کړي.

يو خرېټ شنه رنګه پوډر مې له اوبو سره تېر کړل، د راني خبره سمه وه، ساعت وروسته مې د نس چونګاری ودرېد.

ماسپښين يو عسکر راغی، سلامي يې ووهله، يو کاغذ يې راته ونيو. حيران شوم، چانسلر لاهور ته راغلی و، عاجل يې غوښتی وم. په بېړه مې پر ځان اوبه تيرې کړې، ژمی دی، خو اوبه تودې لګېدې، دريشي مې واغوسته، پر کوټ بند ايښې شپو خولۍ ته مې لاس ور وغځاوه، د باندې په څلورو آسانو پسې تړلې ګاډۍ ولاړه وه.

ور وختم، د لاهور بازار له ګڼې ګوڼې ډک وو، د هندې تېزو مصالو بوی ته. ګاډۍ يوې تنګې کوڅې ته ور ننوته، له آذانونو سره د پايزېبونو د شرنګا غږونه ګډ ول. ځوک جوماتونو ته تلل، ځوک درمسالونو ته روان ول، چا د رقاصو ننداره کوله....

ګاډۍ يوې پخوانۍ کلا ته ننوته. دا کلا په لاهور کې د انګرېزانو لوی مرکز و. اوږدې کوټې ته ورغلم، له پوځي منصبدارانو ډکه وه. د چانسلر ډبل، اوږده برېتونه ځړېدلي ول. خولۍ مې د سلام په دود له سره کښته کړه، پر اوږده مېز پورې جوخته څوکۍ مې راکش کړه، کېناستم. د ښنک ملګري البرټ ته مې کتل، اوږې يې پورته واچولې، لاهور ته د چانسلر د ناڅاپي راتګ په علت نه پوهېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانسلر په برېټانوي هند کې د سر سړی و، ما ډېرې ناستې ورسره کړې وې، خو تر دې دمه مې دومره نا آرامه نه و لیدلی.

مايې لاسونو ته وکتل، پنډې، سرې ګوتې يې لړزېدلې...چانسلر ودرېد، غاړه يې صافه کړه، ويې ويل:

_د افغانستان له حالاتو خبر ياست؟!

ټول غلي ول، البرټ ودرېد:

_هو صېب! پاچا حبيب الله خان يې د لغمان په کله ګوش سيمه کې وواژه.

غلی شو.

چانسلر وويل:

_همدومره؟!

_نه! څه موده مخکې يې زوی امان الله خان پاچاهي اعلان کړه.

_د امان الله خان په اړه څومره معلومات لرې؟!

البرټ بله خبره ونه کړه!

چانسلر د تنباکو له پاڼو جوړ، پنډ سګرټ ولګاوه، له خولې يې سپېره لوخړه راووته، يودم يې چيغه کړه!

_ابشورام چېرته دی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه خلاصه شوه، انګرېز پوځي سلامي ووهله، په زوته يې وويل:

_صېب! اېشورام همدا اوس را ورسېد، خو نېغ تشناب ته لاړ.

البرټ ته مې وکتل، لاندينۍ شونډه يې په غاښونو کې ټينګه نيولې وه، ګېډه يې پورته پورته غورځېده، په مخ کې يې راټولې شوې وينې وپوهولم چې خندا يې په ډېره سخته کابو کړې ده.

نورو ته مې وکتل، ټولو جدي څېرې نيولې وې.

اېشورام راغی، خو چانسلر د دمې جوړولو وخت ورنه کړ، له هغه يې وغوښتل چې خبرې وکړي.

اېشو رام مې پېژانده، هندو و، خو صافه پښتو يې ويله، ده په کابل کې د يوناني طب کاروبار کاوه، خو په اصل کې يې د برېټانوي هند تنخوا خوړله.

اېشورام وويل:

_زما دوکان د کابل مراد خاني ته نږدې دی، څو ورځې مخکې پر سپين آس يو سپور ځوان راغی، ځوان ښايسته ښکارېده، غټې سترګې، سپين مخ او نري برېتونه يې لرل، ورنږدې شوم، امان الله خان له ګارډ او عسکرو پرته يواځې راوتلی و، له ټېکي راوتلې توره يې لمر ځلوله.... خلک خبر شول، دوکانونو ته قلفونه ور ولوېدل، ارته ميداني له سلګونو يا هم زر ګونو کسانو ډکه شوه.

ځوان پاچا ناره کړه، اولس يې د خپلواکۍ اخيستلو ته را وباله، ده يو سر لوړی، آزاد او پرمختللی افغانستان غوښت....په خبرو کې يې زور و، خلک يې د انګرېزانو پر ضد پاڅون ته رابلل....

(c) ketabton.com: The Digital Library



اېشورام شل دقيقې خبرې وکړې، کېناست.

چانسلر له جېبه يو کاغذ را وايست. امان الله خان برېتانوي حکومت ته ليکلي وو چې افغانستان بايد د يوه خپلواک هېواد په توګه په رسميت وپېژني.

وروسته يې د ناستو کسانو نظر وغوښت. ټول په يوه خوله ول، د امان الله خان ليک يې هسې باتې وګڼلې، ويې ويل چې يو کمزوری پاچا د برېتانيا د لويې امپراتورۍ پر وړاندې هېڅ هم نه دی، دا ماشوم بې ارزښته وګڼئ، همداسې يې پرېږدئ، د ليک ځواب مه ورکوئ، خو اېشورام قناعت نه کاوه، ويې ويل چې له امان الله خانه وېره په کار ده، ما تر دې پخوا په يوه افغان کې هم داسې د آزادۍ شور او له انګرېزانو دومره ډېره کرکه نه وه ليدلې.

سوزان کتابچه کېښوده، تشناب ته لاړه. مخ ته يې څو لپې اوبه ور واچولې، بېرته پرکټ اوږده وغځېده، پاڼه يې واړوله:

برېټانوي هند_ لاهور_ ۱۹۱۹ م کال_ د اګست لسمه:

_د شپې يوه بجه ده، ويښ يم، اعصابو مې کار پرېښی! يوه ځوان پاچا څنګه يوې لويې امپراتورې ته ماتې ورکړه! زړه ته مې نه لوېږي، خو واقعيت دی، موږ په څو جبهو کې مات شوو، تش لاس خلکو توپونو او طيارو ته غېږې ورکړې، ترپ، پر ځمکه يې را وويشتل. سخته ده! لويه برېټانيه يې وشرموله.

برېټانياوي هند_ لاهور_ ۱۹۱۹ م کال_ د سپټمبر دوه ويشتمه!

_سهار په خړه تليفون راغی، چانسلر ور وغوښتم. نيم ساعت وروسته يې راته وويل چې بار او بستره دې وتړه. له څو نورو کسانو سره به کابل ته ځې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ناڅاپي سفر ته نه وم تیار، خو د چانسلر تریو تندي وپوهلم چې اضافه خبره مې په ګټه نه ده. چانسلر راته وویل چې په کابل کې زموږ د یو څو کسانو موجودیت ضرور دی.

سل زړونه مې سره وتړل، ناروغي مې بانه کړه، ور ته ومې ویل، چې که امکان ولري، بل څوک ولېږه، خو قناعت یې ونه کړ، دی پوهېده چې دې ماموریت ته تر ما بل غوره کس نه شي موندلای.

زه د برېتانوي هند په ټولو سیمو کې ګرځېدلی وم، د خپل پنځه دېرش کلن ژوند څوارلس کاله مې د برېتانوي هند په استخباراتو کې تېر کړي ول، له بنګاله را نیولې، د ایران تر سرحده بلد وم، شپږ کاله مې له شاه حبیب الله خان سره په دربار کې د مشاور وظیفه درلوده، د افغانانو خوی، رواج، ښه او بده را مالومه وه، په پښتو مې صافي خبرې کولای شوای. له قوارې هم انګرېزانو ته نه پاتې کېدم. مور مې ایتالیاوۍ وه، د افغانانو غوندې رنګ یې درلود، توري سترګې او تور وېښته مې له موره وړي ول.

کابل_ ۱۹۱۹ م کال_ د اکتوبر څلورمه:

_پرون یې راته وویل چې له غازي امان الله خان سره به سبا په لسو بجو ګورئ، خو البرټ رایاده کړه چې افغانان وخت ته ارزښت نه ورکوي، د سهار ناشتا مو په کراره وخورئ! .

البرټ تک سور، چاغ سړی دی، سره ډبل برېتونه لري، په خوراک ډېر وخت تېروي، ستمی یې خېژي. له هرې ګولې خوند اخلي. خو زموږ د سفر بل ملګری څلور هډوکي خوار بوډا دی. که یې د بدن غوښه ترې وتراشې ، نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول څلور کیلو نه نه ترې جوړیږي، خو پزه یې تر اندازې زیاته اوږده ده، ډېر نه خاندي، خو کله چې وخاندي، پورتنۍ شونډه یې په پزه کې ورکه شي.

یوولس بجې ارګ ته ورسېدو، یو په ونه لوړ دریشي کړی ځوان راغی، موږ یې یوه لوی سالون ته رهنمایي کړو، بخښنه یې وغوښته، ویې ویل چې پاچا په لسو بجو ورغوښتي وئ، خو تاسو ناوخته راغلئ، پاچا له یوولسو تر دولسو بجو پورې له ځینو قومي مشرانو سره ګوري.

ځوان غلی شو، ویې ویل:

_ پاچا د ماسپښین له لمانځه وروسته بله غونډه لري. خو زه به احوال درته راوړم، شاید د ډوډۍ پر وخت مو ور وغواړي.

ځوان له سالونه ووت.

البرټ وویل:

_له ساده سړي سره نه یو مخامخ.

حیرانې سترګې مې ور واړولې.

البرټ وویل:

_په اسیایي هېوادونو کې مې ډېر پاچاهان لیدلي دي، خو دا سړی

( امان الله خان ) لومړنی پاچا دی چې وخت ته ارزښت ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خدمتګار له شیدو ډک ګېلاسونه او کولچې راته راوړې. له کړکۍ مې د باندې وکتل، د ارګ لوړ، ډبرین دېوالونه پاک ول، یوه بوډا له نري سرک څخه د ونو ژېړې پاڼې جارو کولې....

ارګ مې پخوا هم لیدلی و، خو دومره پاک نه ښکارېده.

د باندې ووتم. سوړ باد لګېده، په چمن کې د ګڅو سپینې لیکې تېرې وې. پورته مې وکتل، د شیر دروازې د غره پر څوکو د واورې نری پېروی پروت و.

سګرېټ مې ولګاوه. د جارو غږ نږدې و. یوه شېبه ودرېدم، د مني لمر ته مې په سختۍ هډونه تاوده شول، نیم سوخته سګریټ مې په چمن کې واچاوه، تر ډېره مړ لوګی ترې خوت.

بوډا راغی، نیم سوخته سګرټ یې ور پورته کړ، په جارو شویو پاڼو کې یې واچاوه.

بوډا ته مې وویل:

_په چمن کې یې دا سپینې لیکې ولې جوړې کړې دي؟

بوډا را وکتل، څه یې ونه ویل، لاړ، د ګل تر بوټي لاندې لوېدلی کاغذ یې ور واخیست، بېرته راغی، کاغذ یې په لاسي کراچۍ کې واچاوه، ویې ویل:

_پاچا امر کړی چې د نیالګیو د اېښودلو له پاره کتار کندې وکینډئ.

ومې ویل:

_خو نیالګی د حوت په میاشت کې اېښودل کېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا وخندل:

_خو پاچا بل څه وايي. وايي چې یو خو به کار تیار وي، بل دا چې د ژمې واورې او یخونه به د کېندل شویو کندو خاوره نوره هم پسته کړي. پسته خاوره د نیالګیو ودې ته ښه ده.

_نو پاچا مو په باغوانی پوهېږي؟!

بوډا وخندل:

_پاچا په ډېرو شیانو پوهېږي، کم کتابونه خو نه لولي.

ومې ویل:

_ته له څه وخته راهیسي دلته په ارګ کې یې؟!

بوډا وویل:

_په ښار کې مې سوالګري کوله. پاچا موټر راته ودراوه، خواست یې نه و خوښ، ورته ومې ویل چې نو څه وکم! لس- یوولس عیاله راپسې دی، ډوډۍ غواړي. بس! دلته یې راوستم.، کار مې اسانه دی، د سړکونو په جارو کولو کې پیاوړی یم. د میاشتې په اخیر کې تنخوا راکوي، تر بسه هم پسې تېره ده.

بوډا کراچۍ تېله کړه، وچې پاڼې یې ورسره یو وړې.

بېرته سالون ته ورغلم. پنځه کمې دوولس بجې مې ځینې غړونه واورېدل، تر کړکۍ مې ور وکتل، له مخامخ ودانۍ ګڼ کسان را ووتل، تورې او سپینې پګړۍ یې تړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې. یو تک سپین مخ مې ولید، ودرېدم، امان الله خان مې په لومړي ځل لید، لیرې و، خو غټې سترګې او تور برېتونه یې واضح ښکارېدل.

پاچا له ټولو څخه په غېږ خداى په امانې واخیسته، څو کسان یې پر لاسونو ور ټیټ شول، خو پاچا خپل لاسونه شاته ونیول، د لاسونو ښکلول یې نه خوښېدل.

ډله له ارګه ووته. ځوان راغی، موږ یې له امان الله خان سره لیدو ته و وبللو. ځای ځای پر نري، تازه جارو شوي سړک شنه لانده نصوار پراته ول.

اوږد دهلیز ته ور ننوتو، له مخامخ کوټې یو غږ راغی:

_دوی باید خپل شخصیت ته درناوی ولري، زه عادي انسان یم، ضرور نه ده چې زما لاسونه ښکل کړي.

رهنما ځوان دروازه وټکوله. کوټه وړه وه، امان الله خان او یوه بل په عمر پوخ سړي لاسونه راکړل. پر څوکیو کېناستو. البرټ د ناوخته را تلو په خاطر بخښنه وغوښته. پاچا په عمر پوخ سړی معرفي کړ، د پاچا خسر او د دفتر مشر محمود طرزي و.

البرټ د چانسلر لیک ورته ونیو، په لیک کې له شاه امان الله خانه غوښتل شوي و چې د مناسباتو د ساتلو له پاره د دوی څو کسانو ته په کابل کې د اوسېدو اجازه ورکړي. پاچا لیک ولوست. وروسته یې اوږدې خبرې وکړې، ده د برېتانیې په شمول له ټولو هېوادونو سره متقابلې دوستانه اړیکې غوښتې... بیا یې د برېتانیې ملکه په درووند نوم یاده کړه، ویې ویل چې دواړه خپلواک هېوادونه د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې له یو بل سره ډېره همکاري کولای شي...خو شرط یې دا دی چې برېتانیه باید افغانستان د یوه خپلواک هېواد په توګه په رسمیت وپېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا نیم ساعت خبرې وکړې، په خبرو کې یې د خپلواک افغانستان نوم ډېر یاداوه، خو د (خپلواک) ټکي زما زړه خوړ.

دې سړي یوائې څو میاشتې مخکې د برېتانیې امپراتورۍ ته ماتې ورکړې وه، ډېر انګرېزان یې تر تېغ تېر کړي ول، خپلواکي یې اخیستې وه... خو اوس یې په خبرو کې کرکه نه لیدل کېده، خبرې یې تودې او له مینې ډکې وې. دی د خپل هېواد د اقتصاد په فکر کې و.

شل کمې یوه بجه ډوډۍ راغله، د وریژو په مینځ کې لړه غوښه ایښې وه، خو ما د ده د پلار دسترخوان هم لیدلی و ، پر مېز به د لوښو ځای نه کېده.

امان الله خان دوه ځله دېوالي ساعت ته وکتل، خو البرټ لا خبرې کولې...پر پښه مې یې د بوټ څوکه ور کېښوده، خوله یې بنده شوه.

د خدای په امانۍ پر وخت مو پاچا ته لاس ورکړ، لاس یې تود او له انرژۍ ډک راته واېسېد.

په وره کې مې نوک ونیو، شاته مې وکتل، امان الله خان په یوه پنډه کتابچه کې څه لیکل.

پېښور ته د بېرته تګ له پاره طیاره دوې ورځې وروسته راتله. موږ یې بالاحصار ته بوتلو. یوه پاکه کوټه یې راکړه. له کړکۍ مې د باندې وکتل، تر بالاحصار لاندې ګڼ کورونه پراته ول، د پل خشتي د جومات ګمبدې لمر ته ژېړه لمبه کوله. لیرې د ارګ هسک دېوالونه ښکارېدل، ور ها خوا پراخه ساحه شنو لوخو نیولې وه.

بېرته پر کټ کېناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جورج وویل:

_له دې سړي ( پاچا ) وېره  په کار ده.

مخ مې ور واړاوه.

جورج وویل:

_له هوښیار دښمنه ووېرېږه! دا سړی په هند کې هم ستونزې راته جوړولای شي.

البرټ وخندل:

_دومره یې هم مه لویوه!

جورج وویل:

_د پاچا په سترګو کې مې یوه ځلا ولېده، له خپلواکۍ د خوند اخیستلو ځلا! ښه به دا وي چې د برېتانیې حکومت یې په رسمیت وپېژني، که نه نو فکر نه کوم چې په اوسني افغانستان دې قناعت وکړي، څه وخت وروسته به یې  خبره  تر اټکه وي.

ومې ویل!

_زړونه مو غټ ونیسئ! تر هغه وخته پورې به ونه رسېږي.

دواړو راته وکتل.

ومې ویل:

_د اوس له پاره تر دې ډېر څه مه رانه غواړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



البرټ وخندل:

_نو ته په خپلو ملګرو هم بې باوره يې؟!

جورج وويل:

_البرټه! خپل وخت مه ضايع کوه! ډېوېډ جونز د استخباراتو مامور دی، تر اوسه به يې له چانسلر او ملکې پرته، خپلې مور ته هم رښتيا خبره نه وي کړې.

سوزان بله پاڼه واړوله. ډېوېډ جونز دوه کاله وروسته تاريخ ليکلی و.

برېټانوي هند_ کلکته_ ۱۹۲۲ م کال_ د مارچ يوولسمه :

_نه وم، دوه کاله مې په لندن کې تېر کړل، تېره اونۍ کلکتې ته راغلم، د ياداښت کتابچه مې همدلته پرېيښې وه.

ورک يې که! څه وليکم، ماغزه مې اېشي، هغه وطن ( افغانستان ) مو په رسميت وپېژاند چې داخلي او خارجي سياست يې زموږ په واک کې و، خو چاره نه وه. حالات تر دې نور هم سختېدل، په قبايلي سيمو کې خلک را پاڅېدل، لوی تاوانونه يې را ورسول، ملکه مجبوره شوه چې د هنري ډابس په مشرۍ کابل ته يو لوړ رتبه هيئت ور ولېږي. ډابس له شاه امان الله خان سره رسمي تړون لاسليک کړ، دافغانستان خپلواکي او حاکميت په رسميت وپېژندل شو.

خو کاشکې يوازې افغانستان وای، په راجستان، کشمير، کوټه... کې هم ځينې قبيلې را پورته شوې دي، دوی زړور نه ول،پوهېدل چې پر برېټانيې وار د زمري زړه غواړي، خو له امان الله خانه يې زده کړل، اوس امان الله خان ته په ټول هند کې د آزادۍ د سمبول په سترګه کتل کېږي، په جومات، مندر او کليسا کې د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادۍ خبرې تودې دي. دې سرې ډارن خلک زړور کړل، اوس د ډېرو زړونو ته لوېدلې چې له برېتانيې خپلواکي اخیستی شي.

اه! که دا سړی ( امان الله خان ) تر ستوني ونه نیسو، نو هند مو له لاسه وتلی بوله.

کابل _۱۹۲۳ کال_ د می اتمه.

_د تېرې یوې میاشتې یاداښتونه!

په رڼو اوبو کې مې ګوتې ننه ایستې، اوړی او دومره سړې اوبه؟! له پورته پاخه توتان راغلل، لپه مې ډکه کړه، اوبه مې له توتانو سره تېرې کړې، سړې اوبه او خواږه توتان! تر دې دمه مې داسې خوند نه و څکلی.

سر مې هسک کړ، تر شنو ونو پورته د پغمان د غره څوکې لا سپینې وې.

هینګاری راغی، ور ومې کتل، موټر ته کتار خرې ولاړې وې. ورغلم، سړک تنګ و، موټر مې څو ځله شاته او مخته کړ، ایله د خرو د تېرېدولاره پیدا شوه. خو بیا هم د یوې خرې ربړې ځولۍ د موټر د څنګ شیشه کړه کړه.

بېرته د رڼو اوبو پر ژۍ کېناستم، څړپ شو، د خرې اوربوز په اوبو کې ننوت.

یو غږ مې واورېد:

_ټینک یو( مننه) .

شاته مې وکتل، یوه بوډا خره خره له پړي نیولې وه، راته موسک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا وويل:

_پرنګی، پرنګی؟!!!!!

حيران شوم، د امان الله خان د پاچاهي په دې څلور کاله کې ډېر بدلون راغلی و، زما په څېر شپو خولی، نېکټايي او دريشي ډېرو دولتي مامورينو درلودې، څېره مې هم د دوی غوندې وه، نو دې کليوال او ساده سړي له کومه وپېژندلم؟!

ومې ويل:

_څنګه وپوهېدې چې زه انګرېز يم؟!

دا ځل د بوډا سترګې رډې راوختې، په خوند يې وويل:

_ته خو سمه پښتو وايې!

غلی شو، موټر ته يې اشاره وکړه،ويې ويل:

_د موټر پر دروازه دې د پرنګيانو د شاهي حکومت نښه ده.

_اه! دهقان سړی او دومره مالومات.

ومې ويل:

_له کومه پوه شوې.

سړي وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_د پاچا سیوری دې خدای زموږ له سره نه لیرې کوي، ټولو کلیو ته یې مالمین را لېږلي، ورو، زړو ته درس وايي، ایله د لمانځه په مانا وپوهېدو، لیکل او لوستل مو زده کړل، ستاسو د بیرغ عکس او د حکومت نښه مې هم په یوه کتاب کې لیدلې وه.

سړي د خرې له څولی لنده ټوټه لیرې کړه، ویې ویل:

_نازک بدني منې دي، ښار ته یې د خرڅلاو له پاره وړم.

دوې منې یې راته ونیولې، د خرې پړی یې کش کړ، بېرته سړک ته وخوت.

یوه منه مې په اوبو کې ووهله، خرپ مې ترې وایست. موټر ته ور وختم، وېره نه وه، دې خلکو د پاچا په یوه امر تورې راپسې را واخیستې، خو په بل فرمان یې د خولې ګوله راسره جلا کوله! سوله وه، په سوله کې خلک زموږ په وینو پسې نه ګرځېدل.

مخکې لاړم، یو ځای پخه ودانۍ جوړېده. موټر مې همالته ودراوه. د لرګي وړه لوحه مې ولوسته، لیکلي و: (( طاق ظفر_ د استقلال څلی )).

ورغلم. ګڼو کاریګرو کار کاوه. یو دریشي کړی ځوان لاس راکړ، په بل لاس کې یې کاغذ و، له لیکو یې وپوهېدم چې د منار نخشه ده.

یوه ماشوم د لرګي څوکۍ راته راوړه، کېناستم، ځوان هم د موټر له نښې پوهېدلی و چې د برېتانیې په سفارت کې کار کوم. نور یې هم خبر کړل.

د یوه ماشوم تندی سره ورغی:

_اوف! پرنګی کافر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو يوه كاريګر سپک کړ، ويې ويل چې مېلمه دی.

د منار پوښتنه مې وکړه، دريشي کړي ځوان وويل، چې د پاچا په امر د آزادۍ څلی جوړ وو.

دې ټکي يوه مانا لرله، له انګرېزانو آزادي، خو دا ځوان په نزاکت پوهېده، د انګرېز نوم يې زما د غرور د ماتېدو په خاطر وانه خيست.

ځوان ته مې وکتل:

_له پاچا ډېر خوشاله ياست!

ځوان وخندل:

_له داسې چا به ولې نه يو خوشاله چې ان زموږ د کور د مصارفو فکر هم ورسره دی.

په حيرانۍ مې ورته وکتل.

ځوان وويل:

_ګوره! په لاس کې نيولې پياله دې يو ساده مثال دی! په موږ کې مېلمه سپېرې شونډې نه پرېږدي، يو چا به پور کاوه، خو مېلمه ته به يې شيدې، وچه يا تازه مېوه يا كتغ تياراوه. افغانان نيستمن خلک دي، دې سرې فكر وكړ، تجاران يې تشويق کړل، په لومړي ځل يې دې وطن ته چای را وړ. هم ارزانه دي، هم دود بايده پر ځای کېږي او هم د صحت له پاره ګټه لري. پخوا به خلكو د سيندونو او ويالو اوبه څښلې، د ډېرو معدې به خرابې وې، خو اوس اوبه جوش کړه،لږ چای ور واچوه، هم خپله ستړيا پرې ليرې كه، هم د مېلمه پرده وكه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله ماشومان راغلل، له ټوټو جوړې ډکې کڅوړې پسې زنګېدلې. يو لس، يوولس کلن ماشوم نږدې راته کېناست، د کڅوړې پوښتنه مې ترې وکړه، لنډ يې راته وويل چې د مکتب کتابونه دي.

يو کتاب مې را واخيست، په لومړيو دوو مخونو کې يې حمد او نعت شريف ليکلي وو، درېيم او څلورم مخونه يې د آزادۍ په اړه ول...    نورې پاڼې مې واړولې، ساده ژبه يې درلوده، څو مخه د وطندوستۍ خبرو ډک کړي ول، بيا د افغانستان د دوو-دريو  ولاياتو په اړه لنډ مالومات وو. وروسته د يوالي او اتحاد په  باره کې يوه کيسه راغلې وه، بيا د پاکو اوبو د اهميت په اړه يو ساده شعر و....

دا کتاب يواځې يو کال مخکې چاپ شوی و.

کڅوړه مې وکتله، دوهمه سيپاره، ديني ښوونه،  حساب... د خطاطۍ د مشق لرګينه دړه. نی، رنګ...پکې پراته ول.

په زړه کې را تېره شوه:

_ ډېوېډ جونزه بچو! څومره چې وخت تېرېږي، په هماغه اندازه به  د دې خلکو غلطېدل ګران کار وي.

ماښام سفارت ته راغلم. د سفير ټنده تروه وه، ويې ويل چې په جلال آباد کې يې هغه په زرګونه اخبارونه سوځولي دي چې له برېټانوي هنده کابل ته راتلل.

علت مې وپوښت. سفير  په تليفون کې له محمود طرزي سره غږېدلی و، هغه ورته ويلي و چې په دې اخبارونو کې ډېر داسې مضامين راغلي دي چې زموږ په خلکو کې مذهبي نفاق خپروي او د افغانستان ملي حاکميت او آزادۍ ته  زيان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفیر د محمود طرزي له خولې را ته وویل چې له دې وروسته به د ډیورنډ پر کرښه هغه اخبارونه او مجلې چاڼ کیږي چې له بریټانوي هنده دې وطن ته راځي.

کوټې ته لاړم. ستړی وم، خو ما باید د ورځې را پور لیکلی وای. یواځې زه نه وم، په کابل ښار کې دوو سوو کسانو وظیفې درلودې چې د هرې طبقې نظریات مالوم او سفیر خبر کړي. په دوی کې انګریزان کم ول، زه او څلور نور هغه کسان چې ژبه یې زده وه او خبرې یې افغانانو ته پاتې کېدلې. نور هغه افغانان ، هندوان او سکان ول چې د مالوماتو په بدل کې یې له سفارته پیسې اخیستې.

ستړې ورځ، ارام خوب لرې، تر سهاره ویده وم. جومه وه. ولمبېدم، افغاني جامې مې واغوستې، جګه شمله مې ودروله، د شور بازار تنګو کوڅو ته ورغلم. دوکانونه له مختلفو اجناسو ډک ول، د لوښو یوه لوی دوکان ته ودرېدم، د روسیې ساخت له پتنوسونو، چایجوشونو... چاینکو ډک وو. یوه ښکلې میناتوري شوې پیاله مې را واخیسته، روسی وه. دوکاندار ته مې وویل:

_لاهوري کاسې مې په کار دي.

دوکاندار وویل:

_ پخوا خو مو سترګې تړلې وې، فکر مو کاوه چې هر څه په لاهور او ډهلي کې دي، خو پاچا دې خدای تر ډېره راته ژوندی لري، په تجارت یې وپوهولو، له نورې دنیا سره یې بلد کړو، له سفیرانو سره یې کېنولو... زما په خبر ګڼ نور تجاران په کال کې دوه- درې ځله ایران، ترکیې او روسیې ته ځي، هلته خریداري کوي، تر لاهوره په کمه بیه، ښه جنس په لاس راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پياله مې واخيسته، د غاليو خرڅولو کوڅې ته ور وګرځېدم، يو چاغ ترکمن په بيړه د لرګي چوکۍ راته سمه کړه. دوکان له رنګارنګ غاليو ډک و. سړي څو غالۍ سره واړولې، يودم يې ناره کړه!

_اقچه يي، کندوزي، بشيري، مور، خرسک....کومه قالينه غواړئ؟

غلی وم.

سړي د قالينو د رنګ، جوړښت او کيفيت په اړه اوږدې خبرې وکړې....

ومې ويل:

_پر هاغه نورو قالينو مو ولې سپينه ټوټه هواره کړې ده؟!

سړي وخندل، چوخۍ سترګې يې لا پسې تنګي شوې، په خوند يې وويل:

_هغه به دې نه شي خوښې، خارج ته ځي.

حيران شوم.

سړي سپينه توټه ليرې کړه. ويې ويل:

_موږ ( افغانان ) سرې غالۍ خوښوو، خو په دې غاليو کې نور رنګونه هم راغلي دي، ګلان او نخشه يې هم فرق کوي.

يوه وړه قالينچه مې راپورته کړه، د بريټانيې د ملکې عکس پکې اوبدل شوی و.

سړي وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_کال مخکې يې د غالیو ټول سوداګر وزارت ته ور وغوښتل، درې ورځې يې درس راکړ، پوه يې کړو چې اروپایان څه رنګ او کوم چاپ قالیني خوښوي. یوه جوپه غالۍ مو اروپا ته ولېږلې، ښې پیسې يې راته جوړې کړې، له موږ سره د غالۍ اوبدونکو ګېډې هم مړې شوې. اوس مو په مزار، کندوز ، اقچه، بغلان ...کې نوي فرمایشونه ور کړي دي.

ولاړ شوم، ومې ویل:

_وبخښه! زحمت دې وایست، خو څه مې وانه وخیستل.

سړي وخندل:

_که کوم دوکاندار خندا او حوصله ونه لري، دوکانداري دې نه کوي.

ومې ویل:

_دا خو چینایي متل دی.

_هو! موږ کله کله وزارت ته ور غواړي، د تجارتي اجناسو د راکړې ورکړې او اخلاقو په باره کې راته غږېږي، دا خبره مې هم همالته زده کړې ده. که خدای کول، نو راتلونکی پسرلی ځینې تجاران ترکیې ته لېږي. وایي چې په تجارت کې به نوي څه زده کړي.

له سړي مې خدای پاماني واخیسته، لنډ را تاو شوم، تنګه کوڅه له قفسونو ډکه وه، د مختلفو مرغانو آوازونه تېره لګېدل. یوه دوکان ته ودرېدم، غولی له سویانو او کوترو ډک و، پورته د لرګي ګڼ قفسونه را ځړېدل. یوې مرغۍ ته مې وکتل، د ستونې سپینې پستې ښکې به يې وپړسېدې، اخیستې هوا به يې په خواږه غږ بدله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا په بیره وویل:

_خوښه دې شوه، ارزانه ده؟!

ومې ویل:

_نه.

یودم یې بې غاښونو خوله خلاصه شوه، په خوند یې وویل:

_ها! خو سم ووایه چې کوتر باز یې!

تر لاس یې ونیولم، تنګ دوکان ته ننوتم، کوترو ته یې اشاره وکړه ، ویې ویل:

_شیرازۍ، چپه پرې، ملاقي، بال سفېد، زردچه...کوم ډول کوترې غواړې؟!

زما ځواب ته ماتله نه شو، یوه سره کوتره یې ونیوله، ویې ویل:

_که د کوترو له ملاقه خوند اخلې، نو تر دې کوترې مه تېرېږه، په هوا کې په یوه سا اوه ځله را اوړي. هو! خو که د نورو د کوترو د نیولو شوقي یې بیا هاغه توره کوتره واخله، یو خو له سېله نه جلا کېږي، بل په هر ځل الوتو خامخا یوه بله کوتره درته راولي.

یوې وړې نجلۍ یو کوچینی پتنوس را ووړ . د بوډا تنده تروه شوه، په خشکه (غوسه ) یې وویل:

_ولې مکتب ته نه یې تللې؟!

د نجلۍ خړې شونډې وخوځېدې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ناروغه یم، تبه مې ده.

بوډا پتنوس ور واخیست، نجلۍ بېرته له دوکانه ووته.

ومې ویل:

_څه دې ده؟!

بوډا د لرګي په دړه د سنیو دسترخوان هوار کړ، د کاسي له سره یې برغولۍ وښویاوه، په کورتو کې لنده شوې ډوډۍ وه. څنګ ته ایښې بدنۍ یې کږه کړه، پر خړه خاوره خړې اوبه تویې شوې. ماته یې وکتل، د ټنډې ګونځې یې لا سره ننوتې وې. ویې ویل:

_ډوډۍ خورې؟!

_نه.

_نو رڼا را پرېږده.

د دوکان له دروازې څنګ ته شوم.

بوډا د پاستې ژۍ ور پرې کړه، په ډکه خوله یې وویل:

_وبخښه، دې لمسۍ مې ماغزه را وخوړل، بانې کوي، پرون هم مکتب ته نه وه تللې.

ومې ویل:

_خو نه دې ځي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډا برګ راته وکتل:

_تا لکه چې د پاچا فرمان نه دی اورېدلی! مکتب يې پر نجونو او هلکانو جبري کړی.

ومې ويل:

_نو ته د پاچا له وېرې خپله لمسۍ مکتب ته لېږې.

بوډا خپلې خړې ګوتې وښتلې، ويې ويل:

_د وېرې خبره نه ده، د پاچا نا فرماني ګناه لري.

ومې ويل:

_خو دا نجوني لوېيږي، حساب، هندسه او نور کوپړي کتابونه به ووايي، ټکری به ليرې کړي، په مکتب کې به نوې نخرې زده کړي....

د بوډا ټنده تروه شوه:

_ته څنګه افغان يې چې په خپل پاچا باور نه لرې! هغه چا چې موږ ته عزت را وباښه، له کوپړه يې خلاص کړو، وطن يې آزاد کړ، د هغه په اړه څنګه داسې چټیاټ وايې ؟! وځه!

په بېړه له دوکانه ووتم، د بوډا له غوسې ډک غږ راپسې راغی:

_د پرنګي جاسوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سفارت لاره مې ونیوله. د پل خشتي جومات ته ګڼ شمېر خلک ور روان ول. د ملا تېره غږ راته، د جومې د لمانځه په خطبه کې یې امان الله خان،د خدای د رحمت سیوری ګڼانه.

درې ورځې له سفارته ونه وتم، ما باید کلکتې ته میاشتنی راپور تیار کړی وای، سخته وه، د خپلو جاسوسانو په واسطه ځینې را ټول شوي مالومات مې په شفر کې لیکل.

ماخستن مې لیکلی را پور له سره کوت چې د شعبې دروازه له دېوال سره ولګېده، سفیر و، وارخطا ښکارېده، ویل یې چې ارګ ته یې ور غوښتي یو.

د سفیر وارخطایۍ ته حیران شوم، ارګ ته د سفیر تګ کومه نوې خبره نه وه. سفیرانو به په میاشت کې یو ځل له پاچا سره کتل او د متقابلو اړیکو د ټینګښت، تجارت، فرهنګ، اقتصاد.... په باره کې به یې خبرې ورسره کولې.

خو د سفیر بلې خبرې چرتي کړم. دا ملاقات د تشویش وړ راته ښکاره شو. پاچا همدا شپه او همدا ساعت ارګ ته ور غوښتي وو.

ځان مې تیار کړ، نیم ساعت وروسته، زه، سفیر او د سفارت یو بل هندو کارکوونکی په ارګ کې وو. موږ یې یوې وړې کوټې ته بوتلو، یوه ځوان چای او څو رنګه وچه مېوه راته راوړه، بېرته د باندې ووت.

سفیر وویل:

_که خبره خرابه وای، دومره یې نه نازولو.

سفیر ته مې وکتل، شنې سترګې یې ځلېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:

_دومره مه خوشاله کېږه! افغانان په خپل کور کې دښمن ته په درنه سترګه ګوري.

سفیر یودم ودرېد، وره ته مې وکتل، پاچا و. پاچا ټولو ته لاس ورکړ، مخامخ راته کېناست.

امان الله خان مې له څو کلونو وروسته لید، وزن یې یو څه ډېر شوی و، خو نور هماغسې تک سپین او ښکلی ښکارېده، یوازې غټې سترګې یې له غوسې ډکې وې.

امان الله خان وویل:

_ناوخته دی،وار له واره به د مطلب خبره راواخلم، الن مایک پېژنئ؟!

ټوخي واخیستم، له خولې مې چایو داره وکړه. پیاله مې پر مېز کېښوده. بخښنه مې وغوښته. ژر مې له جېبه سپین رومال را وایست، د خپلې کورتۍ د ټټر پر لنده شوې برخه مې تېر کړ. سفیر ته مې وکتل، په لاس کې نیولې پیاله یې لړزېدله....

سفیر په وارخطایي وویل:

_نه!

_ابراهیم او عبدالله خان څنګه؟!

سفیر غولي ته کتل.

پاچا له خپل جېبه یو پاکټ را وایست، خلاص کاغذ یې د سفیر مخې ته پر مېز کېښود، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_له خپلې امضاه خو به نه يې پښيمانه؟!

د سفير سترګې رډې راختلې وې.

پاچا وويل:

_دا درې کسان مو له اسنادو سره ونيول، ستا د سفارت کار کونکي دي، په کتغن کې يې ځينې کسان د نظام پر ضد بغاوت ته هڅول، منفي تبليغ يې کاوه، د عطاالله په نوم يوه خان ته يې دوه ويشت ټوپکه ورکړي ول....

پاچا ودرېد، سفير ته يې وکتل، ورو يې ويل:

_دوه اوياساعته! يواځې دوه اويا ساعته وخت لرې چې له افغانستانه ووځې!

بېرته سفارت ته راغلو، سفير په غوسه و، خو چاره يې نه ليده، دربيمه غرمه يې تلګراف راته وکړ، ليکلي يې و چې پېښور ته په خير را ورسېدم.

يوه اونۍ وروسته د چانسلر ليک راغی، امان الله خان ته يې ليکلي و چې الن مايک انګرېز دی، دی بايد د برېتانيې د قوانينو له مخې محاکمه شي.

په دوهمه ورځ سفارت ته له ارګه ليک راغی، مجبور وم چې د ليک محتوا چانسلر ته تلګراف کړم. امان الله خان چانسلر په درونډ نوم ياد کړی و، وروسته يې ليکلي و چې افغانستان يو خپلواک هېواد دی، خپل قوانين لري، ښاغلی الن مايک به د دې هېواد د قوانينو له مخې محاکمه شي... تاسو ته دېوره عدل او انصاف ډاډ درکوم.

يوه اوونۍ وروسته محکمه داېره شوه، الن مايک، ابراهيم او عبدالله خان يې په اعدام محکوم کړل. بل سهار د سفارت په انګړ کې يو تور موټر ودرېد، څلورو افغان پو ځيانو يو تابوت را کښته کړ، ورغلم، د سفارت يوه کارکوونکي د تابوت تخته ليرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، الن مایک د عیسویانو له دود او مذهب سره سم په یوه نوې توره دریشي کې پروت و، نېکټایې ور تړل شوې وه، د کورتۍ د ټټر له جېبه یې سور ګلاب را وتلی و.

دې سړي ته مې څو وارې ویلي وو چې په دې خلکو کې ورو_ ورو کار کوه، دومره تېز مه ځه، نه یې منله.

ګرمې وه، تابوت مو په هماغه ورځ پېښور ته ولېږه.

میاشت وروسته بل سفیر راغی، څلور هډوکي وچ کلک بوډا و، د موږک غوندې وړې سترګې یې درلودې. په لومړۍ ورځ یې د ټولو شعبو کاغذونه ور وغوښتل، د خدمتګار له خولې خبر شوم چې په څلرویشتو ساعتونو کې یې یوازې درې ساعته خوب کړی.

سهار ته جلسه ونیول شوه، د احتیاطي تدابیرو په اړه وغږېدو، موږ پوهېدو چې سفارت د پاچا د مخفي کسانو تر څارنې لاندې دی. نوي سفیر امر وکړ چې سفارت ته تر یو څه وخته زموږ هیڅ افغان جاسوس نه شي راتلای.

میاشت ووته، د سفارت دروازې ته مخامخ په دواړو پښنو ګوډ پروت سوالګر، سبزي پلورونکی او په خاورو کې ناست سیک تاویذ لیکونکی ورک شول.

د سفارت کارکوونکي خوشاله وو، ویل یې چې د پاچا شک وخوت، خپل جاسوسان یې ور ټول کړل، تر دې وروسته به سفارت تر څارنې لاندې نه وي، خو د سفیر وړې سترګې ونه ځلېدې، ویې ویل چې د امان الله خان په اړه یې ډېره مطالعه کړې ده، پام کوئ! پاچا ساده سړی نه دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سفیر خبره سمه وه، یوه اوونی لا نه وه وتلې چې له ارګه رسمي مکتوب راغی، لیکلي یې و چې د سفارت کارکوونکي حق لري چې په آزاده توګه په ښار کې وګرځي، خو د نجونو د زده کړې په برخه کې د افغانانو د ذهنیت خرابول، زموږ په داخلي چارو کې ستاسو لاسوهنه ده....

سفیر په غوسه و. په هماغه ساعت جلسه ونیول شوه، د سفارت یوه صوفي کارکوونکي په ماته ګوډه ژبه وویل چې دوې ورځې مخکې یوه سماوار ته ورغلم، ساده کلیوال ول، زما هرې خبرې ته یې سرونه خوځول....وخت مې غنیمت وګاڼه، د نجونو مکتب مې را واخیست، په کوپر او فحشا مې ختم کړ....

سفیر مېز په سوک وواهه، په غوسه یې وویل چې د ده له اجازې پرته هېڅوک له سفارته نه شي وتلای!

خو د سفیر په دې امر کې زه نه راتلم، زما مستقیم امر چانسلر و، له کلکتې به راته ویل کېدل چې څه کوه او څه مه کوه!

وخت ووت، خو احتیاط به مو تر کومه کاوه؟! کلکتې کلنی راپور غوښت، دا راپور په انګلستان کې ملکې ته هم رسېده. چاره نه وه، موږ باید له ځینو ولایتونو خپل افغان جاسوسان راغوښتي وای. سفیر نه قانع کېده، ویل یې چې سفارت ته د جاسوسانو راتګ، د توپ خولې ته د هغوی تړل دي....فکر مو وکړ، لاره مو ومونده، د عکسونو یوه لوی نندارتون له شکه ایستلو.

د افغانستان له خارجه وزارت سره وغږېدو، ویې منله، ویې ویل چې د نورې دنیا له پرمختګ سره د افغانانو بلدېدل زموږ په ګټه دي.

وخت ووت، له پېښوره په سلګونه نوي او زاړه عکسونه را ورسېدل، ټول عکسونه د اروپا له پرمختګه غږېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سفارت د انګړ دېوالونه مو له مختلفو عکسونو ډک کړل. ارګ او ځينو دولتي ادارو ته مو بلنليکونه ور ولېږل، پر دوکانونو، نانوايانو، حمامونو... مو واړه، واړه کاغذونه ولګول، په دې کاغذونو کې ليکل شويو لنډو جملو عام افغانان، د عکسونو درې ورځني ننداريتون ته را بلل.

په لومړۍ ورځ ګڼه ګونه کمه وه، يواځې له ځينو وزارتونو يو شمېر دولتي مامورين راغلي ول، خو د دې خلکو په جلبولو کې مو ډېره ګټه ليده، له هر يوه سره به مو خندل...

پوښتنو يې ستړي کړو، د سفارت کارکوونکو بايد د عکسونو په اړه مالومات ورکړي واى. يواځې د زراعت له يوه مامور سره مې يو ساعت خبرې وکړې، ده به هر عکس ته درولم، د تراکتورونو، ترېشرونو، پر ونو ، بوټو د دوا پاشى د ماشينونو... زراعتي کود...په باره کې به يې پوښتنې کولې (( بيه يې څو ده، څه کار کوي! زموږ دهقان او زراعت ته به څومره ګټور وي؟! څنګه يې دې وطن ته راوړاى شو؟!...)).

د تشناب په پلمه مې ځان ترې خلاص کړ، خو بل ځوان راته ودرېد، ده يوه عکس ته اشاره وکړه، ويې ويل چې ايا د چرګوړو د ايستلو داسې کوم ماشين به نه وي چې له برق پرته کار وکړي؟!

د سفارت نورو کارمندانو ته مې وکتل، تر هر يوه به ډله را ټوله وه، د سفارت کارکوونکو به د عکسونو له مخې په نړۍ کې د نوي صنعت په اړه خبرې کولې....

حيران شوم، دلته لا څو کاله مخکې دا خبرې نه وې، د پخواني پاچا مامورينو به يواځې د ښه آس، ښه باغ، جنګي زرک، دوهم يا درېيم واده...په اړه خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولې، خپل جېبونه به يې ډکول، خو اوس دې خلکوته نوي ځوان پاچا د وطن او پرمختګ مینه ور ښودلې وه.

په دوهمه ورځ د سفارت انګړ له عامو خلکو ډک شو، دوی یواځې عکسونو ته کتل... یو هم نه ور وتو، نه ارزېدل، له دوی سره وخت تېرولو ګټه نه راته کوله.

له پلان سره سم زموږ جاسوسان په دربېمه ورځ راغلل، د خلکو په ګڼه ګونه کې چا شک نه اخیست، مخکې بلد ول، یو- یو د سفارت تر تعمیر لاندې زېر زمیني ته کښته شول.

اوږده مېز ته اتلس کسه کېناستو، څلور موږ او پاتې افغانان ول. سفیر په پښتو او دري نه پوهېده، ترجمان يې درلود، خو پاتې دوو انګرېزانو مفهوم ورنه اخیست. سفیر لنډې خبرې وکړې، له مېلمنو يې مننه وکړه چې خطر يې ومانه او سفارت ته راغلل. وروسته يې له راغلو کسانو ګزارش وغوښت.

لومړی یوه هراتي ملا غاړه صافه کړه، خبرې يې په بسم الله پیل کړې، ویې ویل چې افغانانو ته د ملا هره خبره د منلو وړ ده، ( نه ) نه پکې وايي، خو د امان الله خان په باره کې اور نه اخلي، هېڅ هم نه مني، وايي چې دیوه داسې غازي پر وړاندې به څنګه راپورته کېږي چې انګرېزان يې له وطنه وشړل....

بیا له کندهاره راغلي یوه له رنګه تور خان خبرې وکړې، ویې ویل چې له ډېرو خانانو او ملکانو سره يې ناستې درلودې، دا يې ورته ویلي چې تېر پاچا به خانانو او ملکانو ته تنخوا او ځیني نور امتیازات ورکول، خو امان الله خان هر څه بند کړل...خانانو ته يې په سپکه وکتل، یو څه ژوندي شئ...خو ګټه يې ونه کړه، یواځې دوه خانان يې یو څه بد بینه کړي دي، نورو ته تر خپلو شخصي ګټو د پاچا ګرانښت او وطن مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له غزني راغلی یو په ونه لوړ افغان پوځي ودرېد، ویې ویل چې په یوه کال کې یې ان د یوه عسکر نظر هم بدل نه شو کړای، پوځ پاچا ته وفاداره دی، امان الله خان یې تنخوا ور ډېره کړه، په نس یې ماړه ساتي، هېڅ صاحب منصب حق نه لري چې پر خپلو عسکرو دکور بېګار وکړي....

قاضي پورته شو، په ادارو کې یې د رشوت د مخنیوي په اړه خبرې وکړې، ویې ویل چې مجازات ډېر شوي دي، په تېره یوه میاشت کې یې یوائې په بدخشان کې څلور رشوت خواره قاضیان بندیان کړل.... خلک خوشاله دي، د پاچا پر ضد یوه وړه خبره نه مني....

بیا یوه پکتیاوال یوه کیسه را واخیسته، ویې ویل چې پاچا خلکو ته د قناعت ورکولو اجبه ژبه لري. څه موده مخکې له امان الله خان سره یو ځای ته روان
وو، مخکینی موټر خراب شو، نور موټرونه و درېدل. دښته وه، لمر تود لګېده. له نږدې کېږدیو سپین ږیرې راغلل، کوچیان ول، پاچا ته یې کلکې غېږې
ورکړې، امان الله خان همالته په خاورو کې ورسره کېناست. کوچیانو ته یې وویل چې د مالونو د دواوو په اړه یې له جرمنیانو سره خبرې کړې دي، په لنډ وخت کې به دې وطن ته را ورسېږي، د مېږو، غواوو او پسونو تلفات به کم شي....خو کوچیانو د پاچا له خبرو سره دلچسپي ونه ښوده...

یوه بوډا په خواره خوله وویل:

_صېب! اورېدلي مو دې چې کوچیانو ته مالمین را لیږئ! که دا نجوني له سبقه ماف کی نو دین او دنیا به دې سمه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا یوې کوچۍ نجلۍ ته اشاره وکړه، نهه، لس کلنه وه، ببر وېښته یې نبغ ولاړ ول، کله چې به پر ځمکه پرتو خوشایو ته ټیټه شوه، د اوږده خیرن کوچیاني کمیس لمن به یې پورته ودرېده، د پښو لوڅې پوندۍ به یې ښکاره شوې. پرتوګ یې نه و.

پاچا وویل:

_هاغه نجلۍ څوک ده؟

یوه ډنګر کوچي وویل:

_صېب! زما لورکۍ ده!

_څه کوي؟!

_پچې او خوشایي ټولوي.

_مانا ګټه درته کوي؟!

_هو صېب! که زموږ نجوني پچې جارو نه کړي، نو دېګدان سوړ بوله.

پاچا وویل:

_زه له شریعته وتلی کار نه کوم، همدې نجونو ته ټکرۍ ور پر سروم، پرتوګ ور اغوندم، اودس او لمونځ ور زده کوم، نظافت ور ښیم، درس ورباندې وایم، په ژوند یې پوهوم... اوس یې هم ګټې ته ناست یاست، خو غواړم چې ابرومندانه ګټه درته راوړي. په مکتب کې څه بدي ده؟! هه! اوس به ټوله ورځ د بوه دېګدان پچې او خوشایي درته را ټول کړي، خو که دا نجلۍ درس ووایي، ډاکتره یا معلمه شي، وطن به جوړ کړي، د خوشایو پر ځای به تنخوا درته راوړي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پکتیاوال کیسه لا نه وه خلاصه چې د سفارت یو کارمند راغی، په وارخطایي یې وویل چې له انګړه ټولو خلکو منډه واخیسته.

زه او سفیر د باندې ووتو، میدان تش و، یواځې عکسونه باد رپول. عمومي دروازې ته ورغلو، ډله خلک پر یو چا راټول ول. د سفارت د ساتونکې پر څوکۍ ودرېدم. پاچا هسکه شمله درولې وه، په سپینه کندهارۍ غاړه او توره سدرۍ کې ښکلی ښکارېده.

سفیر ته مې ځای ورکړ، غړۍ یې اوږده کړه، ویې ویل:

_دا سړی لېونی دی.

د خبرې په هدف یې پوه شوم، ومې ویل:

_نه، لېونی نه دی، پر خپلو خلکو باور لري.

د سفیر شونډې وخوځېدې:

_ان د برېتانیې غوندې په امن ملک کې لا زموږ ملکه هم له ګارډ او امنیتي چارو پرته د باندې نه شي را وتی، خو

په خبره کې یې ور ولوېدم:

_خو دلته، همدا ملت، د خپل پاچا ساتونکی دی.

سفیر په حیرانۍ پاچا ته کتل...

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا يې لومړی ځل نه دی، پاچا کله کله ښار ته راوځي، جوماتونو ته ورځي، له خلکو سره ګوري، په عادي سماوارونو کې چای څښي....

يوه شېبه ودرېدو، بېرته زېر زميني ته کښته شوو. د پاتې جاسوسانو په خبرو کې هم امېد نه و.

مازديګر مې د طلوع افغان له اخباره مهم ټکي را وايستل، سفير ته مې ور وړل. ده د امان الله خان د نظامنامې انګرېزې ژباړه لوسته. دې نظامنامې دوه اويا مادې درلودې، دا مادې د جلال آباد د لويې جرګې ټولو اته سوه دوه اويا برخه والو منلې وې.

سفير اشاره راته وکړه، کښېناستم، عينکې يې ليرې کړې، ويې ويل:

_امان الله خان د افغانستان په څو زره کلن تاريخ کې په لومړي ځل اساسي قانون ( نظام نامه ) جوړ کړ، ما د ډېرو اروپايي هېوادونو اساسي قوانين لوستي دي، خو دې سړي چې خپلو خلکو ته څومره انساني او بشري حق ور کړی دی، په ډېرو قوانينو کې مې نه دي ليدلي.

سفير غلی شو، عينکې يې بېرته پر سترګو کړې، نظامنامې ته يې وکتل، ويې ويل:

_په دې نظامنامه کې راغلي چې ټول افغانان برابر حقوق لري، مريتوب منع دی، مطبوعات آزاد دي، هر چا ته بايد د کار او کسب د زده کړې زمينه برابره شي، بېګار ختم دی....

ما نظام نامه لوستې وه، د سفير خبرې اوږدې، تکراري او ستړې کوونکې وې، خو د نزاکت له مخې مې څه نه ويل.

سفير اوږدې خبرې وکړې، بيا يې ماته وکتل، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا سړی له خپلو خلکو سره څومره په اخلاص چلیږي، ته راته ووایه! کوم پاچا به په خپله، له کوم زوره پرته خپل واک محدود کړي؟! خو امان الله خان دا کار وکړ، ډېر واک یې خپلې کابینې او نورو مامورینو ته ورکړ....

نیم ساعت وروسته خپلې کوټې ته لاړم، د پاچا وروستي فرمانونه مې را واخیستل، تر دې دمه به هندوانو پر خپلو پګړیو ژېړه پټه تړله چې په اسانۍ وپېژندل شي، خو د پاچا په فرمان کې دا کار اقلیتونو ته سپکاوی یاد شوی و، ویلي یې و چې هندوان او سیکان هم افغانان دي او له دې وروسته له هغو ټولو حقوقو برخمن دي چې نور افغانان یې لري.

په دې فرمان کې دا هم راغلي وو چې له دې وروسته د هندوانو او سیکانو اولادونه په عمومي مکتبونو کې درس ویلی شي....
په دوهم فرمان کې ټولو اقلیتونو ته د مذهبي ازادۍ د ورکړې یادونه شوې وه، لیکلي و چې هر څوک خپل مذهبي مراسم په ازاده توګه تر سره کولای شي....

نور فرمانونه مې ولوستل، د فردي ازادي، تعلیم، نظم، پرمختګ او نورو اصلاحاتو په اړه ول....دا وطن یې له خوارۍ ورځې ایست.

اوږد وغزېدم، ډېر فکر مې وواهه، د پاچا او د دې وطن د تخریب لاره مې ونه مونده.

سوزان تر دې ځایه د خپل غور نیکه یادښتونه ولوستل، ګړۍ ته یې وکتل، د شپې لس بجې وې، خو ورور، پلار او مور یې لا د کشتۍ په لوی سالون کې موزیک ته ناست ول، د ګروپ سویچ ته یې لاس ور وغځاوه، تیاره شوه، سترګې یې پټې کړې.

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان خپل ورور ته وکتل، ټام د وحشي هوسۍ بچي ته نږدې ولاړ و. ورغله، د هوسۍ بچی وترهېد، منډه یې واخیسته، د ټام تندی تریو شو. په خشکه یې وویل:

_ودې وېراوه.

سوزان وویل:

_وبخښه، خو هوسۍ بېسکیټ نه پېژني.

ټام په ورغوي کې نیولی بیسکیټ بېرته په پاکټ کې واچاوه.

سوزان خپل پلار ته وکتل، په یوه نیکر کې پروت و، ځانته یې لمر ورکاوه.

سوزان بېرته خیمې ته ننوته، د خپلې مور له سره یې برستن لیرې کړه، ویې ویل:

_خوب خو په کور کې هم کېده.

لارا کېناسته، سترګې یې وموښلې.

سوزان د خپل غور نیکه کتابچه ور واخیسته، د باندې ووته. د اوبو پر ژۍ پر یوه هواره ډبره کېناسته، پورته یې وکتل، په غرونو کې سپېره ځای نه ښکارېده، ټول له ونو ډک ول. اوبو ته یې وکتل، په وړه کیشتۍ کې سپور بوډا له چنګکه ماهی خلاصاوه.

سوزان کتابچه ور واخیسته، باد نرم و، لمر پوست لګېده. سوزان په کتابچه کې په نښه شوې پاڼه پرانیسته. ډېوېډ جونز لیکلي و:

_ ۱۹۲٤ م کال، د اپرېل دوهمه_ برېتانوي هند_ پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرې څو میاشتې مې په مدراس، لاهور او پېښور کې تېرې کړې، ستړې ورځې وې، حالات له کنټروله وتلي ښکارېدل، د برېتانوي هند په ډېرو برخو کې د انګرېزانو پر ضد خلک را پورته شول، دوی له امان الله خانه د آزادۍ الهام اخیستی و، زرګونه هندوان، سیکان او مسلمانان مو ووژل، خو نه کرارېدل. حملې یې لا تودې وې. اړ شوو، له چانسلر سره مو په ورځو ورځو خبرې وکړې، هره ممکنه لاره مو وسنجوله، خو د افغانستان د خپلواکۍ او چټک پرمختګ څېره مو نه شوای تته کولای.

اخیر له برېتانیې څو کسه راغلل، ویل یې چې په برېتانوي هند کې د ځینو مسلمانانو ژوند نور هم پسې تریخ کړئ. دا خبره حیرانوکې وه، خو د راغلیو کسانو خبرو له خطر سره سره قناعت راکړ.

د دې نخشې عملي کولو احتیاط غوښت، موږ بایدحالات دومره هم نه وای خراب کړي چې برېتانوي هند ته یې تر ګټې تاوان ډېر وای.

له پلان سره سم مو په ځینو مسلمان مېشتو سیمو کې کلیساوې جوړې کړې، په ځایي اوسېدونکو بده ولګېده، ویل یې چې دلته خو عیسویان نه اوسي...نو.... مظاهرې را ووتې، جوړو شویو کلیساووته یې اور ور واچاوه.

دا خبرې مو د برېتانیاوي هند په اخبارونو کې لا وپړسولې. د هجرت له پاره تبلیغ ته زمینه برابره شوه. زموږ صوفیانو جاسوسانو په هر جومات کې تقریرونه شروع کړل، ویل به یې انګرېز عیسویت خپروي، ښه لاره یې هجرت ده...خو د جهاد نوم به یې نه اخیست.

په دې مو بسنه ونه کړه، په هندوانو او سیکانو کې مو خاص کسان وګومارل، دوی پر هغو مسلمانانو ژوند تریخ کړ چې په سیمه کې اقلیت ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجرت! خو کوم ځای ته هجرت؟! مالومه وه، خلک د ایران په شیعه حکومت بې باوره ول. لنډ او د ډاډ وړ ځای افغانستان و.

تبلیغ دومره تود و چې هره ورځ به په زرګونه کسان د ډیورنډ تر کرښې اوښتل. په دې کې زموږ خپل خلک هم وو، دوی ته وظیفه ور سپارل شوې وه چې تر خپله وسه افغانستان ته د نویو ورغلیو مهاجرینو اوځایي اوسیدونکو تر منځ اختلافات را وپاروي.

په دوو میاشتو کې زرګونه کورنۍ افغانستان ته لاړې، د مهاجرینو ډېر فشار پر کابل او نورو لویو ښارونو راته، دې کسانو خواړه، جامې او سرپناه غوښته... زموږ د پلان له مخې باید دا مهاجرین بېرته برېتانیاوي هند ته راغلي وای، دلته یې په افغانستان کې د سخت ژوند او له زرګونو ورغلیو مسلمانو مهاجرو کورنیو سره د حکومت د نه همکاري کیسې کړې وای، په برېتانوي هند کې یې د امان الله خان پر ځلانده تصویر خاورې ور پاشلې وای...او د آزادۍ احساس مړ شوای وای، خونتیجه یې زموږ د تمې خلاف وخته، د امان الله خان د فرمان له مخې نویو ورغلیو مهاجرینو ته د کورونو د جوړولو له پاره ځمکې ورکړل شوې او ځایي اوسېدونکو خپله ګوله ورسره شریکه کړه.

برېتانیاوي هند ته بېرته یواځې هغه کورنۍ راغلې چې د ستوري لېږل شوې وې. دا کورنۍ مو د ټول هند په مسلمان مېشتو سیمو کې ووېشلې، دوی به د امان الله خان پر ضد تبلیغ کاوه، ویل به یې چې امان الله خان عیاش پاچا دی، جوماتونو ته یې قلفونه ور اچولي دي، د کوپر قانون چلوي...ده خپل خلک په ګېډو نه وو ماړه کړې، نو موږ ته به یې څه خیر را رسېده....

خو دې تبلیغ تر ډېره کار ونه کړ، له افغانستانه نوې خبرې راتلې، له مهاجرینو سره د پاچا او رایت د نېک سلوک خبرې زموږ له کنټروله ووتې. چانسلر امر وکړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ته تلونکې کورنۍ را وګرځوي. وېره يې پر ځای وه، له ورغلو مهاجرينو سره د پاچا اوافغانانو نېک سلوک  موږ ته تاوان رارساوه.

پلان ناکام شو، زه بېرته کابل ته لاړم. په لنډه موده کې نور تغيرات هم  راغلي ول. لويې ليسې او مسلکي مکتبونه جوړ شوي وو، ترکي، هندي او جرمني استادانو به زده کړې ور کولې.  تر دې دمه په ټول افغانستان کې درې سوه دوه ويشت مکتبونه جوړ شوي وو.

بازار له افغاني توليداتو ډک و. افغانستان په خپله د  غوړيو، صابون، قندو، بورې، عطرو، سيمنټو، ټوپکو، باروتو جوړولو... او د اوسپنې ويلې کولو کارخانې درلودې.

د معدنونو پر استخراج  او په ښارونو کې د اوبو رسولو پر عصري سيستم چټک کار روان و...

 اخبارونه مې ولوستل، افغانستان خپله راډيو درلوده،  په کندهار او جلال اباد کې د برېښنا د توليد لويې او وړې خونې پرانيستل شوې وې. فرانسوي  او جرمني شرکتونو  د دې هېواد له شماله تر جنوبه پورې د رېل د پټلۍ  د ليکې د جوړېدو پر پلان کار کاوه، ولايتونه له مرکز سره د تلګراف او تليفون په واسطه تړل شوي وو، په کابل کې جوړ شوي مرکزي بانک لومړني بانک نوټونه را وايستل. د دې هېواد په لويو ښارونو کې د ملکي هوايي ډګرونو د جوړېدو کار په چټکۍ روان و....

تر دې  دمه افغانستان دوولس ملکي  طيارې درلودې چې پېلوټان  يې جرمنيان ول، خو پاچا پنځه ويشت کسان د پيلوټۍ د زده کړې له پاره مسکو ته لېږلي وو.

هر  زون  خپل اخبارونه  درلودل، دا اخبارونه د وطن دوستۍ، اتحاد، او د نويو پرمختګونو له خبرو ډک ول... د پاچا په امر په لويو ښارونو کې لويې کتابخانې جوړې شوې وې، خلکو به د مطالعې له پاره کتابونه امانت  ترې وړل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مالياتو قانون جوړ شو، دمالياتو ټکټونه چاپ شول، چا چې به ماليات ورکول، په مقابل کې به يې د مالياتو له ماموره ټکټ اخيست، په دې توګه تر ډېره د رشوت مخه نيول کېده.

پاچا د خپل هېواد له آبادۍ سره لېونۍ مينه درلوده. له کاره يې خوند اخيست. ده د خپلوکارونو د تنظيم له پاره منظم پلان درلود.

شنبې يې د تجارت، ماليې او معارف کارونو ته ځانګړې کړې وه. يکشنبه يې له تجارانو، سفيرانو، او بهرنيو ديپلوماتانو سره کتل. دوشنبه يې د وزيرانو په مجلس کې برخه اخيسته، سې شنبې يې له وزارتونو را غوښتل شوي راپورونه لوستل.
چهار شنبه يې له خلکو سره کتل او پنجشبه يې هم د کرنې، عدليې، امنيت ...ستونزې څېړلې.

دې بوخت سړي به ان د جومې په ورځ هم د ملاامامانو، قومي مشرانو او سپين ږيرو مشکلات اورېدل....

فکر په مخه کړم، سپېرې شونډې او تش ماغزه ژر غلامي ته تېر وهي، خو دې سړي چټک کار کاوه. خپل خلک يې له خوارې او بې تعليمې ورځې را ايستل.

په دې تشو ماغزو کې د الفبا د يوه ټکي اضافه کېدل هم برېتانيې ته خطرناک و.

په کابل کې مې د اوسېدو مياشت نه وه پوره چې تلګراف راغی، چانسلر په بېړه پېښور ته ور غوښتی وم. دوهمه ورځ مې پېښور ته ورسوله. چانسلر مې وليد، حيران شوم، له سلام او کلام پرته يې په خوند وويل:

_ډېوېډ جونزه! له دې وروسته به ږېرې ته چاړه نه ور وړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان یودم چیغه کړه. په بېړه ودرېده، په ګریوان کې یې ګوتې ننه ایستې، پر وښو وړه څرمښکۍ ولوېده. ټام ته یې وکتل، خندل یې... سوزان منډه پسې واخیسته، خو ټام ګړندی و، سوزان ودرېده. په ستړې ساه یې وویل:

_احمقه! دا نو ټوکه وه!

بېرته خپل ځای ته راغله. سپین تندي یې نرۍ ګونځې پیدا کړې:

_اه! نه!

ټیټه شوه، کتابچه یې داوبو له ژۍ ور پورته کړه،د سر څو لندې پاڼې یې سره سریښ وې. کتابچه یې لمر ته کېښوده، خپل پلار ته یې وکتل، پر سیخونو پېپیلوغوښو ته یې پکی واهه. کشتۍ ته ورغله، ټېله یې کړه، د جهیل د اوبو سړه څپه یې زنګنو ته ور پورته شوه.

د مور غږ یې واورېد:

_پام کوه!

سوزان په کشتۍ کې کېناسته، د دواړو غاړو پاروګان یې ووهل، خو لنډه را وګرځېده، کتابچه یې ور واخیسته، بېرته کیشتۍ ته ورغله، شېبه وروسته د جهیل په څنډه کې ولاړ کب نیونکي کوچیني ښکارېدل.

سوزان پاروګان پرېښودل، کیشتۍ تر یوه ځایه کراره تله، وروسته ودرېده. سوزان ستوني ستغ پرېوته، کتابچه یې مخ ته ونیوله، پرسترګو یې سیوری راغی. سرې شونډې یې وخوځېدې:

۱۹۲۵ م کال_ د اپرېل دیارلسمه_ د لویې پکتیا غرونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اه! د ږېرې له خاربنته سترې یم، ډېره اوږده شوې ده، یوه لوېشت، یا تر دې ډېره، نه پوهېږم! خو کله چې کښته ګورم، د ږېرې وېښته مې سترګو ته درېږي. خرېيلې ږېره نه ښکارېده، خواوس سپین ډکې له ورایه پکې وینم.

لمر دی، غرونه شنه لمبه کوي، تر سره په شنو ونو کې پټ دي. دلته دوې ورځې مخکې را ورسېدو، ابادي نه شته، تر اوسه مو یواځې د مرغانو آوازونه اورېدلې دي. دا ځای قدم شاه خوښ کړ، خوښ نه، له پخوا یې دلته راتګ په نېت کې و. یوې لويې او ارتې سمڅې ته یې راوستم، پای یې نه مالومېږي، سوړ بوی پکې پروت دی.

قدم شاه سهار اته بجې له دوو کچرو سره ووت، دوه ساعته تېر شول، تر  اوسه یې درک  نه شته.

ما په دې دوو ساعتونو کې غزول شوی سیم له سره وکوت. مازې یو ځای ښکارېده، سل متره سیم په خاورو او ډبرو کې پټ و. بیا مې چلتار پر سر کړ، په آینه کې مې وکتل، سوچه عرب وم.

اه! په پېښور کې دتېرو څو میاشتومهم  ټکي هم په لیکلو ارزي.

اتیا کسان وو، دوې میاشتې مو په زېر زمینیو کې تېرې کړې، هر څه همالته ول.  په دهلېز، اشپز خانه،  کوټو، تشنابونو ... کې ژبېر ګروپان  بل ول. دوې میاشتې، پوره  دوې میاشتې مو یواځې خبرې واورېدې. خو سترې خبرې نه وې، په دې موده کې مې ډېر څه زده کړل.

موږ ته به انګرېز، عرب،  هندي او افغان استادان راتلل. د افغانستان د مختلفو قومونو، دود، کولتور او  عقیدو  په باره کې به راته  غږېدل، د جاسوسۍ نوي، عصري وسایل به یې راته راوړل... د هرې وسیلې تشریح او اهمیت ډېرې خبرې غوښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې میاشتې وروسته یې نومونه راباندې کېښودل، مختلف نومونه. مارګیر اغا، غیبګو، پیر کرم شاه، د مدینې خواجه...د هر یوه په نوم کې د پیر، اغا، خواجه، خلیفه، حضرت،... ټکي مهم ول. ماته یې د بغدادي پیر نوم انتخاب کړ.

یوه ژبه حتمي وه، دا اتیا کسان باید په پښتو یا فارسي، یوې ژبې پوهېدئ، بس! له دوو کسانو پرته یوه هم د ژبې ستونزه نه درلوده. لومړی یو په ونه لوړ تک سپین انګرېز و، هغه ته یې د پیر ګونګه لقب وټاکه، بله چاره نه وه، ژبه یې نه وه زده، ګونګی یې کړ، ده باید یواځې لاسونه خوځولای، نور کار یې افغان ملګري ته پرېښود، هغه به د پیر ګونګه له حرکاتو اخیستي مانا خلکو ته ویله.

دوهم یو هندو صوفي و چې له هندي پرته په بله ژبه نه پوهېده. ده ته یې د دیو بندي پیر لقب ورکړ.

بیا یې اتیا کسان سره ووېشلو، څلوېښت دوه نفري ګروپونه یې جوړ کړل، له اته دېرشو انګرېزانو، عربو او هندیانو سره یې یو _یو داسې کس ملګری کړ چې په سیمه کې بلد ول.

وروسته د خبرو له مخې تقسیمات شروع شول. ډېر انګرېزان د افغانستان هغو سیمو ته وټاکل شول چې اوسېدونکې یې له رنګه سره ول. خو هندوانو او عربو دا مشکل نه درلود، دوی هرې سیمې ته جوړېدل.

ما هم کومه ستونزه نه درلوده، انګرېز وم، خو رنګ مې کوم مشکل نه جوړاوه. ما او لارنس ته، چې اوس یې پیر کرم شاه باله وویل شول چې تاسو به ډیورنډ کرښې ته نږدې په دوو مختلفو سیمو کې فعالیت کوئ.

قدم شاه یې ملګری راته وټاکه. قدم شاه له ونې ټیټ دی، تر لویشتې اوږده ږېره لري، په چالاکۍ کې یې ورې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې څلوېښتو ګروپونو کې لومړۍ د افغانستان شمالي برخو ته انتخاب شوې کسان ولېږل شول. نورو کومه ستونزه نه درلوده، یواځې تر کرښې په غرنیو پټو لارو واوښتل، وروسته یې له عامو موټرونو او سړکونو استفاده کولای شوای. خو د افغانستان شمال ته د انګرېزانو تګ یو څه سخت و.

دوی لومړۍ د چترال له لارې بدخشان ته لاړل، بیا یې له هغه ځایه نورو سیمو ته مخه کړه. خو ما او زما ملګري کومه ستونزه نه درلوده، دوې کچرې مو واخیستې، لومړۍ مو لویو خلطو ته د جاسوسی وسایل، توپانچه، دوربین، مختلفې دواوې... او خوراکي مواد ور واچول، بیامو دیني کتابونه ور باندې کېښودل، سپینو پګړیو، اوږدو ږیرو، چونډارو ګردو لمنو او د کچرو پر سر ښکاره اېښودل شوو دیني کتابونو له شکه ایستلو.

ان د وزیرو په یوه جومات کې مې لا د پټې خولې جمه هم ورکړه.

کرار تلو، دوی شپې مو ستورو ته تېرې کړې، درېیم ماښام مو یوه کلي ته ور ووړ، ضرورت نه و چې ځانونه معرفي کړو، خلکو په خپله عالمان بللو، ویل یې چې د هندوستان دینې مدرسوته تللي عالمان بېرته خپلو کورونو ته روان دي.

ماخستن یې غوړه ښوروا راته راوړه، سهار مو د شیدو له چایو سره تازه کوچ وخوړل.

ټوله ورځ مو مزل وکړ، پاتې شپه مو په غره کې تېره کړه، بل ماښام همدې غار ته را ورسېدو.

بل ځای نه شوای تلای، قدم شاه دا غار پخوا هم لیدلی و، د دوو میاشتو زده کړې په وخت کې یې انګرېز استادانو ته قناعت ور کړی و چې دا ځای د فعالیت د پیل له پاره ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترې وو، شپه مو په خوب تېره کړه، خو سهار مو لومړی خوراکي مواد، دوا... او د جاسوسی وسایل د غار تیارې برخې ته یووړل، بیامو سل متره سیم تر خاورو لاندې کړ، د سیم په دواړو خواوو پورې یوه یوه کوچینی دستګاه تړل شوې وه. یوه دستګاه مو په غار کې د اېښودل شویو کتابونو شاته پرېښوده، بله مو لاندې چینې ته نږدې د لویو ډبرو په مینځ کې پټه کړه.

اه! قدم شاه را راوان دی، باید ورشم چې څه یې کړي دي.

سوزان بله پانه واوړوله.

بل یادښت دوې اونی وروسته لیکل شوی و:

_قدم شاه خوشاله و، ویل یې چې په غره کې یې د لېوانو انګولا اورېدلې وه، لیرې خوشې کړې کچرې به بیا ونه وینې.

په لومړی ورځ مو څوک ونه لیدل، خو دوهم سهار مو د زنګولې آواز واورېد، قدم شاه په منډه دباندې ووت، له سیرلي سره راغی، دتک تور سیرلي سپینه ټنډه ښکلې ښکارېدله. قدم شاه د سیرلي کباب ته خوشاله و، خو ما ورته وویل چې حوصله وکه، دا کوچینی سېرلی به لوی پسونه درته راولي.

زنګوله مې ترې خلاصه کړه، تار مې ور پورې وتاړه، د سمڅې په تیاره برخه کې مې پورته را وځړوله. د تار بله څوکه مې تر کتابونو راوړه. دې تار دخاورو رنګ درلود، تر وېښته نری و، له ځمکې سره نه ښکارېده.

قدم شاه ته مې وکتل، سترګې یې ردې راختلې وې...ومې ویل:

_د سیرلي خوله ور وتړه، لیرې یې پټ که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیرلي نارې کړې، قدم شاه خولۍ ته جورابه ور واغوسته. تر ښکرو یې ونیو، د باندې ووت.

ښه شېبه تېره شوه، بېرته راغی، خو کېناستلو ته مې پرې نه ښود، ورته ومې ویل چې له چینې سره کېنه.

شنې غټې پېیلې مرۍ مې غاړې ته واچولې، دستګاه مې روښانه کړه، پوره یو پاو وخت مې غوږونه څک نیولي وو، خو د مرغانو له نریو نارو پرته مې بل څه وانه ورېدل. یودم د دستګاه له واړه لاوډسپیکره د ډېرو د رغړېدو غږ را ووت. بیا مې یو نری وار خطا آواز واورېد:

_ته څوک یې؟! دلته څه کوې؟!

د دستګاه غږ مې تر پایه پورې تېز کړ.

د قدم شاه ناره مې واورېده:

_د خدای بنده.

بیا له لاوډ سپیکره د قدم شاه یوه لېونۍ، بې مانا چیغه را ووته.

_لو لو لو لو لو لا....

لاوډ سپیکر ته مې غوږ ور نږدې کړ. نري وارخطا غږ وویل:

_سیرلی مې ورک دی. تا نه دی لیدلی؟!

قدم شاه د اوښ غوندې وغړمبېد، بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پورته ور وخېژه! بغدادي پیر ته پټې مالومې دي.

چوپه چوپتیا شوه، له لاوډ سپیکره یواځې د مرغانو غږ را ووت. دستګاه مې بنده کړه. دغار خولې ته مې وکتل، لومړی یوه خړه خیرنه خولۍ را پورته شوه، بیا مې د یوه نهه_لس کلن ماشوم چاودی سپېره مخ ولید.

ماشوم د غار په خوله کې ودرېد، وارخطا ښکارېده.

مخې ته د پرانیستي کتاب پاڼې مې سره وروستې. ومې خندل:

_راځه، راځه! دنیايي کارونو ته زړه مه خوره! تور سېرلی به خدای پیدا کړي!

د ماشوم سترګې رډې راوختې. په خواره خوله یې وویل:

_ته له کومه پوه شوې چې زما سیرلی ورک دی، هغه هم تور سېرلی؟!

ومې خندل:

_که بغدادی پیر په غیبو نه پوهېدای، نو نوم به یې بغدادي پیر نه و.

ماشوم را نږدې شو، خو چاودې لاسونه یې لا لړزېدل.

ومې ویل:

_راځه بچیه! دلته نږدې راته کښېنه.

ماشوم په خاورو کې پلتۍ ووهله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې پټې کړې، هېڅ مې هم نه ویل، خو شونډې مې خوځولې...بیا مې هماغسې په پټو سترګو څو ځله یوه خبره تکرار کړه:

_تور سیرلی، سپین یې تندی، تور سېرلی سپین یې تندی، تور....

یودم مې ماشوم ته وکتل، سترګې یې رډې راختلې وې. د کتاب د اېښودلو په پلمه مې دستګاه روښانه کړه، بېرته مې سترګې پټې کړې، ومې ویل

_تور سېرلیه وینم دي، وینم دي! بېځایه زوروونه مه وهه. له دې دوو تېرو دې یواځې بغدادي پیر را ایستلی شي.

غلی شوم، بیا مې څو نامفهومه تورې تر خولې را ووتل، وروسته مې په ټیټ غږ وویل:

_راشه! راشه، بغدادي پیر دې غواړي. افرین، افرین...

یودم مې تندی تریو کړ:

_نه! لاره مه کږوه!

ومې خندل:

_افرین، همدا نرۍ لاره را واخله.

ماشوم ته مې وکتل، سترګې یې له حیرانۍ ډکې وې، ومې خندل:

_مخ دې سم ونیسه، سیرلی پیدا شو، بس، د چینې چپ لاس ته، دوه ، درې سوه ګامه لیرې په دوو تیږوکې بند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم په ببړه ودرېد. تر لمنې مې ونيو،ومې خندل:

_ کښېنه! زحمت مه باسه! تېرې مې ليرې کړې، بغدادي پير دومره کرامات لري چې سېرلی په خپلو پښو دلته راولي.

وخت ووت، چيغه مې کړه!

_ راشه نو، مه ناوخته کوه!

ماشوم ته مې وکتل، وېرې اخيستی و. ورته ومې ويل چې سترګې پټې که.

غړۍ مې اوږده کړه، قدم شاه په احتياط پورته را وخوت، سيرلی يې د غار په خوله کې پرېښود. خپله ببرته لاندې کښته شو. سيرلی ماشوم ته ورغی، د هغه پر غوږ يې خپلې تودې شونډې ولګولې. ماشوم په ببړه ور وکتل، چيغه يې کړه، يوې خوا ته ړنګ شو.

ورغلم، بېسده ماشوم مې له خاورو را پورته کړ، دستګاه ته مې خوله ور ټيټه کړه، له قدم شاه مې دڅينې سړې اوبه را وغوښتې. د ماشوم غاړې ته مې لاس ور ووړ، غاړه يې توده وه، نرۍ رګ پورته پورته غورځېده....

د قدم شاه غږ مې واورېد:

_ دومره کراماتو ته هم ضرورت نه و چې سيرلی په خپلو پښو راولې.

قدم شاه مې ببرته لاندې وليږه. دماشوم پر مخ مې سړې اوبه واچولې. سترګې يې رڼې کړې. د سيرلي په ليدو يې رنګ ببرته ځای ته راغی. ولاړ شو، سيرلی يې تر ښکر ونيو، تر يو څه ځايه زانګې وانګې ته، وروسته يې پښې پر ځمکه سمې لګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم شا راغی، ومې ویل:

_څه فکر کوې! کوچیان به راشي؟!

په خندا یې راته وویل چې دومره کرامات بې څه نه دي، راځي! راځي، ضرور راځي.

خبره یې سمه وه، ماسپښین مې مخ ته د چینې سړې اوبه ور اچولې چې په ونو کې مې درې کسان ولیدل. په بېړه پورته وختم، قدم شاه د چایو پیاله خولې ته نیولې وه. ورته ومې ویل چې کوچیان دي، ژر یې مه را پرېږده، دستګاه ته نږدې یې په خبرو راوله.

پیالې او غرمنۍ پاتې لوښې مې را واخیستل،د غار تیارې برخې ته لاړم. پاکې، سپینې جامې مې واغوستې. بېرته خپل ځای ته راغلم، چلتار مې پر سر کړ، دستګاه مې روښانه کړه.

له لاوډ سپیکره د کوچیانو له غوسې ډکې نارې راتلې. ویل یې چې تګان یاست، پر ماشوم مو څه کړي؟! زبون یې وهل شوی و....بیا مې د ماشوم نری غږ واورېد، قسمونه یې خوړل... ویل یې بابکه! په کوران که دورواغ درته وایم! سیرلی په خپلو پښو راغی.

خبره نوره هم جنجالي شوه، کوچیان پورته راختل، خو قدم شاه زاری ورته کولې... ویل یې چې لنډ وخت صبر وکړی، بغدادي پیر لمونځ کوي.

په بېړه مې د پوزیو جاینماز هوار کړ.

له لاوډسپیکره ډډ کوچیانی غږ را ووت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اې ټګانو، له کومه راغلي یاست؟!

قدم شاه په خواره خوله وویل:

_د خدای روی ومنئ! ما په هر نوم یاد کړئ، خو قربان یې شم! بغدادي پیر ته څه مه وایاست، لوګی به مو کړي.

له لاوډ سپیکره د شارټي غوندې غږ را وووت، د کوچیانو خندا وه.

قدم شاه وویل:

_که زما منئ، د چینې په دې پاکو اوبو اودسونه وکئ، خدای یاد کئ، تر هغو به پېر صاحب هم خپل عبادت خلاص کړي.

یو ډډ کوچیانی غږ راغی:

_حاجي ناټکه! دې ټګ خدایکه بده خبره کړې وي. راځئ! له دې ټګانو سره به وروسته جوړېږو.

تر ډېره مې یواځې د اوبو چړپا اورېده. بیا هغه هم غلې شوه، بنه سات ووت. وروسته د یوه کوچي غږ راغی:

_میرګلیه! لږ در وڅکېږه.

دوهم کوچي وویل:

_خپل څادر ولې نه هواروې!

_ساده کېږه مه! دا نوی څادر به څنګه سپېرو خاورو ته ورکوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډېره چوپه چوپتیا وه. بیا مې یو غږ واورېد:

_یاره حاجي ناټکه! لانت په شیطان! لمانځه ته یې پرې نه ښودم، په لسو رکاتونو کې مې خپله ناروغه اوښه سترګو ته ولاړه وه.

حاجي ناټک په خوابدي غږ وویل:

_ته د اوښې غم نیولای یې! خو زه خپلې شامتورې لورکۍ ته پکر وړی یم، غونډل چیچلې!

قدم شاه په خبره کې ور ولوېد:

_بغدادي پیر ته وواياست، د مارانو اوغونډلانو دم پرې وچ دی.

د میرګل له غوسې ډک غږ مې واورېد:

_حاجي ناټکه، درځه چې دا ټګ ووینو.

دیوزیو جاینماز مې سم کړ، قبلې ته ودرېدم. شېبه وروسته تیاره راباندې راغله. وپوهېدم چې درې تنه د سمڅې خولې ته را ورسېدل.

یودم مې ډډ خندی واورېد، یوه کوچیاني غږ وویل:

_پیر صېب خو له خپلې ک ... خبر نه دی، پرتوګ یې په چپه خوا اغوستی، نو ورک سېرلی به څنګه په خپلو پښو راولي!

زړه مې خولې ته راغی، رکوه ته ټیټ شوم. پایڅو ته مې وکتل، له نریو ، ببرو تارونو ډک درزونه نېغ ولاړ ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېبه وروسته مې سلام وګرځاوه، پرته له دې چې راغلو کسانو ته وګورم، په موسکاه مې وویل:

_ځوک به د خدای په عبادت کې دومره غرق وي چې خپلو جامو ته به یې پام نه وي، خو میرګل به بیا په لمانځه کې د خپلې ناروغې اوښې فکرونه وهي.

کوچیانو ته مې وکتل، سترګې یې رډې راختلې وې. بله خبره مې وکړه:

_پر چا باندې به بیا تر لمانځه، خپل نوی ځادر ګران وي.

ماشوم په خوند وویل:

_بابکه! زما خبره مو نه منله. وګوره! پیرګل ستاسو په نومونو پوهېږي. پټې ور مالومې دي.

ومې ویل:

_راځئ. نږدې راشئ.

درې واړه مخامخ غلي راته کېناستل.

ومې ویل:

_حاجي ناټکه! خوا مه بدوه، شامتوره لورکۍ به دې خدای جوړه کي.

دواړو یو بل ته وکتل، بېرته یې سرونه وځړېدل. یواځې ماشوم له ځلا ډکې نیغې سترګې راته نیولې وې.

ومې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_سیرلی دې څنګه دی؟

ماشوم په خوند وویل:

_ښه دی، د پخوا غوندې ټوپونه وهي.

سترګې مې پټې کړې، یودم موسک شوم، ماشوم ته مې وکتل، ومې ویل:

_خو ستا سیرلي یوه زنګوله هم لرله.

د ماشوم د سترګو ځلا لا پسې ډېره شوه:

_هو، هغه زنګوله مې بابک له بازاره راته راوړې وه، له سیرلي سره یې اجب خوند کاوه. خو اوس ورکه ده.

ومې ویل:

_ورکه؟!

یودم مې وخندل:

_بغدادي پیر ته د ورکې خبره مه کوه!

سترګې مې پټې کړې، څو ځله په یوه او بله خوا وزنګېدم، ورو مې  وویل:

_ړانده! ړانده، چېرې یې؟

غلی شوم، څېره مې داسې ونیوله لکه د کوم چا ځواب ته چې ماتله یم. یودم مې  خپل تندی ګونځې کړ، ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_وه ړندکيه! دا وخت نو د غزني د زيارتونو دی، هله! د تور سېرلي زنګوله د سترګو په رپ کې را ورسوه!

کوچيانو ته مې وکتل، د ټولو سترګې رډې راختلې وې.

ماشوم په وېرېدلي غږ وويل:

_له چا سره دې خبرې کولې؟

ومې خندل:

_ړوند پيری و، د زيارتونو ډېر شوقي دی، ويل يې چې په غزني کې يم.

ټولو يو بل ته وکتل. تار مې کش کړ، کړنګ شو، د غار په تياره برخه کې زنګوله را لوېدلې وه.

ومې خندل:

_اوس يې هم ناوخته کړ، خير، د ړندکي يوه سترګه کار نه کوي، په دې غره او دومره ډبرو کې د وړې زنګولې پيدا کول سخته خبره ده.

د غار تيارې برخې ته ورغلم. لومړی مې خپل پرتوګ سم کړ، بيا مې زنګوله راپورته کړه، بېرته راغلم، د کوچيانو په مخونو کې ټکی وينه نه وه پاتې.

زنګوله مې وګړنجوله، ماشوم په بيړه راته وکتل، سترګې يې وځلېدې، زنګوله يې زما له ګوتو وايسته. په خوند يې وويل:

_دا يې چېرې پيدا کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې خندل:

_په هماغو تيرو کې چې سېرلی بند و.

ميرګل يودم چيغه کړه. وغړمبېد، له خولې يې لاړې باد شوې، ځان يې له ځمکې وويشت. حاجي ناتېک يې پر پښو ور پرېووت، ما يې لاسونه کلک ونيول.

حاجي ناتېک وويل:

_پېريان لري، يو ځل يې د ملا په وعظ کې را پرې ايست، بيا په اتڼ کې مستي واخيست، رمباړې يې کړې.

ميرګل يوه شېبه پورته پورته غورځېده، بيا کرار پرېووت.

بېرته خپل ځای ته راغلم. ور ومې کتل، حاجي ناتېک په خپل نوي څادر د ميرګل له خولې را وتلي ځګونه پاکول.

وخت ووت، ميرګل کېناست، خو لا يې هم خړو خاورو ته وچې سترګې نيولې وې. يودم را وښويېد، زما پر پښو يې خپلې تودې شونډې کېښودې. د زړه له اخلاصه يې وژړل.

حاجي ناتېک تر مټ ونيو، خو ما اشاره ورته وکړه چې په خپل حال يې پرېږده. مېرګل ژړل...پښې مې د هغه په اوښکواو لاړو لندې شوې. وروسته يې په ژړا کې وويل:

_اه بغدادي پيره! قربان دې شم! خاوري ميرګل وبخښه.

ومې خندل، په ولېو کې مې څو ځله وټپاوه. ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بخښلی مې یې.

خو میرګل زما له پښو نه پورته کېده.

ومې ویل:

_پورته شه، ومې بخښلی.

میرګل لا هماغسې زماپر پښو خپل مخ ایښی و. وخت ووت، ژړا یې په سلګیو بدله شوه. بیا یې په غریو کې وویل:

_خدای دې مې ګونګی کړي، ستا مبارکه مې په بد نوم یاده کړه.

تر ولیو مې ونیو، په زور مې کېناوه. ومې ویل:

_ته نه یې ملامت، حالات خراب دي، اوس هر څوک د بزرګي داوا کوي.
حاجي ناټک ته مې وویل چې په غاړه کې پروت ول ول پټکی یې ور وتړي. دوی یوه شېبه ناست ول، بیا یې اجازه وغوښته، د غار تر خولې پورې یې مخونه، نه را نه اړول. پر شا تلل.

په میرګل پسې مې ناره ونیوله:

_اوښه به دې خدای جوړه کړي.

یوه شېبه کېناستم، بیا لاندې کښته شوم، قدم شاه خندل.

په رښواوبو کې مې پښې ننه ایستې، لاس مې پرې تېر کړ، د میرګل وچې شوې لاړې سرېښناکې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدم شاه له جذبې ډک غږ مې واورېد:

_اوس دې نو  بازار تود بوله.

ور ومې کتل، وړې سترګې یې ځلېدلې.

تر څنګ مې کېناست، ناڅاپه یې اوبو ته خپلې غبرګې پښې ور واچولې،  اوبه د چینې ژۍ ته  را وختې. په بېړه ودرېدم.

قدم شاه  وخندل:

_مبارکه خو دې  لنده نه شوه؟!

یودم یې په غږ کې بدلون راغی:

_خو وروستۍ خبره دې اټکلي وه. اوښه به څنګه جوړه شي؟!

ومې خندل:

_کله کله اټکلي خبره هم سمه راوځي.

سم مې ویل، بل سهار وخته یوه ډډ  غږ له خوبه را وېښ کړم. ور مېږ مې کوږ کړ، د قدم شاه تشه برستنه پرته وه. د باندې ووتم، میرګل او یو چاغ سپین پسه له چینې سره ولاړ ول. ورغلم، کوچی مې پر لاسونو  را پرېووت. بیا یې سر پورته کړ، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، په خوند یې وویل:

_یا بغدادي پیره! دوا ( دعا ) دې کار وکه، اوښې له څلورو ورځو وروسته ځوځ  وخوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدم شاه غږ مې واورېد:

_د بغدادي پير دعا بېرته نه راګرځي!

شاته مې وکتل، د قدم شاه غېږ له وچو لرګيو ډکه وه.

کوچي يودم چيغه کړه!

_خاورې ميرګله، خدای دي مرګ در کي، چې ته يې، پير صاييان به څنګه لرګي راوړي.

ورغی، له قدم شاه يې په زوره لرګي ور واخيستل، پورته وخوت، خو په بېړه يې مخې ته ودرېدم. پوهېدم چې دا کوچی زما توشکې ته نږدې له پرتې خلاصې کتابچې او انګرېزي يادښتونو څه نه شي بود کولای، خو په خپله د قلم او کتابچې ليدل، د بغدادي پير رنګ بدولای شوای.

قدم شاه ته مې اشاره وکړه، خو کوچي قسمونه خوړل، ويل يې چې لرګي به د غار خولې ته رسوي.

اخير مې مجبوره کړ، دواړه بېرته چينې ته را وګرځېدو. پسه ته مې وکتل، ډېر وخت مو داسې چاغ ورنونه نه وو خوړلې.

د ميرګل غږ مې واورېد:

_پسه چېرته ودروم؟

ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_لږ هاخوا يې حلال که.

ټيټې غونډۍ ته وختم، هوا ښکلې وه، نري باد د ونو پر پاڼو لاس تېراوه. کله کله به د يوه مرغه ناره راغله.

ببېرته لاندې کښته شوم، پسه له پوسته شوی و، پر ګېډې يې د وازګو نرۍ پرده پرته وه.

دوه ورنونه بس ول، خو ميرګل نه منله، ويل يې چې سلامت پسه يې نذر منلی و. په سخته مې قانع کړ، ور ياده مې کړه چې موږ دوه نفرو يو، ګرمې ده، نوره غوښه خرابېږي.

کوچي زړه نازړه پاتې غوښه په څادر کې وتړله. دتګ په وخت يې وويل چې سات وروسته به حاجي ناټک، د هغه لور او څو نور سپين ږيري راورسېږي.

پورته وختم، د غره د خزندو په اړه مو لا په پېښور کې فکر کړی و. د دواوو له کڅوړې مې يو بوتل را وايست. کوچينی جام مې له اوبو ډک کړ، درې سرپوښه دوا مې پکې واچوله.

د باندې ووتم، قدم شاه د پسه سلامت ورون اور ته نيولی و.

سات وروسته ډله کوچيان راغلل، يوه ځوان يوه وړه نجلۍ په شاه کړې وه، د نجلۍ له درده ډکو چيغو د دستګا کراماتو ته پرې نه ښودم.

ټول پورته را وختل. وار نه کېده، ښی لاس مې د مچولو له پاره تر ډېره پورته نيولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې نجلۍ ته وکتل، په ځپولې وېښتو کې یې وچ واښه بند ول. غټې تورې سترګې یې له اوښکو ډکې وې. کله کله به یې له درده چیغه کړه.

حاجي ناټک وویل:

_قربان دې شم، زامت مو نه درکاوه، خو شامتوره....

په خبره کې یې ور ولوېدم. په خندا مې وویل:

_غم مه کوه! خدای ته یې وسپاره، بغدادي پیر ته یې وسپاره.

حاجي ناټک د نجلۍ خیرن لستوڼی ور پورته کړ. د شامتورې مټ تک شین و. د نجلۍ پر تندي مې لاس کېښود، سره تبه یې وه. جام مې را واخیست. ومې ویل:

_میرګل خبر کړم چې شامتوره دلته راولئ، سخته وه، وخت لنډ و، خو بیا مې هم ړندکی پېری کوه قاف ته ولېږه. ایله یې لږ مخکې د شفا دا اوبه را ورسولې.

جام مې د نجلۍ وچو شونډو ته ور نږدې کړ، یو غوړپ اوبه یې تېرې کړې. کوچیانو ته مې وکتل، ټولو وچې سترګې راته نیولې وې.

نجلۍ مې پر پوزۍ پرې ایسته، دا دوا له برېتانیې راغلې وه، اصله وه، پوهېدم چې تاثیر کوي، خو وخت یې غوښت.

ټول غلي ول، یوائې نجلۍ له درده ډکې نارې وهلې....

حاجي ناټک را وښوییږ. مخې ته یې یوه غوټه راته کېښوده، په خواره خوله یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_قربان دې شم، پوهېږم چې ته د هېڅ شي کمی نه لرې، څه چې وغواړې، د سترګو په رپ کې درته را رسېږي. خو لږ ګوستاخي مې وکړه. خالي لاس راتګ ښه نه راته ښکارېده. جنغوزې مې درته راوړې.

حاجي ناتېک بېرته دوه ګامه شاته وښوييد.

يوه کوچي ته مې پام شو، پر خړو خاورو هوار پوزي ته يې کتل.

ومې ويل:

_حاجي ناتکه! کور دې ودان چې د خدای دوستانو ته په درنه سترګه ګورې. ته سم وايې! ماته هېڅ هم کم نه دي، دا تېر ماخستن لا کړپا له خوبه را ويښ کړم، ږندکی و، په سمڅه کې يې غالی هوارولە. ور هاخوا د سرو زرو په لوښو کې رنګارنګ تازه مېوې ايښې وې.

ږندکي راته وويل چې قربان دې شم، د دنيا ټول خوندونه دې په واک کې دي، خو ته وچې شونډې په خړو خاورو کې پروت يې، نه مې لورېږې! خير دی، دا غالی او لږه مېوه ومنه!

خو ما سپک کړ، ورته ومې ويل چې نه ، نه ، نه! زه خو دې نن نه يم پېژندلای، کلونه کلونه مې مريد يې. په دې نه پوهېږې چې بغدادي پير په دنيايي لهو لهب پسې نه ګرځي! هله! دا دنيايي مرداريانې دې در ټولې که!

غلی شوم. کوچيانو وچې سترګې راته نيولې وې.

سر مې ښو ځله وخوځاوه، ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هی هی! ځواني وه، نه پوهېدم، په بغداد کې مې د سرو زرو کور درلود. په حساب سل مزدوران راته ګرځېدل. باغ، ښلوېښت ښکلې مينځې، تر حده وتلې ځمکې، سره او سپين...د هيڅ شي کمی نه و ، ټوله ورځ به مې په ښکار او مزو تېروله، خو يوه شپه مې خپل نيکه شيخ نوراني اغا په خوب وليد. د سمندر د اوبو پر سر ولاړ و، تکه سپينه رڼا ترې بادېدله، دله سمندري ښاپيرۍ يې د حجاب په ټوابونو پوهولې. ورغلم، خو نيکه مخ رانه واړاوه. هماغه خواته يې ودرېدم، بيا يې هم راته ونه کتل. ورته ومې ويل چې زه يم، ستا لمسی. خو نيکه په خپلو مبارکو لاسونو پورې وهلم. تر لمنې مې ونيو، لاس مې اور واخيست.

ومې ژړل... نيکه په خشکه راته وويل چې د پيرانو رنګ دې بد کړ، د

دنيا لهو و لهب د خدای له عبادته ايستلی يې....

را ويښ شوم، لستونۍ مې سوځېدلې و. بس! په هماغه سهار مې خپل د سرو زرو کور، باغ، ځمکې... هر څه پر غريبانو ووېشل....
غلی شوم، کوچيان سونګېدل، پزې يې پورته کشولې....

ومې ويل:

د دنيا لهو و لهب مې پرېښودل. اوس دنيا ( ثروت ) د مردارو اوبو غوندې راته ايسي. پايڅې ترې ټولوم. که نه د قارون د ورکې شوې خزانې ځای هم را مالوم دی، خو نه ارزي! کوم خوند چې په عبادت کې دی، بل څه يې نه لري....

غلی شوم، کوچيانو اوښکې تويولې.

ښه شېبه ووته، د حاجي ناټک غريو نيولی غږ مې واورېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بازه! د بغدادي پیر مبارکې خبرې دې واورېدې؟! تاته وایي!

یو له عمره پوخ سړی وسونګېد. په ژړا کې یې وویل:

_توبه مې ده.

ومې ویل:

_باز څه کړي؟!

حاجي ناټک پر خپله پزه د څادر پیڅکه تېره کړه!

_پیرګله! قربان دې شم. باز جایي (کلیوال) دی، څو ورځې مخکې یې د تناره د جوړولو له پاره پخه خاوره وړه، د سرې غونډۍ خاوره کلکه ده، له کولنګ سره یوه ژېړه روپۍ را تنبېدلې وه. باز وایي چې د زرو ده. نن هماغه ځای ته بیا ور روان و. خو کولنګ مې په کېږدۍ کې ترې کېښود، ورته ومې ویل چې راځه! نوی پیر پیدا شوی، پټې ور مالومې دي.

حاجي ناټک غلی شو، باز ته یې وکتل، ویې ویل:

_هله! پیرګل ته هغه روپۍ ورښکاره که.

باز د خپلې زړې، خیرنې، شکېدلې سدرۍ په جېب کې ګوتې ننه ایستې، یوه ځلانده ژېړه سیکه یې راته ونیوله.

په زړه کې مې خوشالي منډه واخیسته، خو ځان مې کابو کړ، د سرو زرو سیکې ته مې په ځیر ځیر وکتل، یودم مې ټنډه تروه کړه، ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خپل لمونځونه مه خرابوی، ورته وګورئ! د مسو په دې روپۍ د لوخ لېړ سړی شکل کېندل شوی دی. بوت دی. ګناه لري.

سیکه مې د غار خولې ته ور وغورځوله. زړه مې ولړزېد، سیکه هماغسې په رغړېدو_ رغړېدو له غاره ووته.

سترګې مې پټې کړې، ومې ویل:

_بازه! ځان مه ستړی کوه! همدا ګړۍ په هغه ځای کې ولاړ یم چې تا دا روپۍ پیدا کړې وه، اه! کاشکې د بغدادي پیرکرامات در مالوم وای، تر ځمکې یو ګز لاندې خاورې هم وینم. له غټ، تور مار پرته هېڅ هم نه شته.

د باز غږ مې واورېد:

_قربان دې شم! خو دا لومړۍ ځل نه دی. یو ځل پخوا مې هم....

غلی شو، خبره یې بشپړه نه کړه.

ومې خندل:

_پوهېږم چې څه دې پیدا کړي ول، خو زه درته وایم که نه، ته یې په خپله وایې؟!

باز په خواره خوله وویل:

_د ډبرې کوچیني بوتان! یو نه و، دوه نه ول. سمه لویه سمڅه ترې ډکه وه. له ماتېدو وتلي ول، د سمڅې خوله مې بېرته پټه کړه.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پوهېدم چې څه وایې، خو د شیطان له ځالو لیرې ګرځئ! پوهېږې! په هماغه ځای کې یو وخت پېریانو ژوند کاوه. کاپړ ول، بتانو ته به یې سجدې لګولې.! کاپړ پېریان له زړونو ډېر سخت دي، ځان او اولادونه دې ترې ساته.

باز په وارخطایي وویل:

_توبه مې ده! خو هغه ژېړه روپۍ به څنګه شي. هغه خو مې هم له.

په خبره کې ور ولوېدم:

_غم مه کوه، ړندکي پیري ته به ووایم، روپۍ به بېرته په هماغه ځای کې کېږدي چې تا ترې را اخیستې وه.

د باز رنګ بېرته خپل ځای ته راغی.

ناڅاپه له لاوډ سپېکره د قدم شاه ټوخی را ووت. لینګې مې ولړزېدل. اه! نو دومره لویه غلطي. د دستګاه سویچ مې څنګه هېرېده!

یودم مې تندی تریو کړ، په زوره مې وویل:

_مه کوئ! دا ځای د ساعتیري نه دی، له کتابونو لیرې ګرځی!

لاس مې ور وغځاوه، د کتابونو د ټولولو پر وخت مې د دستګاه سویچ وواهه. کوچیانو ته مې وکتل، رډې سترګې یې راته نیولې وې...ومې خندل:

_ها! د کوچنیانو له شوخی مو دې خدای وساتي، نه کرارېږي.

کوچیانو یو بل ته وکتل. حاجي ناټک وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_قربان دې شم، دلته خو يواځې شامتوره پرته ده، هغه هم....

په خبره کې يې ورو لوېدم:

_مه پسې ګرځئ! پټې بلاوې دې خدای پټې لري.

د کوچيانو سترګې رډې راختلې وې.

ومې خندل:

_بغدادي پير خو يواځې په انسانانو کې مريدان نه لري، ګڼ پيرېان هم پرې را ټول دي، همدا اوس د لته دوه کوچيني پېريان له خپلې ناروغې انا سره راغلي. ښه ده چې نه يې وينئ!

خړو خاورو ته مې وکتل، ومې ويل:

_ادې! ما خو درته وېل چې د بغدادي پير دم بې تاثيره نه دی. اوس دې رنګ تازه راته ښکاري.

د سترګو له کونجه مې کوچيانو ته وکتل، وار خطا ول.

ومې ويل:

_همدلته يوه ناروغه زړه پيرۍ پرته ده.

ګرررر شو، له حاجي ناټکه پرته ټولو کوچيانو د سمڅې خولې ته منډه واخيسته.

ومې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_راځئ! راځئ! زړونه مو غټ ونیسئ! مه وېرېږئ! پېریان کار نه درباندې لري.

یو، یو بېرته راغلل، خو دا ځل لیرې کېناستل. ټولو هغو خړو خاورو ته کتل، چې خیالي پېرۍ ورباندې پرته وه.

د حاجي ناټک غږ مې واورېد:

_قربان دې شم. ګوستاخي کېږي! خو ټوخی د غټ سړي و.

ومې خندل:

_پېریان ډېر غږ لري، دا خو يې لا يو ماشوم وټوخېد، که غټ پیری ټوخېدلی وای، زړه دې له بېخه را ووت.

غلی شوم، ومې ویل:

_دا ناروغه، زړه پیری درته راوغږوم؟!

له حاجي ناټکه پرته ټولو چیغې کړې!

_نه! خدای ته وګوره! زړونه به مو وچوي.

د بني لاس خلاصې ګوتې مې تر خاورو یوه لوېشت پورته ونیولې. یوه شېبه غلی وم، بیا مې یودم وخندل:

_ادې! اوس بنه يې! تندی دې سوړ دی. تبه دې پرې شوې ده.

یوه شېبه غلی وم. بیا مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هو ادې! سم وايې! ورځئ! خو هېر دې نه شي، تاویذ ته به اوه سپینې جامې ور اغوندې.

د غار خولې ته مې وکتل، ناره مې کړه!

_وه ماشومانو، راشئ! انا مو تر لاس ونیسئ چې ونه لوېږي.

په لاره کې ناست کوچیان د غار دېوال ته ور وښویېدل.

شامتورې ته مې وکتل، دوا کار کړی و، سترګې یې پټې وې، سو که سوکه، منظمه ساه یې اخیسته.

د حاجي ناټک را پام شو، نجلۍ ته یې وکتل، خړې شونډې یې خندنۍ شوې. په خوند یې وویل:

_قربان دې شم! پوهېدم چې دم او دوا ( دعا) دې بې څه نه ده.

نورو کوچیانو ته مې وکتل، لا هم د غار له دېوال سره ناست ول.

ومې ویل:

_مه وېرېږئ! پېریان ووتل.

ټول تر شامتورې را وګرځېدل. یوه شېبه یې پرتې نجلۍ ته وکتل، بیا یودم زما پر لاسونو را پرېوتل، وار نه کېده، هر یوه هڅه کوله چې زما تر لاسونو خپلې شونډې را ورسوي.

د حاجي ناټک وارخطا غږ مې واورېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_شامتوره مو ژوبله کړه.

ور ومې کتل، زما پر لاسونو د یوه پراته بوډا لوڅه سپېره پښه د نجلۍ پر ټټر پرته وه. ټول مې شاته کړل. شامتورې ته مې وکتل، په رڼو سترګو کې یې وېره پرته وه. نجلۍ مې ورو را پورته کړه. ومې ویل:

_څنګه یې لورې!

نجلۍ په حیرانۍ راته کتل.

حاجي ناټک په خوند وویل:

_ښه ده، ورته وګورئ! دردونه یې غلي شوي دي، چیغې نه وهي.

کوچیان بیا زما د لاسونو د ښکلولو له پاره را مخکې شول، خو زما تریو تندي بېرته پر خپلو ځایونو کېنول.

نجلۍ په مړاوي غږ وویل:

_بابکه! وږې یم، کورتو ته مې زړه کېږي.

حاجي ناټک خپله لور په غېږ کې ونیوله. په خوند یې وویل:

_چې ته خدای را ښه کړې، د کورتو غم مه کوه، پیرګل ته کورت څه دي!

ماته یې وکتل، په سترګو کې یې خوشالي پرته وه. په خواره خوله یې وویل:

_قربان دې شم. شامتورې دا دوې ورځې خدایکه په هېڅ شي څکه کړې وي. اوس یې کورتو ته زړه شوی، ړندکي پیري ته به نه کې ور نارې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه! کورت! همدا ګړۍ مې یو کورت په زر روپۍ هم اخیست، خو دا سپېره غر او کورت! ډېر سره لیرې ول.

د شامتورۍ پر سر مې لاس تېر کړ، ومې ویل:

_لورې! ته ناروغه یې، کورت تاوان درته لري. اوس به غوښه درته را وغواړم، زما خدمتګار سلامت ورون پوخ کړی دی.

د نجلۍ تندي نرۍ ګونځې پیدا کړې:

_نه، غوښه مې بده ایسي.

حاجي ناټک په غوسه وویل:

_ګوستاخي مه کوه، همدې پیرګل له مرګه راوګرځولې... هله! ژر یې لاس ور مچو که.

ومې خندل:

_خیر دی! ماشومان دي. تر اوسه لا په مقدساتو نه پوهېږي.

کوچیانو ته مې وکتل، پوهېدم چې د ( مقدساتو ) له ټکي یې مانا نه ده اخیستې، خو یو یو لغات ښه و، پوه مالومېدم.

د اوبو پټک مې وغوښت، یوه کوچي له ملا را خلاص کړ، د جام پاتې اوبه مې پکې واچولې، حاجي ناټک ته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دا شفا بخشه اوبه اسانه نه دي پیدا شوې، له کوه قافه راغلې، نجلۍ ته یې درې وخته ورکوه، سهار، غرمه، بېګا.

د حاجي ناتېک سترګې له اوښکو ډکې شوې، دواړه لاسونه یې راوغځول، پتک یې څو ځله ښکل کړ، په ډېر احتیاط یې په څادر کې وتاړه.

یوه ځوان وویل:

_یا پیره! تر تا لوګی شم، مورکۍ مې څه نه ویني! را یې ولم؟!

نور کوچیان هم په خبرو راغلل، د یوه مېړو شیدې نه کولې، د بل پرله پسې لوڼې زېږېدلې، د بل اولاد نه کېده، د یوه پر رمه لېوه اموخته و.....بس! ټولو مرسته غوښته.

سر مې ورته وخوځاوه، ټول خوشاله د باندې ووتل.

د سمڅې په خوله کې ودرېدم، کوچیان تر چینې تېر ول، شامتوره په خپلو پښو تله....

څمکې ته مې وکتل، زړه مې خولې ته راغی، د زرو سیکه نه وه. قدم شاه مې را وغوښت، تیرې مو واړولې، سیکه پیدا نه شوه.

قدم شاه مې لاندې ولېږه، ښه شېبه وروسته بېرته راغی، په لاس کې نیولې ژیړې سیکې ته یې کتل.

ویې ویل:

_سوچه سره زر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيکه مې راواخيسته، بلې خواته يې د پخواني يونان په سبک جوړه شوې ودانۍ کېندل شوې وه.

ومې ويل:

_مجبور يو. باز به يو ځل بيا را غواړو!

قدم شاه په حيرانۍ راته کتل...

ومې ويل:

_باز ويل چې له بوتانو ډکه سمڅه يې موندلې ده. پوهېږې! پلار مې د لندن په ملي موزيم کې کار کاوه، هغه وخت ماشوم وم، کله کله به يې موزيم ته ورسره بيولم، د نايابه او تاريخي اثارو په اړه به يې اوږدې خبرې راته کولې...په مکتب او پوهنتون کې مې هم تر ټولو ډېرې نومرې په تاريخ کې وړې. دا ډول ځايونه بې څه نه دي.

قدم شاه وټوخل.

يودم مې وويل:

_وه احمقه! له لاوډ سپيکره ليرې کېنه، يوه ټوخې دې نړدې غرق کړی وم.

غرمه مو په دوو نفرو د پسه سلامت ورون وخوړ. ماسپښين د نږدې غره سر ته وختو. شاوخوا مې وکتل، په شنو ونو کې سره غونډۍ نه ښکارېده.

پر يوې ړنګې شوې وچې ونې کېناستو، قدم شا ته مې وکتل، ومې ويل:

_سبا ته به ډېر مېلمانه ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم شاه په حيرانئ راته کتل.

ومې خندل:

_کوچيان دي، د چا مور په سترګو سم نه ويني، د بل مېړې شيدې نه کوي، د يوه په رمه لېوه اموخته دی....

قدم شاه وويل:

_نو څه ځواب ورته لرې؟!

ومې ويل:

_اسانه ده، بس! د خپلو خبرو په پای کې به يو د ( خو ) ټکی ور اضافه کم.

سهار د کوچيانو سلامت کاروان راغی، چينې ته نږدې درې اوښې، څلور آسان، اته خرې او دوه کچرې ودرېدې، د لاوډ سپېکر کراماتو ته ضرورت نه و. پوهېدم چې نارينه وو به په کيږديو کې د بغدادي پير کرامات ياد کړي وي.

واړه، زاړه، ښځې او نارينه له قدم شاه سره پورته را وختل. تر نيم ساعت ډېر وخت يواځې زما د لاسونو په ښکلولو تېر شو.

ټول کېناستل، خرې، پېرې له چاودو ډکې څېرې يې درلودې، د هر يوه د جامو اصلي رنګونه ډېر وخت او ډېرو اوبو وړې ول. په څېرو کې يې وېره ښکارېدله.

د خپلو کراماتو په اړه مې اوږدې خبرې وکړې، ومې ويل چې په حبشه کې مې د مور زادې ړوند سترګې بېنا کړې، په بخارا کې مې يو ګونګی په خبرو را ووست. په کوه قاف کې مې په پښنو شل پيرى په پښنو ودراوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچیانو توبې ایستې....

اوږدې خبرې مې وکړې، یوائې له خپلو کراماتو غږېدم، خو د خبرو په پای کې مې د (خو) ټکی را وایست. ومې ویل چې زما دم او تاویذ په هغو کسانو تاثیر نه کوي چې بې ایمانه وي....

لومړۍ مې یوه زړه ښځه را وغوښته، ښځې په خواره خوله وویل چې سترګې یې سم کار نه کوي، هر څه تک تور ورته ښکاري.

د هغې پر سترګو مې ګوتې کېښودې. شونډې مې وخوځېدې، چوف مې کړل.

ښځې سترګې خلاصه کړې، د غار خولې ته یې وکتل، یودم یې په خوشالۍ وویل:

_سترګې مې سمې شوې، باور وکئ! د غار په خوله کې مې یو کربوړی ولید، منډه یې واخیسته.

په زړه کې را تېره شوه:

_هوښیاره یې، په دې خلکو کې به یوه بې ایمانه ښځه څنګه ژوند کوي!

ښځې یوه ماشوم ته لاس ورکړ، په شکرونو _شکرونو له غاره ووته.

بیا یې یو اویا- اتیا کلن مور زاده شل بوډا په څادر کې را ته راووړ. له دم نه وروسته یې ناره کړه، ویې ویل چې پښې یې ژوندۍ شوې.

بوډا د ولاړېدو هڅه وکړه، خو بېرته ولوېد، رنګ یې د بې ایمانۍ د ټاپې له وېرې تک سپین واوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې خندل:

_دومره ژر هم نه، بس، يو څو ځاښتونه درته ليکم، شپږ مياشتې وروسته به په خپلو پښو ګرځې.

خو پوهېدم چې تر شپږو مياشتو ډېر ژوند نه شي کولای. بوډا يې بېرته په څادر کې لاندې چينې ته يووړ.

د عادي ناروغيو علاج اسانه و. سردردي، تبې، جلدي ناروغيو... ته مې مختلفې دواوې درلودې...

شپېه وروسته يواځې هغه نارينه پاتې ول چې خپل مشکلات يې د نورو تر مخې نه شوای ويلی. ټول مې د باندې وايستل، بيا مې يو- يو را وغوښت. لومړي کوچي اولاد غوښت. اول مې په خبرو را ووست، بيا مې دم پرې چوف کړ، ورته ومې ويل چې په غېږ کې دي يو ګلالی ماشوم وينم، تورې غټې سترګې لري، له خندا شين دی....

د کوچي رنګ تازه شو، خو دوهمې خبرې مې د هغه په خړو شونډو غزېدلې موسکا بېرته سره ور ټوله کړه. ( خو ) مې پکې را وايسته، ومې ويل:

_خو يو شرط لري، په رڼا ورځ به په کېږدۍ کې له خپلې ښځې سره پرېوځې.

کوچی ولاړ شو، ټنده يې تروه وه، پوهېدم چې له ذهني کشمکش سره مخامخ دی، له يواځينۍ يوې کېږدۍ څخه د پلار، مور، ورونو، خويندو، ورېرو... ايستل او بيا په رڼا ورځ له خپلې ښځې سره پرېوتل ؟! بنده يې بوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د اتو لونو پلار راته کېناست. یودم یې وژړل، بس! له بغدادي پېره یې یو زوی غوښت. لنډه مې ور یاده کړه چې یو نه، غبرګ زامن یې په نصیب کې دي، خو دوه کاله وروسته.

چا سپینوله؟! ما په دې غره کې دومره ډېر وخت نه تېراوه.

کوچي شکرونه ایستل....

بل کوچي ته وار ورغی، په رمه یې لېوه اوخته و. لنډ مې وپوهاوه چې ړندکی پیری به لېوه پوه کړي، خو دی دې هم یو غټ، خډر سپی وساتي.

بل کوچي ته خوب نه ورته، له چوف وروسته مې ورته وویل چې پوره درې شواروزه به خپلې سترګې له ترلو پرته پټې نیسي.

بیا یو هډور خیرن ځوان راته کېناست، تر ډېره یې خبرې نه کولې، یواځې ځمکې ته یې کتل. مجبور مې کړ، نوم یې عطا ګل و، په شرمېدلي غږ یې راته وویل چې پر یوې جایي ( کلیوالي) نجلۍ مین دی.

په خندا مې ورته وویل چې یاري په پټه نه کېږي! د بغدادي پیر کرامات به هله در ورسېږي چې نجلۍ ته سپینه خبره وکړې، بس! نجلۍ به له تا پرته بل نارینه ورور وګڼي.

نور کسان راغلل، هر یوه ته به مې سل په سلو کې ډاډ ور کاوه، خو یو داسې شرط به مې هم ورسره تاړه چې پوره کول یې له وسه وتلي خبره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دې کې مې ځينې ساده شرطونه هم ياد کړل. د کلي له ګودره د اوبو ځښل، په کليوال ملا پسې درې ورځې پنځه وخته لمونځ، د کلي د خان يا ملک له کوره د تود پاستي راوړل....

په هر شرط کې مې ځکه کلی ياداوه چې دا کوچيان به کليو ته تلل او هلته به يې ضرور د بغدادي پير کرامات يادول.

دمونه او کرامات تر مازديګره تاوده ول. کله چې کوچيان لاړل، نو د چينې تر څنګ د شکراني درې سېرلي، اته تکي توري چرګې، په دسمال کې تړلې هګۍ او يو پسه پاتې شول.

بس! قدم شاه ته خدای ورکړه، بېګاه ته يې دوې چاغې چرګې اور ته ونيولې، سهار يې په يواځې ځان پنځه هګۍ وخوړې.

اته بجې د باندې ووتم، د پسه يواځې يوه پښه پرته وه. سيرلي نه ښکارېدل.

قدم شاه ته مې ور غبږ کړ، دواړه په بېړه لاندې کښته شوو، د وينو تر څنګ مو د لېوانو پلونه وليدل. شاوخوا مې وکتل، هېڅوک نه و.

لومړی مو ورون ليرې يووړ، بيا په ورکو سيرليو پسې وګرځېدو، يو سېرلی مو له ټيټې ونې را کوز کړ، د پاتې دوو درک نه مالومېده.

درې ورځې تېرې شوې، نه مو ځايي ( کليوال ) وليد او نه هم کوچی. په درېيمه ورځ يو له عمره پوخ کوچی له ګوډ اوښ سره راغی، له تاويذ او د اوښ د پښې له تړلو وروسته مې ورته وويل چې په درېيو ورځو کې مې يو کوچی هم ونه ليد.

_کوچي لنډه را ياده کړه چې د عطاګل په پاتيا ( فاتحې ) ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:

_ولې، هغه خو روغ جوړ تکړه ځوان و؟!

کوچي سوړ اسويلی وايست:

_نه پوهېږم! عطا ګل شرمناک او په سد سړی و، خو خلک وايي چې په ګودر کې يې يوې ځايي نجلۍ ته وار له واره د مينې خبره کړې وه، بس! نجلۍ کور ته منډه اخيستې وه، ورونه يې خبر کړي ول. عطا ګل يې په بېلچو مړ کړ.

د کوچي له تګ وروسته قدم شاه پر اوږه لاس را کېښود، په ملنډو يې وويل:

_دې ته وايي د بغدادي پير کرامات!

سوزان د تليفون پر زنګ جټکه وخوړه، کېناسته، مور يې په وچه کې ولاړه وه. له ليرې يې لاسونه ورته خوځول. سوزان پاروګان ووهل، شېبه وروسته ساحل ته ورسېده. د پلار خوشاله غږ يې واورېد:

_د نيکه يادښتونو ډېره مصروفه کړې يې، ويې ولوله، خوند ترې واخله ، باوري يم، پر غور نيکه به دې افتخار وکړې، افتخار.

ټوله کورنۍ پر هوار شوي فرش کېناسته. کباب خوندور و. پاتې ورځ په چکر تېره شوه. مازديګر يې سره راټوله خيمه، کيشتۍ، فرش... د موټر پر سر وتړل، شپه يې د يوه شنه غره په لمنه کې يوه لوی مېلمستون ته وروړه.

مېلمستون له توريستانو ډک وو، چا سندرې ويلې، چا نڅا کوله، ځينو ژېړو قوي ګروپانو ته واليبال کاوه....

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان کانتين ته ودرېده، برګر، انرژي او يو بوتل اوبه يې واخيستل، ليرې لاړه، په ګوښه ځای کې پر اوږده څوکۍ کښناسته، کتابچه يې را واخيسته، په پوره ولاړ ګروپ کې دومره زور و چې د خپل غور نيکه خط په اسانۍ ولولي.

ډېوېډ جونز څو مياشتې وروسته تاريخ ليکلی و:

_خبره د ملک ځوندي د مېلمنو تر کوټې را ورسېده. په ټول کلي کې تر دې بله ښکلې او سوتره کوټه نه شته. دا اوږده کوټه د چهار تراشو له لرګي جوړې وړې کړکۍ لري، پر توشکو پاسته ليمڅي پراته دي. غولی ليکي ليکي ګېلمانو نيولی دی...خو دې کوټې ته راتګ خپله کيسه لري.

غره ته د کوچيانو نور قومونه هم را مات شول، بس! خوله به مې له ډېرو چوف کولو ستړې شوه، خو تر دې دمه مې لا د امان الله خان پر پاچاهي کار نه درلود. ماته په ځايي خلکو کې د مريدانو پيدا کول هم مهم ول.

کله کله به يو کليوال هم راغی، له دوی سره مې ډېره خواري ايسته، د کراماتو وار نه کېده، خو دا عادي کليوال وو، خبرو يې پر نورو دومره تاثير نه درلود. فکر مې وکړ، که مې د خان، ملک او قومي مشر باور خپل کړی وای، نو اولس خپله را نږدې کېده.

ځينې کليوال مې راوغږول، څلورو کسانو پر پراخه سيمه باداري چلوله. خو دا مغروره او بانفوذه کسان بايد تر بغدادي پيره په خپلو پښو راغلي وای.

لومړی مې د حاجي پاينده خان په باره کې ځينې کسان وغږول، پاينده خان زړور سړی و، دوه ويشت لوی او واړه کلي يې تر امر لاندې ول. له ځنغوزيو ډک غرونه يې درلودل....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلیوالو په خبرو کې مې د دې سړي کمزوری ټکی ونه موند، خو اخیر د یوه لېونحاله کلیوال له خولې روغه خبره را ووته. اویا کلن پاینده خان یواځې یوه میاشت مخکې ځلورمه ښځه کړې وه، خو اوس په مهمانخانه کې وېدېده.

اویا کلن بوډا، ځلور ښځې!

کورته به نو ولې ورته!

له کلیواله مې وپوښتل:

_دا سړی خط لوستی شي؟!

ویې ویل:

_نه پوهېږم، خو یو ځل یې په یوه ختم کې سیپاره مخ ته نیولې وه.

کوچینی کاغذ مې را واخیست، یواځې یوه جمله مې ولیکله:

_یو ځل بغدادي پیر ته راشه، پاتې عمر د کور په کوټو کې تېر که.

کلیوال ته مې دوې خبرې وکړې:

لومړۍ ! دا کاغذ به سیده تر حاجي پاینده خانه ور رسوې.

دوهم! کومې خبرې چې دې د پاینده خان په اړه ماته وکړې، پاینده خان به بوی هم نه ترې وړي، که نه ړنده کی پیری در لېږم، له اولادونو سره به دې شنه لمبه کړي.

د غار تیارې برخې ته لاړم، د جنسي قوې د ډېرېدو دوې غټې ګولۍ مې وټکولې. سپین پوډر ترې جوړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوهمه ورځ له چینې سره درې آسونه ودرېدل. دوه ټوپکوال لاندې پر تیرو کېناستل، دریېم، پورته را وخوت.

د ډنګر بوډا خرېیلې ږیره رسېدلې وه، تک سپین، خیرن، ډبل برېتونه یې پر شونډو پراته ول. یوه لویشت کم سورې ټټر یې د توپانچې د مرمیو په پلن کاش کې پټ و.

ومې خندل:

_حاجي پاینده خانه! ایله په ایله چې د غریبانو پوښتنې ته راغلې.

سړي په حیرانۍ وویل:

_له کومه پوه شوې چې زه حاجي پاینده خان یم؟!

راغی، زما پرلاسونو یې شونډې کېښودې!

ومې خندل:

_د چا چې پېریان تابع وي، په دې هم پوهیږي چې د څلورو ښځو خاوند ولې په مهمانخانه کې شپې تیروي!

د بوډا خړ غومبرې سره شول.

تر لاس مې ونیو، تر څنګ مې کېناوه. خو لا یې هم ځمکې ته کتل.

ومې ویل:

_د کور والو دې ډېر درته وویل چې اویا کلن سړی یې، له څلورمې ښځې تېر شه، خو تا نه منله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یودم یې راته وکتل، خوله یې جینګه کړه!

_اې په خدای! تاته خو په رښتیاهم پتې مالومې دي.

په زړه کې را تېره شوه:

_اې ساده ګله! پتې نه دي، حتما به یو چا درته ویلي وي چې ورورە، پلاره، یا نیکه! اویا کلن سړی یې، په ځان کې دې یو پاو غوړ نه دي پاتې، ځلورمه ښځه څه کوې!

یودم مې وخندل:

_خو زړه دې ځوان دی!

ویې خندل، په خوله کې یې یواځې دوه، درې، چینجن غاښونه پاتې ول. بېرته یې کڅوړنې سترګې له اوښکو ډکې شوې، سر یې وځړېد.

ومې ویل:

_غم مه کوه! بغدادي پیر به دې د کور کوټو ته بوځي.

نبغ یې راته وکتل، په سترګو کې یې ځلا پرته وه.

له جېبه مې یو کوچنی کاغذي پاکټ را وایست. ومې ویل:

_په دې کې د کوه قاف د سپینو ګلانو شیره را ټوله شوې ده. یو نصوار نن شپه وخوره، بل هم بلې شپې ته وساته!

بوډا په شرمیدلي غږ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_کار به ورکي؟!

ومې خندل:

_بغداي پير خامه خبره نه کوي!

بوډا په خوشالی د باندې ووت. ما یې تر دربیو ورځو د بیا راتګ تمه نه درلوده، خو بوډا په دوهمه ورځ بېرته راغی، دا ځل یواځې و، ږیره یې پاکه خریيلې وه، ډبلو برېتونو ته یې تک تور رنګ ور کړی و. وار له واره مې پر لاسونو را پرېووت، په سخته مې خپل لاسونه ترې ټول کړل. بوډا یوه خبره کوله:

_یا پیره! د خدای روی ومنه، په مریدی مې ونیسه....

ما به نو څه پکې ویل؟! مرید مې کړ.

سترګې یې وځلېدې، بیا یې زما ښی لاس د مچولو له پاره ور کش کړ. مخامخ راته کېناست، په شرمېدلي غږ یې وویل:

_سپینې شیرې کار وکه.

ومې خندل.

د بوډا سر وځړېد، په غږ کې یې له شرم سره لړزه پرته وه:

_یا پیرګله! له تا به څه پټوم، سپینه مامد دینه به درته وکم، په یوه شپه له خپلې نوې کډې سره دوه وارې پرېوتم.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_له ما څه پټولای نه شې.

غلی شوم، یودم یې راته وکتل، د خواست په ژبه یې وویل:

_خیر دی! قربان دې شم، د سپینو ګلانو یو څه نوره شیره به نه کې راته پیدا؟!

ومې ویل:

_اوس څه نه شم درته ویلای!

د تندي ګونځې یې لا پسې ژورې شوې:

_مه مې نا امېده کوه! تاته څه سخته ده؟!

ومې ویل:

_خطر لري!

یودم په احساساتو راغی!

_څه خطر؟! لس، شل، دېرش! هر څومره ځوانان چې غواړې له ټوپکو سره یې درته راولم. یا ماته د کوه کاپ ( قاف ) لاره را وښیه!

ومې خندل:

_د ټوپکو خبره نه ده. پوهېږې! د دې ګلانو پر سیمه کاپر پیریان پاچاهي کوي. وړه خبره نه ده، کاپر پیریان!!! خدایکه مو وینه ځمکې ته هم پرېږدي.

بوډا چورت یووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ويل:

_بله خبره! له زرو سپينو ګلانو ايله يوه چونډۍ شيره را ټولېدای شي.

بوډا په خواره خوله وويل:

_مه مې نا امېده کوه!

ومې ويل:

_خاطر دې ډېر راباندې ګران دی، ږندکي ته به ووايم، کېدای شي چې په کوم چل يوه، دوه چونډۍ سپينه شيره درته راوړي، خو پنځلس ورځې وخت غواړي.

بوډا يودم وخندل:

_قبوله مې ده، قبوله مې ده.

غلی شو، ويې ويل:

_خو خير دی، تر پنځلس ورځې به يې ډېر نه ځنډوې.

اجازه يې وغوښته، د غار تر خولې پورې د شا په خوا ته. ودرېد، ويې ويل:

_قربان دې شم! هر څه چې غواړې راته ويې وايه! تر بېګا پورې به يې درته را ورسوم!

ومې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بغدادي پير انسانانو ته ضرورت نه لري. څلوېښت زره پېريان يې تابع دي، څه چې غواړي، په خپله ورته راځي.

سړی تابع شو، په يوه چونډۍ سپينې شيرې يې مړي هم راته کول.

وار کريم داد ته را ورسېد، دې هڅور ځوان په يوه بسته قوم واک درلود، خبره يې، خبره وه، په خپل قوم کې هېڅا هم دومره زړه نه درلود چې خان ته نبغ وګوري، خو دې پياوړي خان هم کمزوری ټکی درلود. کال مخکې يې له يوه کوچي سره خوړلي و، کوچي د قوم لوی خان پوري وهلی و، يوه خان به د يوه سپېره کوچي دومره لويه سپکه څنګه تېروله! په هماغه سات يې د خپلې توپانچې ډز پرې کړی و.

جرګې کېناستلې وې، خو د مړه کوچي ورور په بدي کې له کريم داده اووه ښځې غوښتې.

ساه زورور او کمزوری نه غواړي، پر هر چا ګرانه ده، د لوی خان ژوند تريخ و، آزاد نه شوای ګرځېدای، نه و ملامت، پوله، ونه، تېره...له هر ځايه د ټوپک خوله ور اوښتی شوای.

فکر مې وکړ، له دومره کراماتو وروسته به مې بيا هم په کوچيانو کې خبره نه چلېده؟! زړه مې نه منله.

حاجي ناټک مې را وغوښت، د بدي د سړېدو خبره مې ورته وکړه، خو د حاجي ناټک په خبرو کې نا امېدي ګډه وه، ويې ويل چې د وژل شوي کوچي ورور لېونی غلام دستګير نومېږي، لېونی قسم کړی چې خپل غچ به اخلي. يو سهار د کريم داد د کلا تر مخ په اخور کې ورته پټ و. خان له جوماته خپل کور ته تلو چې کوچي د ټوپک ډز پرې کړی و، خو د خدای ساتنه ښيله خبره ده، ګولۍ ونه خوړ. کريم داد

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په منډه کې د يو ډزې توپانچې وارخطا وار پرې کړی و، خو توپانچه د کلا په لويه دروازه کې ترې پاتې وه...غلام دستګير اوس هماغه توپانچه تړي....

حاجي ناټک ته مې وويل چې غلام دستګير له ما او زما له کراماتو خبر که، ورته ووايه چې که سوله ونه کړي، نو بغدادي پير خفه کېږي، خو حاجي ناټک رايادة کړه چې لېونی غلام دستګير خدای نه مني، نو پير به څنګه ومني، ده تر اوسه اووه مړي کړي، په دې اوو مړو کې دوه پيران ول.

لينګي مې ولړزېدل. د شپې تر ناوخته مې د حاجي ناټک خبرې په ذهن کې سره اړولې، خو د کار ټکی ترې ونه ووت.

سهار مې قدم شاه ته د حاجي ناټک خبرې وکړې، له فکر پرته يې راته وويل چې اې ساده، له خانه د وسلې وړل، داسې ده لکه ښځه چې يې ترې بېولې وې، که غواړې چې کريم داد په خپلو پښو درته راشي، توپانچه يې پيدا که.

حاجي ناټک مې را وغوښت، د توپانچې خبره مې نه شوای ورته کولای، خو دومره مې ورته وويل چې لېونی غلام دستګير راته پيدا که.

حاجي ناټک رايادة کړه چې ليرې ترې ګرځه، څه يې کوې، لېونی غلام دستګير له پيرانو ښه زړه نه لري، په کوچينوالي کې يې مور د دم ، دوا (دعا) له پاره د پير په نوم کوم ټګ ته ورغلې وه، ټګ د ښځې ټټر ته لاس ور وړی و. ښځې ناره کړې وه، هغه وخت لېونی غلام دستګير ايله د څوارلسو کالو و، تر څو چې کلی خبرېده، د پير غاړه يې پرې کړې وه. د لېوني غلام دستګير له هماغې ورځې له پيرانو سره لوېدلې ده، خوند نه ورکوي. هسې به دې خوابدی کړي....

خو ما ټينګار کاوه، د دې لېوني ليدل ضرور و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي ناټک راته وویل چې سمه ده، خو لېونی غلام دستګیر په پاړه چنار کې اوسي، دلته کله کله راځي، زما خبره پر ځمکه نه اچوي، که دلته د کوچیانو په هر ټبر کې و، پیدا به یې کم او تر دې ځایه به یې خپله درته راولم.

دوې ورځې ووتې، د حاجي ناټک او لېوني غلام دستګیر درک مالوم نه شو، بل سهار مې چینې ته نږدې یوه وچه ونه وهله چې دوه سپاره راته ودرېدل.

د قدم شاه ټیټ غږ مې واورېد:

_بچو! اوس به څه کوې؟! د کراماتو له ځایه هم لیرې یې.

غلی شو، ویې ویل:

_ماته کوچیان ښکاري، په دوی کې خو به کوم یو لېونی غلام دستګیر نه وي؟!

مازې شوندې مې وخوځېدې:

_نه! لېونی له حاجي ناټک سره راځي.

راغلو کسانو خپل آسونه پر ونو پورې وتړل. دواړو له رنګه تورې لمر سوځولې ږېرې درلودې، یوه ټوپک او توپانچه، دواړه تړلي وو، له بل سره یواځې توپانچه وه.
.

مخکې راغلل، ټوپک تړلي، سور سترګي له ونې لوړ، هدور سړي په ډډ غږ وویل:

_کوم یو پیر ګل یاست؟!

یو ګام ور مخته شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سور سترګې وويل:

_ښه نو، دا ټګ ته يې چې خلک دې له غريبۍ ايستلي دي؟

په زړه کې مې خوشالۍ منډه واخيسته، دې سړي پير ته عقيده نه درلوده، نو له لېوني غلام دستګيره پرته بل څوک نه و. لږ تر لږه د ده د نوم په اخيستلو خو مې يو څه کرامات ښکاره کولای شوای.

سور سترګي ته مې وکتل، ومې خندل:

_غلام دستګيره! ډېر په غوسه يې!

سور سترګی له خندا شين شو، خو د ده تر څنګ له بدنه د کمزوری سړی ټنډه تروه وه.

سور سترګي په خندا کې وويل:

_څه دې وويل! غلام دستګير!!!

بېرته يې خپلو تشو ته لاسونه ونيول، دا ځل يې خندا تېرې نارې ته ورته وه. ښه شېبه يې وخندل، بيا يې هماغسې په خندا کې وويل:

_د دې خو پېريان هم تابع دي.

بيا يې خندا ته خوله وازه کړه، خو دا ځل يې خندا لنډه وه.

_ښه نو، زما نوم خو دې واخيست، نو دا زما ملګری څه نومېږي.

غلی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي مخامخ وکتل، ویې ویل:

_هاغه ونه راته راوله!

بله خبره یې وکړه!

_وو ایه! نن سهار مې څه وخوړل، هه؟! څو اوښې لرم؟! پلار، تره، نیکه مې څه نومېږي؟ !! ماته وګوره! د یوه نوم راته واخله.

غلی وم.

سړي زما تر اوږدې ږیرې خپلې ګوتې لاندې کړې، د زنې پر لاندینۍ برخې مې یې زور راووست. په غوسه یې وویل:

_څه عورته ( ښځه ) خو نه یې! ماته وګوره!

د قدم شاه وېرېدلی غږ مې واورېد:

_پیر صېب مه په عذابوه! که نه نو ښه ورځ به ونه وینې!

سور سترګی ور وګرځېد، قدم شاه منډه واخیسته، څو ګامه لیري ودرېد.

سور سترګې په ملنډو وویل:

_ښه ورځ؟!

مخامخ راته ودرېد، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_زه هسې هم ښه ورخ نه لرم، تر اوسه مې څلور مړي کړي، د خپلې کډې (ښځې) او کوچنیانو رنګونه رانه هېر دي. نن دا غر، سبا ها غر، یوه شېبه هم خپل ژوند ته تمه نه لرم.

غلی شو، په ملنډو یې وویل:

_خو ته اوس ړندکی پیری را وغواړه، خیر دی! یا چوف راباندې وکه، اور را واچوه.

غلی شو، مخ یې را نږدې کړ، په ساه کې یې د نصوارو بوی ګډ و.

ورو یې وویل:

_پوهېږې! زه تورباز خان یم، غلام دستګیر مې تر څنګ ولاړ دی.

لینګي مې ولړزېدل، پر نیمه وهل شوې ونې پورې مې لاس ونیو. لېوني غلام دستګیر ته مې وکتل، معصومې وړې، تکې تورې سترګې یې درلودې، داسې نه ښکارېده چې تر دې دمه دې د کومې چرګې غاړه هم پرې کړې وي.

په لومړي ځل مې د لېوني غلام دستګیر غږ واورېد:

_له ما سره دې څه کار و؟

اه! تر اوسه له داسې ورو او ارام غږه نه وم وېرېدلی.

غلی وم.

غلام دستګیر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پاړه چنار ته تلم، خو حاجي ناټک مې نه شو خپه کولای، لاره مې کږه کړه، د شپو او ورځو مزل راته پاتې دی، خبره لنډوه.

ومې ویل:

_یواځې درسره غږېدای شم؟!

د سور سترګي غوسه ناک غږ مې واورېد:

_ملنډې مه وهه! زما او د غلام دستګیر تر مینځ هېڅ هم پټ نه دي، خبره وکه!

خو غلام دستګیر ګامونه واخیستل، ورپسې ورغلم، د یوې څېړۍ سیورې ته ودرېد. پوهېدم چې د سولې خبرو ګټه نه کوله! سل زړونه مې سره وتړل، ومې ویل:

_ستا توپانچه غواړم!

د سړي په تور مخ کې شینوالی راغی، مخکې تر دې چې څه ووایي، ما وار ړومبی کړ:

_ستا تړلې توپانچه یو ډز کوي، خو ته بدي دار یې! پوهېږم! هوښیار سړی یې! په داسې توپانچه کې به څه ونه وایې چې اووه ګولۍ خوري، بس! یواځې ماشې ته ګوته ور وړه. که دې دښمن اووه ساوې درلودې، نو هغه بېله خبره ده، که نه، په روغو پښو نه شي درنه تلای.

کوچي وچې سترګې راته نیولې وې.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_یو دوربین هم درکوم، له دې ځایه یې د هاغه غره پر سر کوښې ولاړې ونې ته ور واچوه، پاڼې به یې وشمېرې. پیسو ته هم تیار یم، بس! غږ کوه!

کوچي وویل:

_دا توپانچه ولې دومره درباندې ګرانه ده؟!

ومې ویل:

په بیه کې یې زه څه نه وایم، علت یې ته مه غواړه!

یوه شېبه غلی و، بیا یې سر پورته کړ:

_ته څوک یې؟!

ومې ویل:

_پیري مې ته نه منې، نو اوس داسې فکر وکه چې له یوه عادي سړي سره سودا کوې.

ویې ویل:

_دا سودا مې خوښه شوه.

دواړه مخکې لاړو، لېونی غلام دستګیر له چینې سره راته ودرېد، ګریس بنده انګرېزي توپانچه، دوربین او څه پیسې مې ورته راوړې.

شېبه وروسته مې په دوو کوچیانو پسې تر هغو کتل چې په ګڼو ونو کې ننوتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته پورته وختم، توپانچه مې په څو ټوټو کې وپېچله. بله ورځ مې د کريم داد يوه کليوال ته وويل چې دا امانت به همدا نن  تر خانه ور رسوې.

له ځان سره مې حساب وکړ، د کريم داد  کلي يوه ورځ د آس مزل غوښت، نو دا کليوال به نن شپه ناوخته، کلي ته رسيږي، خان به سبا  ورځ د راتګ تيارى نيسي، که بل سهار لمانځه مهال حرکت را وکړي، نو مازديګر يې دلته بوله.

د شپې مې تبه شوه، تر ډېره خوب نه راته، يو وخت مې اوږې وخوځېدې، قدم شاه و، ويل يې چې کريم داد له چينې سره ولاړ دى.

 د غار خولې ته مې وکتل، د لمر ژېړه رڼا پر تيږو پرته وه.

قدم شاه وويل:

ماسپښين دي!

حيران شوم، د کريم داد دومره ژر او ناڅاپي راتګ ته مې تيارى نه درلود.

بدنۍ مې را واخيسته، مخ ته مې څو لپې اوبه ور واچولې. د غار خولې ته ورغلم، يو له عمره پوخ ځوان پورته را خوت، له چينې سره څو وسلوال کليوال ولاړ ول.

بېرته پر خپل ځاى کېناستم.

کريم داد راغى، زما پر ښي لاس يې مازې شونډې ولګولې. مخامخ راته کېناست.

د هغه پړسېدلو سترګو يوه خبره کوله، تېوله شپه يې مزل را کړى و.

کريم داد وار له واره توپانچه راته کېښوده، ورو يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پير صېب! خپه نه شې، دا توپانچه دې له کومه کړه؟!

کله مې په دومره اسانی ځواب ورکاوه. ومې ویل:

_مه پسې ګرځه!

د سړي په تنده کې ګونځې پیدا شوې، په نا ارامه غږ یې وویل:

_ته پوهیږې! دا توپانچه.

په خبره کې ور ولوېدم:

_ولې نه پوهیږم! دا توپانچه ستا ده، ته بدي دار یې، دښمن لرې، خوب یې در باندې حرام کړی دی، له ونې، بوټي، ډبرې... هر څه وېرېږي....

غلی شوم، داسې مې وښوده چې (د ته پوهیږې) خبرې خوند نه دی راکړی.

کریم داد وخندل، خو پوه شوم چې دا خندا یې مصنوعي ده، په پوست غږ یې وویل:

_قربان دې شم، ته په هر څه خبر یې! خو خیر دی، دې بې خبره بنیادم ته ووایه چې دا توپانچه دې له څه وه؟!

ومې ویل:

_که درته ووایم چا راته راوړه، نه یې منې؟!

یودم را مخته شو، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_قربان دې شم، مور له پلاره، نیکه د تونسې د پیرانو مریدان یو. کافر مه رانه جوړوه، چې ستا خبره مې زړه ته ونه لوېږي، نو د چا خبره به منم!

ومې ویل:

_ږندکي پیري راته راوړه.

_ولې؟!

_ویل یې چې یوه ورځ د یوه کلي پر سر تېرېدم، یو خان مې ولید، د عزت او ابرو سړی و، خو د یوه خیرن کوچي له وېرې د باندې نه شوای را وتی. ان جومات ته هم نه ته. دې خان ته په کلي او اولس کې یو لوی پېغور ور پاتې و، توپانچه یې کوچي ورنه وړې وه.

د سترګو له کونجه مې کریم داد ته وکتل، سر یې وځړېد.

ومې ویل:

_دا دوې ورځې مخکې بیا ږندکی راغی، دا توپانچه ورسره وه، ویل یې چې لېونی غلام دستګیر ویده و، توپانچه مې ترې را واخیسته، اوس غواړم چې دا توپانچه بېرته کریم داد ته ور وړم، خو ما منع کړ، ورته ومې ویل چې دا خلک له جنیاتو سره نه دي بلد، که دې کریم داد دا اوږدې داړې او پر اوږدو وېښتو پټ ځان ووینې، نو داسې یې بوله لکه لېونی غلام دستګیر چې ورته ولاړ وي، زړه به یې ټک وچوي.  توپانچه به زه د کوم بنیادم په لاس ور ولېږم....

کریم داد تر ډېره غلی و، بیا یې راته وکتل، په جینګه خوله یې وویل:

_یو کار به نه راته وکې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې ویل:

_اول یې راته ووایه!

سر یې وخوځېد، غریو واخیست:

_له دې لېوني سودره به مې نه کې بېغمه!

پوهېدم چې دې خبرې ته به اخیر راځي، خو دومره ژر مې یې د اورېدو تمه نه درلوده.

ومې ویل:

_خو زه له لیوني غلام دستګیر سره کومه ستونزه نه لرم!

کریم داد تر ډېره ځمکې ته کتل، بیا پرته له دې چې راته وګوري، په غریو کې یې وویل:

_زه غلی سړی یم، خدایکه مې تر اوسه پر میږي هم پل ایښی وي، خو خدای په لېونو واړولم، کال مخکې د لېوني غلام دستګیر کشر ورور زما فصله ته خپله رمه ور پرېښې وه، سم په انسانیت ورسره غږېدم، بس! د څو کلیوالو تر مخ یې پورې وهلم، انسان دی، ماغزو مې کار پرېښود، همالته مې وویشت. مرکې کېناستې، هرې پرېکړې ته تیار یم، شل ټوپکه او ډېرې پیسې مې ورته ومنلې، خو لېونی غلام ستګیر اووه ښځې غواړي.

غلی شو، پر څادر یې سترګې پاکې کړې، په غریو کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پر ما مې درې خویندې او دوې لونې تر ځان هم ګرانې دي. څنګه به یې اور ته اچوم!

غلی شو. یودم یې راته وکتل، سترګې یې له اوښکو ډکې وې، ویې ویل:

_ته ووایه! دا غوښتنه په کوم کتاب کې روا ده؟! لېونی غلام دستګیر نه پیر مني، نه فقیر، تر اوسه یې اووه مړي کړي، قربان یې شم، دوه یې ستا غوندې ګلالي پیران ول. تخته کېدا یې بې ثوابه نه ده.

تندی مې تریو کړ:

_څه! پیران!! پیران یې وژلي؟!!

د کریم داد غږ یو ناڅاپه ژوندی شو، غبرګ لاسونه یې پر څمکه ولګول، یو ګام را وښوییږد:

_هو صېب! که یې نه مني له خلکو پوښتنه وکه.

ځان مې خواشینی ونیو:

_نو داسړی خو په رښتیا هم ډېر مضر دی!

په خوند یې وویل:

_بالکل! پر لړم او غونډل باید پښه کېږدو. بس! قربان دې شم، تاته څه سخته ده، ږندکي ته ووایه، چاره به یې وکي.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اتمه  ورځ احوال واخله!

د سړي سترګې وځلېدې:

_مانا، تخته کوې يې؟!

ومې ويل:

_اوس څه نه شم درته ويلی، فکر به وکم، خو پام! له دې خبرې بايد بل څوک بوی هم يونه سي.

کريم داد مې پر لاسونو را پرېووت، دا ځل يې مچې ډېرې تودې وې.

په خوند يې وويل:

_که دې دا کار وکړ، نو وبه مې ګنډې، ټول عمر به دې غلام يم.

ومې ويل:

_خو لېونی غلام دستګير له بوټي نه دی پيدا، له تربرونو سره به يې څه کوې؟!

په خبره کې را ولوېد:

_له تربرونو سره يې لوېدلې ده، په کم شي غاړه راسره وړي، بس! ته د دې سوډر چاره وکه، له نورو سره  سوله اسانه ده.

د باندې ووت، شپبه وروسته مې قدم شاه را وغوښت، نبغ مې ورته وويل چې د لېونی غلام دستګير سر غواړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدم شاه سترګې رډې را وختې...

پوه مې کړ چې ځینې هدفونه په اسانه نه تر لاسه کېږي.

په سهار مې له حاجي ناتکه د چکر په پلمه یو یرغه ( تېز ) آس را وغوښت. کوچینی کاغذ مې ولیکه، قدم شاه ته مې وویل چې تر خپله وسه به چټک ځې!

موږ ته د انګرېزانو تر ټولې نږدې قرارګاه، د آس درې ورځې مزل غوښت. دا لویه قرارګاه د ډیورنډ د کرښې پر هاغه غاړه پرته وه، چانسلر د قرار ګاه مشر نیلسون ته امر کړی و چې زموږ هره غوښتنه به په پټو سترګو مني.

ډاډه وم، لیوني غلام دستګیر په اسانه موندل کېدای شوای، ده په ټول پاړاچنار کې نوم درلود.

یوائې شوم، خو وخت مې بېکاره نه تېراوه، په خلکو کې دربیم با رسوخه کس د شیخ جیلاني په نوم یو لوی مولوي و، دې بوډا یوه لویه مدرسه درلوده، ګڼ طالبان یې روزل، خو دې طالبانو مصرف غوښت، ځینو شتمنو مرسته ور سره کوله، خو د شېخ طالبان ډېر ول، کله کله به ان په وچه ډوډۍ کې هم باقي شو.

په لومړۍ ورځ مې له شکراني پاتې یو په غوښه پېټ پسه ور ولېږه، دوهمه ورځ مې دوه کړل، خو د شېخ درک ونه لګېد.

یو کلیوال مې وغږاوه، ویې ویل چې شېخ به ډېرې پیسې له دم او تاویذه پیدا کولې، د کور او مدرسې ګوزاره یې ښه روانه وه، خو تا یې بازار ور سوړ که، ښه یې نه ایسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیم سهار مې بل پسه ور ولېږه، خو لا یې بد اېسېدم، خو هماغه غرمه مې یو اوږد لیک ورته ولیکه، ومې لیکل چې څلوېښت زره پېریان مې په واک کې دي، هر څه را رسېږي، نه د شکرانې په پیسو پسې ګرځم او نه هم پسونه، سیرلي ، چرګې، هګۍ... اهمیت راته لري. که تشریف راوړې، نو بغدادي پیر دې له خوارې ورځې ایستلی شي....

خط کار وکړ، شېخ پر خره سپور راغی. سترې مشې یې توده وه. کېناست، یو ساعت یې د علماوو د اهمیت په اړه خبرې وکړې، ویې ویل چې که زما او ستا غوندې علما نه وي، نو عامیان به کوپر او اسلام سره ګډ کړي...هم به له دې دنیا ووځي او هم به یې اخیرت خراب وي...نه به په نکاح پوهېږي او نه به هم د جنازې لمونځ ور مالوم وي، ان داسې څوک به ونه مومي چې د ماشوم په غوږ کې آذان ور وکړي....

بوډا اوږدې خبرې وکړې، په هره خبره کې به یې لومړی ځان او بیا ماته ګوته نیوله، ویل به یې چې دا موږ علما....

بوډا ته مې وویل چې هر سهار یو طالب را لېږه، دی به ټوله ورځ د شکرانې پسونه، سېرلي... پیسې ټولوي، مازدیګر به له ځارویو او ډک جېب سره در روان وي.

بوډا د تګ په وخت کې دعاوې راته کولې، ویل یې چې ستا غوندې علما دې خدای له اور او اوبو وساتي....

بل سهار کوچینی طالب راته ودرېد، تر مازدیګره یې یو پسه، درې سیرلي، څو چرګې... ټولې کړې.

خلک ورو ورو ډېرېدل، د بغدادي پیر د کراماتو آوازه تر لیرو ځایونو رسېدلې وه، ان ځیني خلک له وردګو او غزني هم راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم شاه نه و، خو د لاوډ سپيکر کرامات ونه درېدل، راغلي کسان به مې ژر نه را پرېښودل، دوی مجبور ول چې له چينې سره يو څه وخت تېر کړي، ناليدلو کسانو به د يو بل نومونه اخيستل، دردونه به يې سره ويل...د کلي او کور په اړه به سره غږېدل....له لاوډسپيکره به دومره څه راوتل چې بغدادي پير خپل کرامات وښيي.

کله چې به د يوه کس چوف کول خلاص شول، نو ورته و به مې ويل چې اوس فلانی را ولېږه. وړه خبره نه وه، که بغدادي پير کرامات نه درلودای، نود ناليدلو خلکو نومونه او نورې پټې به څنګه ور مالومې وې!

راغلی کس به مې پښو ته را ولوېد.

يو ماخستن مې جامې بدلولې چې په جېب کې مې د زرو سيکه له واړه چاقو سره ولګېده. سهار مې باز را وغوښت. په خبرو مې را ووست، سره غونډۍ نږدې وه. باز وويل چې سيکه او بوتان يې د دې وړې غونډۍ د لمر لوېدو خوا په څنډه کې موندلي وو.

ماخستن مې لاسي بټۍ را واخيسته، ډاډه وم، په دې شپه کې که مې چاته د زمري زړه هم ور کړی وای، نو د ړندکي پيري له ډاره سمڅې ته نه شوای را تلای.

سپوږمۍ وه، سره غونډۍ مې په اسانۍ ومونده، لمر لويدو خواته يې ورغلم، تنورونو ته د ورل شوې خاورې کيندل شوي ځايونه مې پيدا کړل. په پسته خاوره پسې وګرځېدم. ځای مې ووموند، خاوره مې په دواړو لاسونو ليرې کړه، وړې سمڅې ته مې لاسي بټۍ ونيوله، لاندې ډبرينې زينې کښته شوې وې.

په احتياط لاندې لاړم، اوږدې سمڅې ته د ډبرو پايې ولاړې وې، دېوالونه د مختلفو حيواناتو له رنګه نقاشيو ډک ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو څه د ماتېدو غږ مې واورېد، لاسي بټۍ مې څمکې ته ونیوله، پښه مې د انسان د اسکلېټ د ورانه پر هډوکي ایښې وه. مخکې لاړم، دېوال ته له ډېرې جوړ لوی بت ولاړ و، څو واړه بتان ، دوه، درې کوزړۍ، د انسانانو هډوکي...پر ځمکه پراته ول...بټۍ مې را وګرځوله، په رڼا کې یې دومره زور نه و چې د سمڅې تر پایه ورسېږي.

فشس مې واورېد، په بېړه را تاو شوم، زړه مې له وېرې خولې ته راغی، په خاورو کې تور، غټ مار پروت و. په منډه د باندې ووتم، د سمڅې خولې ته مې یوه غټه ډبره ور ورغړوله. پر ځمکه پرتې مړې خاورې مې ور ټولې کړې.

پوهېدم چې دا سمڅه بې څه نه ده، خو اوس یې وخت نه و.

سهار لس بجې له خوبه را پورته شوم، چینه په خلکو، آسانو، خرو، اوښانو او کچرو کې نه مالومېده.

غرمې ته حاجي پاینده خان راغی، زارۍ یې کولې، د سپینو ګلانو شیره یې غوښته، خو دا شیره مې کله بې ارزښته کوله!

حاجي پاینده مې همداسې په احتیاجۍ کې پرېښود، ورته ومې ویل چې د سپینو ګلانو پر سیمه د کاپرو پېریانو ګزمې سختې شوې دي، ړندکی موقع ته ګوري، بس! څو ورځې نور هم صبر وکه.

د سړي زړه نه ته، خو چاره نه وه، له وچو میوو ډکه لویه غوټه یې راته پرېښوده.

سهار وختې مې یوه ناره واورېده، د باندې ور ووتم، درې کسان لاندې ولاړ ول. اشاره مې ورته وکړه، یو یې پورته را وخوت، په خواره خوله یې چینې ته نږدې د یوه دوکان او سماوار د جوړېدو اجازه غوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوان مې نه پکې لید، ډېر خلک له لیرو سیمو راتلل، دوکان او د شپې د تېرېدو ځای راته ښه و.

ځای مې ور وښود، ځوانانو هماغه ساعت ملاوې وتړلې، تر مازدیگره یې هوارې ډبرې راوړلې....

ماښام چرتي شوم، اووه ورځې تېرې وې، خو د قدم شاه درک نه و، د هغه د نیولو کومه وېره نه را لوېده، قدم شاه په سیمه کې بلد و، د ډیورنډ پر لیکه د افغان پوځیانو قرار ګاوې هم له یو بل نه لیرې پرتې وې، بلد کس په اسانۍ تر کرښې اوښت.

په زړه کې مې یوه خبره را ګرځېده:

_درې ورځې تګ، درې ورځې راتګ. نو ولې وځنډېد! قدم شاه مې د شپې تر ناوخته له ذهنه نه ووت.

سهار چینې ته ورکښته شوم، له درېیو پرونیو ځوانانو سره، څلورو نورو کسانو هم ختې کولې. کار تېز و، بس! پلنې ډبرې به یې په ختو کې نیولې...غرمې ته د واړه دوکان دېوالونه ودرېدل.

ماسپښن ته کریم داد له خپلو ملګرو سره راغی، زېری یې غوښت، خو ما وریاده کړه چې ړندکې پیرۍ ډېر مصروفه دی، زه په خپله احوال در لېږم.

کله چې بېرته ته، یو تک سپین، ښکلی آس یې راته پرېښود.

مازدیګر د دوکان پر سر لرګي او خاوره ولوېدل، لمر لوېدو ته کاګل ورباندې تېر شو. آس مې د لېوانو له ډاره همالته وتاړه.

خواشینی وم، قدم شاه مې سترګو، سترګو ته کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختې پرېوتم، یو وخت مې کړنګ واورېد، سترګې مې رنې کړې، څراغ بل و، قدم شاه تش دېګ ته کتل.

کېناستم، په خوند مې وویل:

_څه وخت راغلې؟!

پرته له دې چې راته وګوري ویې ویل:

_فکر کوم چې له ډېرې لټۍ دا څو ورځې وږی ګرځېدې!

ومې ویل:

_راځه! وچه مېوه شته.

راغی، لاس یې را وغځاوه، خو ما راکش کړ، په غېږ کې مې ونیو.

ویې ویل:

_پخوا خو دومره مینه ناک نه وې!

له مختلفو مېوو ډکه کڅوړه مې ورته کېښوده. په بېړه مې وویل:

څه دې وکړل؟

ویې ویل چې له نیلسون سره وغږېدم، د لېوني غلام دستګیر په باره کې مې مالومات ور کړل، ورته ومې ویل چې د دې سړي پیدا کېدا اسانه ده، ټول خلک یې پېژني....

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیلسون پاړا چنار ته تلګراف وکړ، ځواب راغی، په پاړا چنار کې انګریزې قرار ګاه ورته لیکلي و چې سخته نه ده، د لېوني سر به له همدې ځایه ډېوېډ جونز ته ور ولېږو، خو وخت غواړي، موږ باید لېوني غلام دستګیر ته داسې موقع وګورو چې راګرم شي....

له قدم شاه سره تر ناوخته ناست وم، د شېخ جیلاني او د سرې غونډۍ کیسې مې ورته وکړې....بیا مې وویل چې د لېوني غلام دستګیر سر شاید ډېر وخت ونیسي، تر هغو به د ملک ځونډي په باره کې فکر وکړو.

په زورور ملک ځونډي پسې لوی قوم ولاړ و. دې شتمن شپېته کلن سړي پر پراخه سیمه واک درلود،غریبانو ته یې لاس نیو، د لارې مساپر به یې له ډوډۍ پرته نه پرېښودل. ان کله کله به سلامت تجارتي کاروان د ده مهمانخانې ته شپه ور وړه.

دې سړي خپله ځواني د هند په اسام کې تېره کړې وه، هلته یې د سود لوېې معاملې درلودې، اوس یې هم کار جوړ و، دوو ورونو او مشر زوی یې له اسامه په خرپ پیسې ورته را لېږلې.

د ملک ځونډي یوه کلیوال راته ویلي و چې دا سړی هېڅوخت له مېلمه پرته ډوډۍ نه خوري، که مساپر ونه مومي، د کلي ملا او څو نور کلیوال ورسره کېنوي.

دې سړي ژوندی زړه درلود، ځان یې غم ته نه ورکاوه، د ښو آسونو، اتڼ او تېزو ښکاري تازیانو شوقي و، کله کله به یې شاعري هم کوله، له خپلې یوې ښځې او شپږو اولادونو سره یې خوشاله ژوند درلود.

له قدم شاه سره مې د ملک ځونډي د ژوند هره خوا وسنجوله، دواړو فکر وکړ، خو د دې سړي په ژوند کې مو داسې څه ونه موندل چې د بغدادي پیر کراماتو ته احتیاج وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه اوونۍ ووته، په دې ورځو کې مو د حاجي ځونډي ډېر کلیوال وغږول، پاتې تمه مو هم وخته!

دوکان او لویه کوټه جوړ شول، همدې یوه دوکان او سماوار ته یې د( پیر بازار ) نوم ورکړ. خو دومرو خلکو ته یوائې یو دوکان او یو سماوار کافي نه ول، نورو کسانو ته مې هم د دوکانونو د جوړولو اجازه ورکړه، دا اجازه په لومړي دوکاندار ښه نه وه لګېدلې، خو بغدادي پیر ته یې ان د یوې وړې ګیلې زړه هم نه درلود.

خلک ډېر ول، ستړی شوم، دمونو ته مې یوائې د ماسپښین تر لمانځه پورې وخت ورکړ. ناوخته راغلي کسان به یا بېرته تلل، یا به یې په سماوارونو کې د بل سهار په تمه شپه تېروله.

وروسته مو بله لاره ومونده، کاغذونه مو وسکنل، سلګونه څلور کونجه وړې ټوټې مو ترې جوړې کړې، په هره ټوټه کې مو چوکاټونه او د چوکاټونو په مینځ کې مختلف عددونه ولیکل. قدم شاه به له چینې سره ولاړ و، خلکو ته به یې په نوبت کاغذونه ورکول، ویل به یې چې دا تاویذونه د بغدادي پیر په مبارکو لاسونو لیکل شوي دي، په اوو سرو جامو کې یې ونغاړئ، د هر مرض دوا ده....

خلکو به څه ویل! هېڅ! کاغذونه به یې سترګو او شونډو ته ور وړل او بېرته به خپلو کورونو ته روان شول. قدم شاه به یوائې هغو کسانو ته له پیر سره د لیدو اجازه ورکوله چې یا به له ډېرو لیرو ځایونو راغلی ول او یا به یې څېرې تازه او جامې نوې وې.

کله کله به له پیر سید کرم شاه ( لارنس ) نه هم خبرېدم، دی له ما سل_ یو نیم سل کېلومتره لیرې و، خو په کراماتو کې یې تر ما وړې وه، له هماغه سیمې یوه راغلي سړي قسمونه خوړل چې پیر سید کرم له ځانه مرغۍ جوړه کړه، والوت....

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله ورځ به مې ماغزه وخوړل شول، قدم شاه هم ستړی و، هره شپه به يې کاغذونه سکنل....

بل فکر مې وکړ، بغدادي پير تر دې دمه لنګر نه درلود! هسې هم د شکراني پسونه ډېر ول، له شيخ جيلاني سره سره، دم، دعا ته د راتلونکو خلکو ګذاره هم پرې کېدله، د هوټلونو خاوندانو ته مې تنخوا وټاکله، دوی به هره ورځ دوو، دوه نيمو سوو کسانو ته د پسونو پخې غوښې ورکولې.

خلکو په خپلو سترګو ليدل چې د خلکو له خوا راوستي پسونه ، بېرته همدې خلکو ته پخېدل، خو بيا به هم حيران ول ...ويل به يې چې د دومره بنيادمانو مړول کرامات غواړي، وړه خبره نه ده! د پيرګل لنګر پټې بلاوې چلوي....

يو ماسپښين مې پر آس چکر واهه چې د قدم شاه ستړې چيغه مې واورېده، ورغلم، ويل يې چې يو څوک تاويذ غواړي. ورياده مې کړه چې ته خو په هر څه پوه يې، سهار ته يې ماتله که، خو قدم شاه راته وويل چې دا سړی په ليدو ارزي.

له يوه خوار، هډور سړي سره پورته وختم، دی غلام رسول نومېده، د ملک څونډي دهقان و، خو اوس يې داسې تاويذ غوښت چې غوا يې د لوشلو په وخت کې لغتې ونه وهي.

تاويذ مې ورته وليکه، ومې ويل چې په اوو سرو جامو کې يې وګنډه، غوا به کراره ولاړه وي. بيا مې د ملک څونډي خبرې را واخيستې، ومې ويل چې دا خوشاله انسان په ژوند کې هېڅ غم نه لري، خو غلام رسول را ياده کړه چې په دې ورځو کې يې چورت خټه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ومې غږاوه، د دهقان له خولې د ملک ځونډي ژوندى زېره مړ و، خندا ترې هېره وه، ډوډۍ يې نه خوړه، په وړه خبره غوسه کېده...نازولې تازيان به يې په ډېرانو ګرځېدل... ان جومات يې هم پرېښى و.

نورې خبرې مې ترې را وايستې. دهقان يوه کيسه راته تېره کړه، ويې ويل چې څو ورځې مخکې مې رشقه رېبله، د ژړا غږ مې واورېد. ورغلم، د جوارو په بوټو کې مې چوله جوړه کړه، حاجي ځونډى د لښتي پر ژۍ ناست و، رڼې اوښکې ترې تويېدې، له ځان سره يې خبرې کولې، بيا يې يو ناڅاپه آسمان ته وکتل، له خولې يې زوروره چيغه را ووته!

_اه ! توتکۍ!

پورته مې وکتل، توتکى نه وه.

غلام رسول غلى شو، ماته يې وکتل، ويې ويل:

_قربان دې شم، ملک ځونډى سم نه شو راته ښکاره، د لېونتوب علامې لرې.

د دهقان له تګه وروسته مې له قدم شاه سره خبرې وکړې، دواړه يوې نتيجې ته ورسېدو، دا د مينې نښې وې. بوډا ميين و.

سهار ناوخته مې چيغې واورېدې، غلام رسول په بېړه پورته را وخوت، لمن يې په وينو سره وه. خداى او کوران يې يادول، د خپلې ښځې د پزې د وينې درېدو ته يې تاويذ غوښت.

علت مې وپوښت، لنډ يې راته وويل چې ستا راکړى تاويذ مو د غوا پر تندي را وځړاوه، خو سهار يې زما کډې ته غبرګې لغتې سيخې کړې، د مخ پاړسوب او مات

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاښ يې پروا نه کوي، خو اوس يې د پزې وينه نه درېږي،خوارکۍ هسې هم کم جانه ده، که يې دا حال وي، مړه يې بوله.

د غار تيارې برخې ته لاړم، شپېه وروسته مې سړي ته د وينې د درېدو تر ټولو قوي دوا ورکړه. په غوسه مې ورته وويل چې وه ساده! ولې په خبره ځان نه پوهوئ! درته ويلي مې و چې تاويذ ته اوه سرې جامې ور واغونده!

دهقان په خواره خوله وويل چې زه ورته ناست وم، کډې مې تاويذ په اوو سرو جامو کې وګانده....

خو ما نه منله، ومې ويل چې که د تاويذ يوه جامه کمه، يا زياته وي، نو برعکس تاثير لري، غوا نوره هم په غوسه کېږي....

خو غلام رسول قسمونه خوړل چې د تاويذ جامې پوره وې.

ومې ويل:

_د تاويذ خلاصول دې کور بې برکته کوي، که نه اجازه مې درکوله چې تاويذ خلاص کړې، په خپله به پوه شوی وې چې جامې کمې، يا زياتې دي....

غلی شو، دهقان به نو ولې خپل کور په لوی لاس بې برکته کاوه!

دهقان په بيړه د باندې ووت.

قدم شاه سړه ساه واېسته:

_اوف، بېچاره ښځه؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شو، ویې ویل:

_د دوا د بوتل کاغذ خو به دې ترې شکاوه.

ومې خندل:

_دا خلک په خپله ژبه نه پوهېږي، نو انګلیسي خط به څنګه لولې؟!

_خو احتیاط ښه دی!

ومې ویل:

_څوک یې سپینوي! که پوه هم شي، لویه خبره نه ده، په څلوېښتو زرو پېریانو کې به داسې پیری هم وي چې بغدادي پیر ته له لندنه دوا راوړي.

ماخستن ناوخته مو ډوډۍ خوړه چې یو دم ګوله رانه ولوېده، یو چا په لوړ غږ زما نوم اخیست:

_ډېبوېډ جونزه!

منډه مې واخیسته، سپوږمۍ وه، چینې ته نږدې دوه کسان ولاړ ول، ورغلم، یودم مې وویل:

_اه! احمقه! دا ځای نو زما د نوم د اخیستلو دی؟!

سرې کلکه غېږ راکړه، خو ما د سماوار وړې کړکۍ ته کتل، شکر مې وایست، څراغ بل نه شو....

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم شاه راغی، آسونه یې همالته په ونه پورې وتړل. یوه سپکه او بله درنه کڅوړه مو پورته وخېژوله. کېناستم، خو لا مې زړه نه وو سره راټول.

مایکل توره لونګۍ لیرې کړه، بخښنه یې وغوښته، دی په دې نه پوهېده چې سماوار له خلکو ډک دی.

مایکل خپل ملګری را معرفي کړ، نوم یې چوهدري حسن و، د پاړا چنار په قرارګاه کې یې وظیفه درلوده.

مایکل مې په پېښور کې لیدلی و، ده به په هفته کې یو ځل د جاسوسی د وسایلو کرامات راښودل.

ما څو میاشتې په غره کې تېرې کړې وې، د معلوماتو تږی وم، په دې نه پوهېدم چې له دې غرونو ور هاخوا څه خبرې دي. مایکل مې وغږاوه، د پاچا ( امان الله خان ) قرار دادونه ډېر شوي ول، پر معدنونو کار روان و، صنعت وده کړې وه، په کابل ښار کې روان رېل لیدل شوی و، سلګونه ځوانان ترکیې، جرمني، فرانسې.... ته په زده کړو پسې تللي ول....

وروسته د جاسوسانو په باره کې وغږېد، په ټولو کې د بریتانیې لخوا جوړو شویو روحاني څېرو ( پیر، فقیر،اغا، ملنګ...) کامیابه نتیجه ورکړې وه. ان ځینو یې په دربار کې هم مریدان پیدا کړي ول....

د لیوني غلام دستګیر کیسه مې ترې وپوښته، لنډ یې وویل چې سر یې په راوړې بوجۍ کې دی.

مایکل وویل چې په دې ورځو کې د بریټانیې په پوځ کې یو سیک عسکر ووژل شو، قاتل یې نه و مالوم، خو موږ ورته مالوم کړ، لنډ لیوني غلام دستګیر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلو، د لیوني تر مخ مو د مقتول وړې توپانچه په کېږدۍ کې تر لیمڅي لاندې کړه، غلام دستګیر جنجال وکړ، لاس یې را واچاوه، کوچیان راغلل، خپله توپانچه مو بېرته را وایسته، سړی را ګرم شو، قرار ګاه ته مو را ووست، جلاد غاړه ور پرې کړه.
بس! یو- دوه ورځې د کوچیانو مشران راتلل، ویل یې چې لیونی له سره پرته څنګه خاورو ته وسپارو، خو ګرمي وه، چاره یې نه لیده.

مایکل لویه خلطه خلاصه کړه، اول یې خوراکي مواد را واېستل، بیا یې اخبارونه او د جاسوسۍ نوي، پرمختللي وسایل پر ځمکه کېښودل.

مایکل او ملګری یې تر سپېده چاود مخکې بېرته پاړاچنار ته روان شول.

په هماغه ورځ مې کریم داد ته احوال ور ولېږه، بله ورځ راغی، په بوجۍ کې د لیوني غلام دستګیر تړلی سر مې ورکړ، پښو ته را ولوېد.

ماخستن مې نوي راغلي وسایل کتل، تېز ګروپ مې ولګاوه، د سمڅې له خولې اووه رنګه رڼا ووته. قدم شاه د سماوار تر مخ وارخطا خلکو ته ویل چې دا له کوه قافه د راغلیو ښاپېریو د اغوستو حجابونو رڼا ده... د خلکو د توبو غږونه تر سمڅې پورې را رسېدل....

بله ورځ مې ملک څونډې ته یوه جمله ولیکله:

_بغارې دې دومره لیرې غره ته را ورسېدې، خو نږدې توتکۍ وانه ورېدې.

په سبا یو له ونې ټیټ سړی راغی، غټه لونګۍ یې تړلې وه، ږیره یې په نکریزو سره وه. وار له واره مې پښو ته را ولوېد، د خواست په ژبه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_یا پیرګله! دومره کرامات لرې چې زما چیغې ان په غره کې اورې، نو هر څه دې په وس پوره دي، خدای به کوي، ته به کوې! داسې تاویذ راته ولیکه چې له توتکۍ بې غمه شم.

ومې خندل:

_پیر بغدادي ته بې غمه کېدا او یو ځای کېدا، دواړه یوه خبره ده.

په حیرانۍ یې راته وکتل، ویې ویل:

_قربان دې شم، د آب او عزت سړی یم، کور او اولس به څه وایي، بې غمه کېدا راته ښه ده.

سړی مې خپل ټټر ته را نږدې کړ، ومې ویل:

_په شرعه کې شرم نه شته، ان څلور ودونه هم کولای شې.

یودم غریو واخیست:

_خونه یې مني، خانګل ته مې وویل چې غریب سړی یې، توتکۍ لور دې راکه، په سرو، سپینو کې به دې پټ کم، خو سړي نه وړه، نه یې را وړه، نبغ یې راته وویل چې وشرمېږه! لمسیان لرې، خپله څوارلس کلنه لور څنګه اورته واچوم...که دې بیا را یاده کړه، پر تندي به دې ولم.

ملک یودم وژړل... ویې ویل چې دې نجلۍ خوب راباندې حرام کړی دی.

بیا مې د خانګل په باره کې را وغږاوه، دې ناروغ سړي د کلي ګوروانی (پاده وانی )کوله. دوه ځله بې سده شوی و، له پزي او غوږونو به یې وینه تله، زوی یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود، په کور کې يې اووه سرې لونې ګرځېدې، په وچه ډوډۍ پسې حيران و، تربرونه يې مرګ ته ماتله ول. سر له اوسه لا د خانګل د ښځې او لونړو په وېش نه سره جوړېدل.

ملک ځوندي ته مې ډاډ ورکړ چې ځان دې غم ته مه ورکوه، خانګل به په دې دوستۍ کې څه ونه وايي.

خانګل مې را وغوښت، څېره يې اشنا وه، فکر مې وکړ، دا سړی دوه ځله پخوا هم راغلی و، زوی يې غوښت.

خانګل مې پر لاسونو را پرېووت، په خوشالي يې وويل چې ښځه يې امېدواره ده. ډاډ مې ورکړ چې د بغدادي پير تاويذ بې څه نه دی، په نصيب کې دې يو ګلالۍ هلک وينم.

بيا د اصلي موضوع په څنډو کې را وګرځېدم، د خانګل غربت او بې کسي مې ياده کړه، د هغه ناروغي او اووه لونې مې مينځ ته را واچولې، ومې ويل چې ژندکی پيری کله کله احوال راته راوړي، تربرونه دې ښه نيت نه درته لري....

د سړي سترګې له اوښکو ډکې شوې، ويې ويل چې بې کسي دې ورکه شي، دی هم پوه دی چې تربرونه يې مرګ ته ناست دي....

خانګل ته مې وويل چې له ملک ځوندي سره دوستي دې په خير ده، لور به دې له دې شتمن او زورور سړي سره خوشاله وي، تربرونه به دې سترګه ترې کوي، که مړ هم شې، داسې څوک به وي چې پرده دې خوندي او لونې دې په عزت واده کړي....

خانګل تر ډېره فکرونه وهل، بيا يې سر پورته کړ، په غريو کې يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_قربان دې شم، پوهېږم! ته مې بدي نه غواړې، غيب درمالوم دي، چې ته وايي، نو دا دوستي مې قبوله ده.

په هماغه ورځ مې ملک ځونډي ته احوال ور ولېږه چې خبره خلاصه ده، بس! مرکه ور ولېږه!

اه! باور! باور مې غوښت، تر لاسه مې کړ. پر ټوله سيمه مې واک پروت و. ان د بغدادي پير له خوښې پرته مرغۍ هم نه شواى چونېداى. په کوروڼو، ګودرونو، جوماتونو، ولسونو کې يواځې د بغدادي پير کرامات يادېدل. زه به پر ځمکه ګرځېدم، خو خلکو به اسمان ته کتل. په هرې سپينې کوترې پسې به يې چيغې وهلې (( پير ګل ته وګورئ، له ځانه يې کوتره جوړه کړې، پر خپلو مريدانو راګرځي...)). چا چې به وليدم، پرځان يې د دوزخ اور حرام ګاڼه.

دا ټولې، سختې، خيرنې ورځې، لوږه، تنده...خطر...د خلکو په باور ارزېده. اوس نو د اصلي هدف د ترلاسه کولو وخت و . د دې خلکو زړونه د پاچا له مينې ډک ول، خو اوس بايد دا ځاى کرکې نيولى واى. په لومړي ځل مې په خپلو خبرو کې د امان الله خان نوم را ګډ کړ، خو احتياط مې نه هېراوه، د دې خلکو په زړونو کې له خداى او پيغمبر را وروسته، امان الله خان پروت و.

په پيل کې به مې عمومي خبرې را واخيستې، بيا به پاچاهي ته ورغلم، د غازي ښيګڼې، له وطن، آزادي او تعليم سره د پاچا مينه، د هغه دينداري...به مې ياد کړل، په اخير کې به مې د ( خو ) ټکى را وايست، وبه مې ويل چې غازي امان الله خان ښه سړى دى، خو کاشکې يې ږيره نه خرپيلى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې يوې خبرې به د خلکو له ذهنه د پاچا افغانيت، زړورتوب، د وطن ابادي، ديانداري، له وطن او خلکو سره مينه... ټول پاک کړل. پر ځای به يې يوه خبره کېده، پاچا ږيره نه لري، مانا سنت ته ارزښت نه ورکوي....

خو مابه وخندل، وبه مې ويل چې خير دی، ځواني ده، په خپله به پوه شي....

هره ناسته به مې د امان الله خان پر صفتونو پيلوله، خوله به مې ستړې شوه، خو اخېر په يوې وړې (خو)، د پاچا پر ټولو ښېګڼو خړې اوبه وروستې.

وروسته لږ مخکې لاړم، ټولو ته مې همدا يوه خيالي کيسه تېروله، لومړی به مې د امان الله خان صفت وکړ، بيا به مې ځان خواشينی ونيو، وبه مې ويل چې څه وخت مخکې ځوان پاچا له خپلو وزيرانو سره جلسه درلوده، يو وزير په خرپ نشه و، خو پاچا يواځې سپک کړ.

غلی به شوم، ناستو کسانو ته به مې وکتل، وبه مې ويل:

_پاچا زړه سواند انسان دی، خو شريعت شراب خور ته خپله سزا لري، پاچا بايد د زړه سواندي پر ځای حد جاري کړی وای.

وار له واره مې دا ډول کيسې په خپله په پاچا پورې نه شوای تړلی، دې خلکو د بغدادي پير الوتل منل، خو پاچا او شراب ډېر سره ليرې ول، خو لږ تر لږه به دې کيسو په دې ساده ککريو کې دومره ور ګرځول چې که پاچا خپله شراب نه خوري، نو شراب خور يې هم دومره بد نه ايسي....

وروسته يو څه تېز تلم، د هلکانو مکتب مې ښه ياداوه، خو د نجونو له زده کړې سره مې ضرور د (خو) ټکی تاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې تر کیې ته د افغانو نجونو د لیږلو خبرې را واخیستې، ومې ویل چې درس ښه دی، خو دومره هم نه چې ځوانې، جانې، سپینې پښتنې پردو ملکونو ته پسې ولیږو....

تر دې دمه به ټولو سرونه راته خوځول، خو یوه ورځ مې په خپلو خبرو کې ملکه ثریا یاده کړه، ومې ویل چې لوڅ مخ ګرځي....

په لومړی ځل یو چا دومره زړه وکړ چې د بغدادي پیر په خبره کې ور ولوېږې، له کټوازه راغلي یوه زیړه ځوان په غوسه وویل:

_پیرګله، دم، تاویذ او کراماتو ته دې مات یم، مور مې یاده که، خو د پاچا په ناموس به کار نه لرې.

ومې خندل، ملکه ثریا مې د دنیا تر ټولو ښځو پاکه او پرهېزګاره وګڼله، تر هغو مې د ملکې صفت وکړ چې د ځوان د تندي ګونځې هوارې شوې....

یو څه وخت مې احتیاط کاوه، د امان الله خان نوم مې نه اخیست، خو د والیانو، حاکمانو او نورو غټو خلکو د خیالي ګناوو بیانول په دې نه ارزېدل چې څوک بغدادي پیر خفه کړي.

وروسته مې د مایکل راوړي اخبارونه وکتل، یوه انګرېزي مجله مې ومونده، په برېتانیې کې د ښځو د پرمختګونو په اړه وه.

ګڼ کسان به مې را ټول کړل، مجله به مې وغوړوله، د انګرېزي متن او عکسونو له مخې به مې تشریحات ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انګرېزي ژبه پوهېدا پوښتنه نه پیدا کوله، له بغداده راغلي پیر صافه پښتو ویله، نو ده ته انګریزي هم سخته نه وه.

د مجلې په لومړي مخ کې لوی عنوان لیکلی و: ((د بریتانیې ملکې د اکسفورډ پوهنتون له تکړه محصلینو سره وکتل)). لاندې لوی عکس و، ملکه د پوهنتون له ممتازو انګرېزو نجونو سره ولاړه وه.

وبه مې ویل:

_دلته یې لیکلي چې د بریتانیې ملکې له هغو افغانو نجونو سره وکتل چې برېتانیې ته په زده کړو پسې راغلې دي.

د دې عکس په لیدو به خامخا یو_ دوو کسانو ویل:

_څه فایده، بېرته مو هماغه پرنګیانو ته خپل ناموس ور ولېږه چې د ناموس د ساتلو له پاره مو تورې پسې را واخیستې....

په دوهمه پاڼه کې له یوه مضمون سره یو عکس ښکارېده، کشیش او ګڼې انګرېزې نجونې په کلیسا کې لوی صلیب ته ولاړې وې. لیکلي وو چې په غربي هېوادونو کې له عیسویت سره د ځوانانو مینه کمه شوې ده، اوس کشیشان هڅه کوي چې دا ځوانه طبقه بېرته پر مسیحت باوري کړي...خو ما به دا جملې داسې ورته ژباړلې:

دلته لیکل شوي چې د یهودو او نصاراوو ملکونو ته ورغلې افغانې نجونې مسیحت ته تشویق کېږي، خو دا سپینې پښتنې په خپل دین کلکې ولاړې دي، د پرنګیانو له دومره تبلیغ سره سره، تر اوسه ایله دوو نجونو خپل دین پرېښی دی....

په خلکو کې به ګونګوسې شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_که دا حال و، د دين پرېښودل څه! خپل پرتګونه به هم ليرې کړي....

خو په بل مخ کې يې پرتګونه ليرې کړي ول. يو ورزشي مطلب و، انګرېزو نجونو په يوه نيکر کې واليبال کاوه.

اسانه وه، دا عکس به مې په پښتو نجونو پورې وتاړه، خلکو به توبې ايستې.

خو يوه هم نه ويل چې اې احمقه! د پښتنو رنګ مالوم دی، دا ډول شنې سترګې نه لري!

يوائې يوه ورځ يوه ځوان راته وويل:

_قربان دې شم، تاته خو پټې مالومې دې، په پرنګ کې دا د پښتنو نجونو تور وېښتان ولې ژېړېږي؟

يوې خبرې مې غلی کړ، ومې ويل چې اسانه ده، دې نجونو ته د خنځير غوښه ورکوي، څوک چې ځلوېښت ورځې د خنځير غوښه وخوري، وېښتان يې خپله ژېړېږي.

هر عکس ته به ناستو کسانو توبې ايستلې، خو وروستي عکس به خامخا ژړول. يوه جينايي قضيه وه، په عکس کې يوه نيمه بربنډه مړه نجلۍ ښکارېدله چې غاړې ته يې پړی ور لوېدلی و. ليکلي و چې دې نجلۍ د کورني خشونت له لاسه ځان وژلای...خو ما به دا خبرې بل رنګه ترجمه کولې، ويل به مې چې که د پرنګيانو ملک ته تللې کومه پښتنه له خپل دينه وانهوړي، شراب ونه څښي، زنا ونه کړي...نو اته سره پرنګيان يې لومړی په ګډه بې عزته کوي، بيا يې وژني....

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو به ژړل، چیغې به یې وهلې چې د ډانکټري او مالیمې په پلمه یې سپینې پښتنې یهودو او نصاراوو ته ور ولېږلې، بې پردې یې کړې.

ما به د عکسونو په تشریح کې د پاچا نوم نه اخیست، ضرورت مې نه لید، خلکو په خپله پاچا مسوول ګڼه، همدا خیالي نجونې پاچا لېږلې وې.

دا کیسې په همدې سمڅه کې نه پاتې کېدې، کورونو او جوماتونو ته تلې، اولس ترې خبرېده او بغدادي پیر دروغ هم نه ویل.

په وړکتوب کې مې د افریقا د یوه مار په اړه یو مضمون لوستی و، لیکلي و چې که دا مار کومه هوسۍ وچیچي، نو هوسۍ وار له واره نه مري، زهر یې ورو ورو تاثیر کوي او چیچل شوې هوسۍ په اوو ورځو کې له پښو غورزوي.

زما زهر هم همداسې ول، کار یې ورو و، خو تاثیر یې درلود.

یو سهار له قدم شاه سره یوه کم عمره نجلۍ راغله! اه! غټې تورې سترګې، اوږده باڼه ، ګلابي مخ... تر دې دمه مې دا ډول ښایست نه په شرق کې لیدلی و نه په غرب کې. نجلۍ مخامخ راته ودرېده، یودم یې پر ډکو ګلابي غومبرو رڼې اوښکې را ماتې شوې، سلګیو واخیسته، درب شو، زنګنونه یې پر خړه ځمکه ولګېدل.

په ژړا کې یې وویل:

_ولې! ولې! ولې دې ژوند را تباه کړ.

قدم شاه ته مې وکتل. ویې ویل چې توتکۍ ده.

نجلۍ ته مې له حاجي ځوندي سره د خوشاله ژوند تضمین ورکړ... خو نجلۍ ژړل... کله چې د باندې وته، په سلګیو کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خدایکه مې هغه خوړین بوډا روزي کي، ژېړ کمر خو شته.

شپېه وروسته د سمڅې خولې ته ورغلم، توتکۍ له یوه کوچیني سره روانه وه.

زړه مې نا ارامه و، دا ښکلې، تنکۍ نجلۍ مې پر شپېته کلن بوډا ونه لورېده.

وخت تېرېده، ساده خلک په اسانۍ غلطېدل....

هوا سړه شوه، ځان مې ټینګ کړ، د پیر به نو څنګه یخ کېده! په دوو بړستونو کې به بیا هم غونج پروت وم. چاره نه وه، قدم شاه مې بانه کړ، له سماواره به صاف شوي، سره سکاره سمڅې ته راوړل کېدل.

یوه ورځ یوه ډله راغله، یو ږېره خرېیلی ځوان هم پکې و، دا ځوان تر نورو پاک او تازه ښکارېده، نوې خبره نه وه، د خانانو، ملکانو او په ګېډه د مړو خلکو اولادونه به له څېرو یو څه غوړ ول.

د مجلې له مخې مې تشریحات ورکړل، ټولو اوښکې تویولې، خو د ږیرې خرېیلي ځوان په سترګو کې کرکه پرته وه. د خدای په امانۍ پر وخت یې د پیر صاحب لاسونه ښکل نه کړل.

دا کار په یوه بوډا بد ولګېده، باید بد وربانديې لګېدلی وای، بغدادي پیر ته بې احترامي د منلو وړ نه وه. ځوان یې سپک کړ، په غوسه یې ورته وویل چې ورشه، بخښنه وغواړه او د پیر مبارک لاسونه ښکل که. خو ځوان نه راته.

د بوډا سترګې رډې را وختې، ځوان یې تر مټ ونیو، زما خواته یې را کش کړ، خو ځوان چیغه کړه!

_دا دا! ولې دومره ساده یاست! دا سړی دروغ وایي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه! پير او دروغ!

کړس شو، د بوډا په څپېړه کې دومره زور و چې د ځوان مخ يوې خواته کوږ کړي. د نورو کسانو سترګې هم رډې را وختې، ټولو ځوان ته وچې سترګې نيولې وې، خو ځوان نه اور واخيست، نه يې داړې راشنې شوې، او نه يې هم د شغال غوندې و انګولل....

ځوان يودم مخکې راغی، مجله يې ور واخيسته، لومړۍ پاڼه يې واړوله، چيغه يې کړه!

_دلته يې په انګريزي ژبه ليکلي چې د برېتانيې ملکې د خپل يوه پوهنتون له تکړه محصلينو سره وکتل...

بله پاڼه يې واړوله:

_دا نجوني انګرېزې دي، د دوی کشيشان غواړي چې دا پېغلې ببرته له خپل دين سره زړونه وتړي... په دې بل عکس کې هم پرنګۍ نجوني واليبال کوي... ولې دومره ساده ياست! په دې کې يوه هم پښتنه نه ده....دا پير نه دی، جاسوس دی، خلک د پاچا پر ضد راپاروي...

د بوډا له خولې لاړې باد شوې:

_بس که د سپي زويه! کوپر مه وايه، ته خو ښويېدلی يې، کور به درسره ايره کې.

دبوډا ځان په لړزېدو راغی، يو ناڅاپه يې وژړل، زانګې وانګې د باندې ووت. ځوان هم پسې ورغی.

حيرانو خلکو ته مې وکتل، څېرې يې له وېرې ډکې وې. په خندا مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_کینئ! زړونه مه خورئ! دنیا له هر رنګه خلکو ډکه ده.

غلی کېناستل، یوه هم څه نه ویل، څېرې یې لا له وېرې ډکې وې.

وچه مېوه مې ورته کېښوده، را ومې غږول، ډېره خرېیلی ځوان عبدالله نومېده، په ترکیه کې یې درس وایه، له یو کال وروسته کلي ته په رخصتي راغلی و. بوډا یې نیکه و، په کلي او اولس کې یې درونده نوم درلود....

ټنده مې تروه کړه، ومې ویل:

_ښه شو، د مکتب نتیجه مو په خپله ولیده، څوک چې معلم ته کېناست، له اسلامیته ووت...ماته هره ورځ سلګونه اخلاصمند مریدان راځي... یو هم داسې کوپر نه وایي، ټول صادق مسلمانان دي....په علت یې پوه یاست! مکتب یې نه دی ویلی!

یودم مې وژړل....

اه! د پیر ژړا! دا نو ډېره سخته وه.

ناستو کسانو خواست کاوه، د پیر اوښکې یې نه شوای لیدای.

هماغسې مې په ژړا کې وویل:

_سر مې چوي، د ونو، بوټو او ډبرو تېرو کوکو مې غوږونه را کاڼه کړل، ښه دی چې تاسو یې نه یې اورئ! خو په ټولو کې د چنغوزیو ونې ډېرې ژاړې، وایي چې بغدادي پیر ته سپکاوی به دا غرونه بې برکته کړي، موږ نور جنغوزي نه کوو....

ناست کسان مې پښو ته را ولوېدل، ژړل یې، په ځنګلونو کې یې د برکت پاتې کېدا غوښته... پوهیدم چې د دې خلکو لویه سرمایه همدا ځنګلونه دي، اطمینان مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ، ورته ومې ويل چې ونو خو څه مکتب نه دی ويلی چې پير ته عقيده ونه لري، زه به خبرې ورسره وکړم.

ټوله ورځ مې د خولې خوند بد و، قدم شاه ته مې وويل چې په دې خلکو کې يو مکتبي پيدا شو، نه غلطېده، زموږ چټيات يې رسوا کړل، دا ځوان خطرناکه دی... خو قدم شاه ډاډ راکړ چې د نيکه او اولس له ويرې به يې بيا ونه وينې.

نيمه شپه مې سترګې رڼې کړې، په کتابونو کې کړپا وه، قدم شاه مې وښوراوه، وړه بتۍ مې بله کړه، سيم کش شو، يو پر بل ايښې کتابونه ولوېدل، په کش شوي سيم پسې لاوډ سپيکر را ووت.

په منډه له سمڅې ووتم، له ملنډو ډک غږ مې واورېد:

_بغداي پير خو په رښتيا هم کرامات لرل. اوس پوه شوم چې د سل، يو نيم سل متره ليرو خلکو نومونه او نورې پټې څنګه ور مالومېدې!

زړه مې خولې ته راغلی، بتۍ مې ور واچوله، د غرمني ږېرې خرېيلی ځوان لاسونه له پېچلي سيمه ډک ول، دا سيم يې له چينې څخه تر دې ځايه را ټول کړی و.

قدم شاه د خواست په ژبه وويل:

_خير دی، رسوايي مه جوړوه!

ځوان وخندل:

رسوايي؟!

قدم شاه تر مټ ونيو، دربواړه سمڅې ته راغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم شاه کتابونه لیرې کړل، کوچینی کارتن یې را وایست، خلاص یې کړ، بټۍ ته یې ونیو، تر خولې له پیسو ډک و. په خواره خوله یې وویل:

_دا واخله، په ټول ژوند کې به د بل له احتیاجې خلاص یې، خو خوله به پټه نیسې.

ځوان ورو وویل:

_زه دومره پست درته ښکاره شوم چې خپل وطن او پاچا ته به خیانت کوم؟! له اوله پوهېدم چې تاسو په پوست پاک خلک نه یاست، له ساده خلکو استفاده کوئ، زموږ له دینه ناجایزه ګټه اخلی، انګریزانو دا رنګه لوبې په ډېرو هغو هېوادونو کې کړې دي چې واکمنانو یې د دوی اطاعت نه کاوه، دوی پوهېږې چې څنګه جعلي پیر او فقیر جوړ او دا ساده خلک غلط کړي....

غلی شو. ویې ویل:

_دې خلکو ته که هر څومره induced وایم چې او ساده ګانو! بغدادي پیر د انګرېز جاسوس دی، انګرېزان به هغه څوک څنګه خوښوي چې د انګرېز دښمن وي، له انګرېز سره جنګېدلی وي،ماته یې ورکړې وي...نه یې مني! بس، سبا له همدې لاوډسپیکر سره کابل ته ځم، لمنې به مو پر سر در واړوم.

قدم شاه وویل:

_دې ته دې نو زه نه پرېږدم.

یودم یې د ځوان ژامې ته سوک ورکړ، ځوان پر کتابونو ولوېد، ما یې تر غبرګو ورنونو لاسونه تاو کړل، قدم شاه یې پر ټټر کېناست، د ځوان تر ستوني یې د دواړو لاسونو ګوتې تاو کړې، ځوان زور وواهه، خو له دوو کسانو سره یې نه کېده، بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو پرې ایست. تر یوڅه وخته پورته، پورته غورزېده، خرهاری یې خوت، خړه ځمکه یې پر خپلو نوکانو اړوله...خو وروسته یې سېکه وخته، بس! دوه، یا درې دقیقې یې ټوپونه ووهل، بیا ارام پرېووت.

دواړه غلي دېوال ته کېناستو، د خپل زړه دربا مې غوږونو ته راتله. بیا ولاړ شوو، د ځوان جسد مو له پښو او لاسونو ونیو، څومره چې مو وس کېده، په سمڅه کې مو مخکې یووړ. بېرته راغلو، د لاوډ سپیکر سیم مې ټول کړ، تر سهاره لړزې نیولی وم.

قدم شاه تر غرمې دوه ځله پورته را وخوت، ویې ویل چې ځینې قومي مشران دې لیدو ته راغلي، خو زما په زړه کې د خبرو زور نه و پاتې.

ماسپښین مې سترګې سره ورغلې، تر ماخستنه ویده وم، شپه مې په رڼو سترګو تېره کړه. اخیر مې د چانسلر خبرې ذهن سره را ټول کړ، یو وخت یې راته ویلي و چې زموږ په کار کې، وېره، رحم او شفقت نه شته، که دې کومه ورځ زړه نری شو، نو پوه شه چې بریتانیې ته خدمت نه شې کولای.

سهار مې ګېډه ډکه کړه، د باندې ووتم، هوا سړه لګېده، د ځینو ونو پاڼې ژېړې وې. کله چې بېرته سمڅې ته ورغلم، لینګي مې ولړزېدل، د ږېرې خرېلي ځوان نیکه او یو بل له عمره پوخ سړی ناست و.

بوډا مې پښو ته را ولوېد، یودم یې وژړل، خپل ورک لمسی یې غوښت...خو ما ورته وویل چې دلته نه دی راغلی.

له عمره پوخ سړي مې لاسونه ښکل کړل، په غریو کې یې وویل چې زه د عبدالله پلار یم، عبدالله مسلمان هلک دی، پنځه وخته لمونځ کوي، بس! بېګا نه، ها بل بیګاه مو یو څه سپک کړ، ورته ومو ویل چې د خدای دوستان مه خپه کوه...بس! سهار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



برسټن وه، دی نه و، تېره ورځ مو د ټولو خپلوانو کورونه پسې وکتل، خو ځمکه وچاودېده، عبدالله پکې ننوت.

د سپین ږیرې غږ مې واورېد:

_یا پیرګله! د خدای روی ومنه، لمسي مې خوابدی کړې، نادان دی، ویې بخښه!

بوډا ته مې وکتل، رڼې اوښکې یې د ږیرې سپینو ډکو ته ور روانې وې.

ومې ویل:

_اکا، زه په زړه کې کومه عقده نه ساتم، ډېر خلک به پیر او فقیر نه مني، خو....

د بوډا ژړا زور ونیو:

_پوهېږم چې ته له زړه صاف سړی یې، حوصله لرې، خو قربان دې شم، ستا سپکاوي به دې کوم مرید پیري ته خوند نه یې ورکړی، عبدالله جان به یې.

زورورې ژړا پاتې خبرو ته پرې نه ښود.

د بوډا پر ډنګرو اوږو مې خپل لاسونه کېښودل، ومې ویل:

_زړه دې غټ ونیسه! پیریان زما له اجازې پرته هېڅ هم نه کوي. د عبدالله غوندې ځوانان ژر احساساتي کېږي، د تاسو سپکې به یو څه خوابدی کړی وي، په خپله به پیدا شي.

د عبدالله پلار په خواره خوله وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_قربان دې شم، مور خو خپله وسه وکړه، د عبدالله درک ونه لګېد، خیر دی، تاته څه سخته ده، ځندکي ته ووايه، پيدا به یې کړي.

ورته ومې ويل چې سمه ده، دربیمه ورځ احوال واخلئ.

یوه شیبه کېناستم، فکر مې وکړ، لاسي بټۍ مې را واخيسته، په سمڅه کې مخکې لاړم، د عبدالله جېبونه مې ولټول، کارت، څو پيسې، او يو سپين خامک شوی رومال مې ترې را وايستل. بېرته د سمڅې خولې ته راغلم، کارت ته مې وکتل، عبدالله په ترکيه کې د انقرې د پوهنتون د دوهم کال محصل و. ده انجنيري ويله.

دربيم سهار بوډا او د عبدالله پلار بيا راغلل، د يوه ديني کتاب د ابنودلو پر پلمه مې تار را کش کړ، له پورته سپين رومال را ولوېد. له عمره پاخه سړي په بېړه رومال ور واخيست، خو بوډا د هغه له ګوتو وايست، رومال يې څو ځله ښکل کړ، په غريو کې يې وويل:

_دا خو د عبدالله جان رومال دی، څو ورځې مخکې يې خور ورته جوړ کو.

ومې خندل:

_بس! ځندکي پيري را ووړ، ويل يې چې عبدالله مې په کابل کې وليد، ترکيې ته يې د تګ تیاری نيوه. ځندکي دا رومال د دې له پاره ترې را پټ کړ چې ستاسو زړه ته ولوېږي.

له عمره پوخ سړي مې لاسونه ښکل کړل، خو بوډا رومال ته کتل...په لندو سترګو کې يې ځلا پرته وه.

ځان مې خواشينی ونيو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خو هلک مو ډېر خوابدی کړی، فکر نه کوم چې تر کال دې شپو دې کوم خط یا احوال درته را ولېږي.

له عمره پوخ سړي په خوشالۍ وویل:

_بس! دی دې خدای ژوندی راته لري، له خط او احواله یې تېر.

دواړه روان شول، بوډا د خپل لمسي رومال په خپلو ګوتو کې ټینګ نیولی و.

په درېیم سهار قدم شاه چیني ته کښته شو، تندی یې تریو ونیو، ګڼو خلکو ته یې وویل چې سمڅه له پېریانو ډکه ده، زه یې غږونه نه اورم، خو قربان یې شم، پیرګل ټوله شپه د پېریانو د ماشومانو د چیغو او شوخۍ له لاسه رنه تېره کړي....

تر دې بل لوی ثواب! بس! نر هغه و چې ډېرې ډېرې راوړي، په هماغه ورځ سمڅه لنډه شوه، د عبدالله مړی، زاړه اخبارونه او څه نور بېکاره شیان تر دېوال ور هاخوا پاتې شول.

بله ورځ مو د سمڅې خولې ته لیمڅي ونیول، خو یخني له ګذارې وتلې وه.

قدم شاه اوازه واچوله چې بغدادي پیر په دې سمڅه کې ستړی شوی دی، بغداد ته ځي.

ګڼ خانان او ملکان راغلل، دوی دا د بخت غمی ( بغدادي پیر) کله بل ځای لورېده . هر یوه به د پیر د پاتې کېدو خواستونه کول، یوه به ویل چې نوې کوټه ورته جوړوم، بل به کلا ورکوله، بل به ...

پیر مغروره څېره نیولې وه، غلی ناست و، زورورو خلکو به د پیر پر سر له یو بل سره دعوې کولې، وړه خبره نه وه، پیر کور او کلي ته برکت ور ووړ، دا برکت هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه غوښت ....خبرې اوږدې شوې، نه سره جوړېدل، اخیر یې زما نظر وغوښت. ماته تر ټولو د ملک ځونډي د مېلمنو کوټه ښه وه، دا سړی په یوه لوی کلي کې پروت و، ژمی هم نه بېکاره کېدم، له ډېرو ککریو مې د امان الله خان مینه ایستلی شوای.

په سبا پنځه کسان له څو کچرو سره راغلل، خو د پیر یوې وړې خلطي او څو کتابونو دومره زحمت نه غوښت، پر خپل آس کېناستم، غرمه یوې درې ته ورسېدو، په لویو ډبرو کې د روانو نریو اوبو دواړو غاړو ته د غره لمنې سلګونو خړو کورونو نیولې وې. ځای ځای به یوه برجوره کلا هم ښکارېدله، برجونه یې د مورچو په ښه جوړ ول.

سلګونه واړه او زاړه مخې ته راغلل، له آسه کښته شوم، ښی لاس مې تر ډېرو پورته نیولی و، د ښکلولو وار نه کېده، وروسته ستړی شوم، هر یوه به په خپله زما ځړېدلی لاس تر خپلو شونډو ور ووړ.

بامونه له سرو- زرغونو ټکریو ډک ول، ښځې وې، د ځار او قربان غږونه راتلل...د ملک ځونډی تر کلا اووه پسونه په لاره کې حلال شول، د ملک اوږده مهمانخانه د کلا پر دېوال پورې نښتې وه، له ختو جوړې زینې یې درلودې، د خلکو په ګڼه ګونه کې په سخته پورته وختم.... ملک ځونډي له ډېرې خوشالي وازه خوله نیولې وه، په سترګو کې یې غرورو ښکارېده. هسکه غاړه ته، دا سړی ګرم نه و، بغدادي پیر په دومره خانانو او ملکانو کې د ده کوټه خوښه کړې وه.

تر یو څه وخته له ملایانو او سپین ږیرو سره کېناستم، ځان مې نه بې ارښته کاوه، قدم شاه غږېده.

ډوډۍ مو وخوړه، ټول لمانځه ته لاړل، خو پیر پښې وغځولې، چا دومره زړه نه درلود چې بغدادي پیر ته لمونځ او جومات ور یاد کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک څونډي ته مې وويل چې ستړی یم، څوک مه را پرېږده.

ملک په منډه له کوټې ووت.

قدم شاه دروازه ځنځیر کړه، مخامخ بل ووړ ور ښکارېده، پورې مې واهه، کوچینۍ کوټه د مکتب له کتابونو ډکه وه. فکر مې وکړ، دا کتابونه مې باید په بل، تر دې ښه وخت کې یاد کړي وای.

غړونه راغلل، د لویې کوټې وړې کړکۍ ته ودرېدم، د باندې ګڼ کسان ولاړ ول، له عمره پخې او زړې ښځې هم پکې ښکارېدلې، نه تکیه کېدل، همدا ګړی یې د بغدادي پیر لیدل غوښتل، خو ملک څونډي ورته ویل چې مبارک ستړی دی،سبا راشئ، اوس ساسموي....

تر ماښامه چا دومره زړه نه درلود چې دروازه خلاصه کړي، ماښام په خپله د باندې ووتم، وار له واره د تودې ډوډۍ بوی راغی. لاندې مې وکتل، پر ډېران سرې چرګې ګرځېدې، یوه ځوان اخورونو ته ولاړې کتار غواوې خلاصولې...ور هاخوا د ګڼو کورونو له موریو ( دودکشونو ) تور لوګي پورته کېدل.

د یوه ماشوم ناره مې واورېده:

_هلې! پیرګل راوتلی.

په منډه کوټې ته ننوتم.

ماخستن مې له ملک څونډي، د کلي له ملا او څو نورو سپین ږیرو سره ډوډۍ وخوړه، یوه ماشوم لاسونه را پرې مینځل، کله چې د باندې لاړ، ملک څونډی اوچت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې ولاړ شو، غږ يې راته، ماشوم ته يې په زينو کې وويل چې د پير صېب د لاسونو مبارکې اوبه غواوو ته کېږده، د سلو مرضونو دوا ده.

شپه مې توده تېره کړه، تاوخانه ښه لګېده.

درې ورځې مې تاويذونه ورکول، خو د کلي ناروغان او د دعاوو غوښتونکي نه خلاصېدل. وروسته د نورو کليو خلک را مات شول، د ملک د کوټې تر مخ به درجنونه خرې ولاړې وې، پر ملاو به يې سرې، شنې بړستنې او توشکونه پراته ول، زړې او له پښو لوېدلې ښځې به پر خرو راوړل کېدې.

ستړی وم، چاره نه وه، خو د هوا په سړېدو سره د خلکو ګڼه ګوڼه کمه شوه، له غرمې وروسته به مې په ارام زړه خوب کاوه.

دې لوی کلي دوولس جوماته لرل، خو تر ټولو لوی جومات د ملک ځونډي و. کله کله به ملا صېب په خواره خوله جومات ته د ورتلو بلنه راکوله، خو ما به خلک بانه کړل، خو اوس ګڼه ګوڼه کمه شوې وه، دا خبره نه چلېده.

يو مازديګر په نه زړه جومات ته ورغلم، د ملا صېب په ټينګار کتارونه راپسې ودرېدل، د پټې خولې لمونځ و، ستونزه مې نه درلوده، خو د ماښام آذان مې زړه وخوړ، ملا صېب ته مې وويل چې ستا په ځېر لوی او سپين ږيری عالم به څنګه راپسې درېږي.

يو ټيټ غږ راغی:

_قربان يې شم! دې ته وايي د پيرګل خاکساري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا صېب کلیوالو ته وکتل، په سترګو کې یې غرور پروت و . نه و ملامت، د بغدادي پیر غونډې لوی عالم پسې درېده. مخکې شو، خو د ملک ځونډې او ځینو نورو کلیوالو تنډې تروې شوې، د پیرګل په امامت کې یې ډېر ثوابونه لیدل. بوډا ملا نا امېده ودرېد، د ملک ځونډې غوږ ته مې خوله ور ټیټه کړه، ومې ویل چې سپین ږیری دی، زړه یې مه ور ماتوه.

وروسته مېلمستیاوو زور ونیو، هر یوه غوښتل چې د کور دسترخوان یې برکتي شي، خو ما به یواځې د هغو کسانو غوښتنې منلې چې خبرو یې پر نورو تاثیر درلود.

یوه ورځ ملک ځونډی راته کېناست، واده یې غوښت، خو د توتکۍ پلار ورته ویلي و چې د هوا تر تودېدو پورې به نه سره په عذابوو. خانګل مې را وغوښت، په سخته مې قناعت ورکړ.

یوه اوونۍ وروسته واده تیار شو، ورځ په ډولونو تېره شوه، مازدیګر یې ناوې راوړه، د نکاح په وخت کې د ملک ځونډي نوې سرې کړې ږیرې د څراغ ژېړې رڼا ته سره لمبه کوله.

کلا له ښځو ډکه وه، تر ډېره د چمبې غږ راته، ملک ځونډی له موږ سره پرېووت. یو وخت چیغې شوې، قدم شاه څراغ ولګاوه، حاجي ځونډی پر خپل ځای ناست و، پکه ککرۍ یې ځلېدله. یودم د کوټې دروازه له دېوال سره ولګېده، دوې زړې ښځې راغلې، ژړل یې...خبره مالومه شوه، توتکۍ په نیمه شپه کې تښتېدلې وه.

ملک په بېړه د باندې ووت، کړکۍ ته ودرېدم، د ناوې تېښته د پټېدو نه وه، په کلي کې بل څراغونه ګرځېدل....

سر مې ولګاوه، لس بجې له خوبه را پورته شوم. ملک راغی، ژړل یې...ویې ویل چې په توتکۍ پسې یې ټول کلی ولټاوه، پیدا یې نه کړه... ژړ ایې زور ونیو، د بوډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ته لوېدلې وه چې توتکۍ له کوم چا سره تښتېدلې ده، ملک خپل عزت په خاورو کې لید، دا لویه رسوایي یې نه شواې زغملاې، همدا ګړۍ یې له خدایه خپل مرګ غوښت.

یودم د توتکۍ وروستۍ خبره په ذهن کې را تېره شوه (( ژېړ کمر خو شته )).

زړه مې ولړزېد، ومې ویل:

_ژېړ کمر چېرې دی؟!

ملک په لندو سترګو راته وکتل.

همدا خبره مې بیا تکرار کړه، ملک په غریو کې وویل:

_د هدیرې پر سر.

د باندې ووتو، تر کورونو تېر شوو، ور هاخوا لویه هدیره پرته وه، پر شناختو ټومبلې رنګارنګ ټوټې باد وهلې...مخکې لاړو، د غره په ډډه کې تېره هسکه ژېړه پرښه ولاړه وه.

لاندې مې وکتل، لیرې پر یوې غټې ډبرې سور ټکری پروت و. منډه مې ور واخیسته، د واده په جامو کې ځوانه نجلۍ په خپلو وینو کې پرته وه.

ملک ځونډۍ را ورسېد، ساه یې لنډه لنډه کېده، شکرونه یې ایستل، عزت یې پر ځای پاتې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د توتکۍ جنازه وړه وه، ان ملا هم نه ورته، ويل يې چې نجلۍ ځان وژلی، نه بخښونکې ګناه يې کړې، جنازې ته به څنګه ورځم! خو ما مجبور کړ، په نه زړه ورغی.

ناروغه شوم، سرې تبې مې کېدلې، د نجلۍ په وينو سور تندی مې له ذهنه نه ووت.

د توتکۍ د مرګ په اتمه ورځ د ملک ځونډي اتيا کلنه مور مړه شوه. ملک له خيرات پرته د مور خاورو ته سپارل لويه بې غيرتي ګڼله، جنازه يې سبا ته پرېښوده.

جنازې ته دوه، دوه نيم زره کسان راغلل، ملايان وغرېدل، يو کال مخکې به لا ملايانو د خبرو په پيل او پای کې امان الله خان ته دعاوې کولې، دا عادل پاچا يې پر ځمکه د خدای د عدالت سيوری ګاڼه... خو پير بغدادي خپل کار کړی و، اوس ملايان پر پاچا تېز ور تلل، له نوم سره يې د ( غازي ) ټکی نه ياداوه. يوه خو ان پاچا د کوپر پر څنډه ولاړ ليد...

له مانه د خبرو د کولو هيله وشوه، ضرورت مې نه ليد، کومې خبرې چې به ما کولې، نورو وکړې. خو بيا مې هم يوه خيالي کيسه ورته تېره کړه، ومې ويل چې څو ورځې مخکې د شور بازار حضرت صېب مبارک نور المشايخ، امان الله خان ته ورغلی و، ورته ويلي يې وو چې په کابل کې عياشي ډېره شوې ده، چاره يې وکه، خو دا خبره پر پاچا بده لګېدلې وه، مبارک يې درې شواروزه په تشناب کې بندي کړی و...

د شور بازار حضرتان مشهوره ول، خلکو ناليدلي پېژندل. ټولو ژړل...

خبرې مې را لنډې کړې، ومې ويل چې نور وخت مه تېروئ، جنازه هديرې ته يوسئ! تر دې زيات د مړي ساتل حرام دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمې ته کتار ولاړو خلکو د لندې ډوډۍ سلګونه کاسې يو بل ته ورکولې، دا کاسې د جومات تر مخ لويې فرش شوې ميداني ته تلې، له کاسو مړه تاوونه پورته کېدل....

ورځ مې ستړې تېره کړه، خو د ملک څونډي يې کور ودان، په غم کې يې هم د پير هوساينه په ياد وه، شپې ته پاتې شوي له ليرو ځايونو راغلي خانان او ملکان يې د خوب له پاره په کورونو تقسيم کړل.

د مکتب د کتابونو د يادولو له پاره مې تر دې ښه وخت نه شو موندلی.

سهار وختي مې د دروازې پر سر له ايښي قران شريفه اووه جامې ( ټوټې ) خلاصې کړې، بيا مې د جاسوسي د وسايلو له خلطې يوه سپرې را واخيسته، دا سپرې د اوښکو د بهېدو له پاره وه، يو پاو به له سرو سترګو رڼې اوبه تلې.

له لمر ختو سره د پښو دربې شو، مېلمانه د چايو له پاره کوټې ته راتلل. سپرې مې سترګو ته ونيوله، له فشس سره مې سترګې وسوځېدې، څادر مې پر سر راکش کړ، غلی کېناستم.

دروازه خلاصه شوه، د سلام اوازونه راغلل، خو زه سونګېدم... د ملک څونډي حيرانه غږ مې واورېد، له قدم شاه يې د خيريت پوښتنه کوله، خو قدم شاه ورته وويل چې پيرګل له نيمې شپې راهيسې همداسې ژاړي.

پر څنګنو مې لاسونه ولګېدل، د ملک څونډي غږ مې واورېد:

_قربان دې شم، څه خبره ده؟

څادر مې ليرې کړ، د ملک څونډي سترګې رډې را وختې، ورو يې وويل:

_ولې ژاړې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



يودم په احساساتو راغی:

_چا خو به نه يې خوابدی کړی، را ته ووايه! ښځه راباندې طلاقه، که د ژوند څکه رانه وکې.

ناستو کسانو ته مې وکتل، له وېرې ډکې، حيرانې سترگې يې راته نيولې وې.

په غريو کې مې وويل:

_مه پسې گرځه! کومه خبره نه ده.

خو ملک ځونډي کله پرېښودم، د پيرگل ژړا وړه خبره نه وه.

په خواره خوله يې وويل:

_قربان دې شم، زړه مې چوي، راته ووايه، د ا سرې سترگې خو دې بې څه نه دي.

ومې ويل:

_په دې وړه کوټه کې دا کتابونه څه کوي؟!

ټولو يو بل ته وکتل. ملک ځونډي په خواره خوله وويل:

_تر تا مې ځار کې، دا خو يې دا څو مياشتې مخکې له کابله راوړل، ويل يې چې د ځړمنې ( پسرلي ) په اوله مياشت کې به په کلي کې مکتب جوړېږي. يواځې موږ نه، ټولو کليو ته يې د اول او دوهم صنف کتابونه راوړي دي.

ټنده مې تروه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تاسو قران شریفونه غواړئ، که د مکتب کتابونه؟!

ټولو یو بل ته وکتل....
یودم مې وژړل، ژړا مې تېزه کړه، په کوکو کې مې وویل:

_بیګا مې قرآن شریفونه په خوب لیدل، د کلي له کورونو یې منډې وهلې، مخې ته یې ودرېدم، ورته ومې ویل چې څه خبره ده! ولې کلی پرېږدئ؟! دوی په دې وړه کوټه کې ایښي د مکتب دا کتابونه یادول، ویل یې چې زموږ او د کوپړي کتابونو نه سره کېږي... خواست مې ورته وکړ، ومې ویل چې دا خلک تک، سپین مسلمانان دي، پیران مني، خیر دی، زه به یې پوه کم، که یې خبره نه منله، لاره خو مو چا نه ده نیولې. بس! په سختنه مې را وګرځول.

ملک ځونډي د وره سر ته وکتل، سترګې یې رډې را وختې، پوهېدم چې په ذهن کې یې څه ور ګرځي! پورته ایښي قران شریف به خامخا د تېښتې پر وخت خپلې جامې لیرې کړې وې.

د پزو سونګا راغله، ناستو کسانو ژړل....

ملک ځونډی په بېړه ولاړ شو، قرآن شریف یې تر ډېرو په خپل ټټر پورې ټینګ نیولی و، توبې یې ایستې، ژړل یې....وروسته یې یودم چیغه کړه!

_بارانه!

یو خیرن ځوان راغی، له جامو یې د خوشایو بوی ته!

ملک ځونډي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هله، دوه، درې نور مزدوران هم درسره که، همدا اوس به له وړې کوټې ټول کتابونه باسې.

خیرن ځوان په خواره خوله وویل:

_د کور کوټو ته یې یوسو؟!

ملک چیغه کړه!

_وه کم عقله، کور ولې بې برکته کوي، چېرته یې وغورځوه.

په ناستو کسانو کې یوه چاغ سړي وویل:

_ملک صېب! دا کتابونه ما لیدلي، بسم الله پکې لیکلې، د خدای او رسول له نومونو ډک دي، ګناه لري، که زما منې، په اوبو کې دې یې واچوي.

د ملک ځونډي تنده لا پسې تروه شوه!

_همدا ځو ټکي یې ام د اعتبار له پاره پکې راوستي دي، هر چېرته چې یې وړې، مخصد ( مقصد) له کلي یې ورک کئ!

یو بل ډنګر سړي وویل:

_ښه خبره ده، دا کتابونه یې موږ ته هم را لېږلي دي، ورک به یې کو، خوله حکومت سره به څه کوو؟!

ملک ځونډي ځو ځله خپل سر وخوځاوه، تنده یې تروه شوه، ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_هی هی! له ایمانونو خلاص یاست، له خدایه نه وېرېږې، له حکومته مو زړونه چوي، ښځې خو نه یاست، لونګی مو تړلې، تر دې به بله کومه سخته ورځ درباندې راځي چې قران شریفونه مو له کورونو تښتي! وایم که یې څه ویل، وچ یې پر دا تندي ولئ، مردار یې کئ، تر دې بله لویه غزا به چېرې پیدا کئ....

وړه کوټه په هماغه ورځ له کتابونو تشه شوه.

لومړی واورې، غرونه سپین کړل، دوهم ځل اوارې ته راغله، درېیمې

وریدا، د کلیو لارې وتړلې.

ژمی په مزو روان و، ګرمه بخارۍ، د لاندې او چرګانو غوښې، مېلمستیاوي او خوبونه! بس! څو ځله د سویانو ښکار ته هم لاړو، په واوره کې به د
سوی پلونه اسانه موندل کېدل، په پلونو پسې به مو ګامونه واخیستل، سوی به منډه کړه، خو ملک ځونډي کلیوالو ته ویلي و چې پام! تازیان به نه ور پرېږدئ! د پیر صېب باید پام غلط شي، کوم سوی چې به د پیر د ټوپک له ګولۍ روغ ووت، بیا به تازیانو منډې پسې وهلې....د ښکار سویان به ډېر ول، خو د پیر صېب ویشتلي سویان به همالته ټوک ټوک شول، یوه یوه ټوټه غوښه به یې د تبروک له پاره کورونو ته وړل کېدله.

د ژمي د وروستۍ میاشتې په پای کې واوره ټوله شوه، خلک بیا را مات شول، ان د کرښې د ها غاړې قبایل به هم دم او دعا ته راتلل....

یو مازدیګر په جومات کې ناست وم چې راجندر راغی، راجندر عیسوي و، په ملتان کې یې د بریتانیې په پوځ کې لویه وظیفه درلوده.

د وارخطایۍ خبره نه وه، بغدادي پیر ته ډېر کسان راتلل، یو یې هم راجندر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس مې د ښکلولو له پاره ور وغځاوه، راجندر ټيټ شو، ناڅاپه مې ټول ځان وربېرديږد، د راجندر له غاړې په ژېړ ځنځير پورې پېيلى غټ صليب را وځړېد.

په سترګو مې اشاره ورته وکړه، خو ساده راجندر زما پر لاس را پرېووت.

صليب نو د پټېدو شی نه و، هر څوک چې د ډيورنډ تر کرښې اوښتي ول، کليساوې به يې خامخا ليدلې وې.

لومړی مې يو ټيټ غږ واورېد:

_نصارا دی!

بيا ګونګوسې شوې... وروسته يوه ناره کړه!

_کاپر جومات ته راغلی.

چېغې شوې، په سلګونو سترګې رډې راوختې.

ملا صېب نه وړه، نه يې راوړه، وار له واره يې د راجندر د وژلو فتوا ورکړه! ملامت نه و، کاپر، جومات او دا ځای! چې دا سړی يې نه وای مړ کړی، نو څوک به يې واژه!

لينګې مې ولړزېدل، له پښو مې د ولاړېدو سېکه ختلې وه... راجندر ته لاسونه ور ولوېدل، د سترګو په رپ کې وارخطا راجندر هوا ته پورته شو.

چيغه مې کړه!

_ودرېږئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راجندر پښې پر ځمکه ولګېدې، په مخ کې يې ټکی وينه نه وه پاتې.

يودم موسک شوم، ومې ويل:

_تاسو خو يو ځل په خبره ځانونه پوه کړئ!

يوه په غوسه وويل:

_قربان دې شم، پوه يو، د خدای دښمن مو د خدای په کور کې ونيو.

ومې خندل:

_چا ويل چې پوه ياست! په هېڅ هم نه پوهېږئ! دا سړی د خدای دښمن نه، د خدای دوست دی.

حيرانې سترګې را واوښتې.

ولاړ شوم، راجندر ته مې کلکه غېږ ورکړه، ټنډه مې يې ښکل کړه، تر څنګ مې کېناوه. ورته ومې کتل، موسک شوم، ومې ويل:

_مبارک، مبارک، مبا....

د ټولو خولې وازې پاتې وې....

ومې ويل:

_د چا اول سمه وي، د چا اخېره، خو د دې سړي زړه په اخيره کې له نوره ډک شو، بېګا ړندکي راته وويل چې قربان دې شم، ستا يو ليکلی کتاب په ملتان کې د يوه کاپر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې رانه لوېدلی و، کاپر ولوست، اوس را روان دی، د لارې سختو ته يې ځان ور کړی، غواړي چې ستا تر مخ ايمان راوړي.

خلکو په حيرانۍ راته کتل.

راجندر په پښتو نه پوهېده، په انګليسي مې ورته وويل:

_احمقه! نو دومره اشتباه!

غلی شوم، ملا ته مې وکتل، ومې خندل.

_بس! مولوي صېب! سړی تيار دی، کليمه ور ښيه!

د ټولو سترګې و ځلېدې.

د وارخطا راجندر غوږ ته مې خوله ور نږدې کړه:

_که غواړې چې ژوندی پاتې شې، نو يوه خبره واوره، څه چې دا سپين ږيری وايي، پسې تکراروه يې.

کليمه وويل شوه، جومات د الله اکبر چيغو پر سر واخيست. له هرې خوا مبارکۍ راغلې...

بيا د نوم وار شو، راجندر ته يې عبدالرحمن نوم وټاکه!

خلک خوشاله ول، نوي عبدالرحمن ته يې مبارکيانې ورکولې.

راجندر ته مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_تر اوسه مې لا زړه ځای ته نه دی راغلی، یوه سزا باید ووینې.

یودم مې ناره کړه!

_د عبدالرحمن جامې مو څنګه هېرې دي!

د خلکو تبروک ته ور پام شول، لاسونه ور ولوېدل، راجندر چیغې کړې، څررر شو، دوې دقیقې وروسته لوڅ لېږ و. ان یوه عمر خوړلي بوډا یې نېکر هم کشاوه، خو ما منع کړل.

وارخطا راجندر مې په خپل څادر کې پټ کړ. خو ډېر ژر نوې لونګۍ، له سنیو اوبدلې کوټ ، پټو او جامې ورته راغلې.

ماخستن مې کوټې ته بوت، راجندر د خپل بوټ له تلي یو کوچینی کاغذ را وایست، چانسلر لیکلي و چې په کابل او غزني کې یې زموږ دوه جاسوسان اعدام کړل، خبرې دې یو څه پستې که، خو که بیا هم کوم خطر وینې، ځانونه را وباسئ!

له قدم شاه سره مې مشوره وکړه، ویې ویل چې ستړی یم، ماشومان مې یادېږي، خو یو- دوه میاشتې نوره پاتې کېدا مو په ګټه ده، یو ځل باید تر سرې غونډۍ هم ورشو.

د ویدېدو پر وخت مې راجندر ته وویل چې بچو! ودرې! سهار به د کلي نایي را غواړم! د سنتېدا کار دې لا پاتې دی.

وارخطا سړی مې پښو ته را ولوېد، تر ډېرو یې زارۍ کولې....

سوزان د خپل غور نیکه د کتابچې پاڼې سره ور وستې، کوټې ته لاړه، پلار، مور او ورور یې تلویزیون ته ناست ول، تر ویدېدو مخکې یې بیا کتابچه خلاصه کړه، ډېوېډ جونز لیکلي ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_د هوا په ګرمېدو سره بېرته سمڅې ته لاړو، د دم، دعا بازار له سره تود شو، د بغدادي پير د كراماتو اوازه تر كلاته هم رسېدلې وه، خلكو په په شپو ورځو مزل كاوه، ستړې به يې ګاللې، ځانونه به يې تر پيره را رسول.

يوه ورځ په لومړي ځل څلور افغان پوځيان راغلل، مشر يې تک سپين مخ او اوږده توره ږېره درلوده، سمڅې ته د راختو په وخت يې د ټوپک كنداغ له راوتلې تيږې سره ولګېد، تر ډېرو يې د ټوپک كنداغ ته كتل، بيا يې سپينه ټوټه پرې تېره كړه.

پورته راغی، ستړې مشې يې توده وه، ويې ويل چې ژمی يې د كرښې په يوه قرارګاه كې تېر كړ، ګردېز ته ته، زما د ليدو په خاطر يې لاره راكړه كړه.

مشر اوږدې خبرې وكړې، د شوربازار د حضراتو په صفت نه مړېده. وروسته يې د امان الله خان خبرې را واخيستې، ښه زړه يې نه ترې درلود، تركيې ته د زده كړې له پاره د افغانو نجونو په لېږلو خواشينی و، خو ما امان الله خان، پوه او مدبر انسان ياد كړ، د پاچا په ديندارۍ او هېواد پالنه كې مې شک نه درلود.

د پوځيانو له تلو وروسته قدم شاه را په غوږ شو، ويې ويل چې دې سړي هسې هم په پير او فقير باور درلود، له امان الله خانه د دې سړي د زړه د تورېدو له پاره ښه موقع وه، خو تابرعكس، د پاچا صفت ورته وكړ.

قدم شاه ته مې وويل چې دومره مه ساده كېږه، له دې سړي ويره په كار ده.

قدم شاه په حيرانۍ راته وكتل.

ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_په کرښه کې پرتې افغان پوځي قرارګاوې دومره امکانات نه لري چې د ژمي په ځله کې دې دا سړی داسې پاک او تک سپین ترې را ووځي. بله دا چې د دې مشر د ټوپک پر کنداغ خوا بده شوه، مانا بیت المال ته صادق دی او پر وطن یې زړه خوږېږي، نو وطندوسته انسان، یواځې وطندوسته امان الله خان غواړي.

غلی شوم، ومې ویل:

_دا سړی دستوري را لیږل شوی و، نور مو دلته پاتې کېدا خطرناکه ده.

خو د قدم شاه زړه ته نه لوېده، ویې ویل چې زموږ په کار کې ډار نه شته.

یوه اونۍ وروسته له پېښوره یو کوچینی کارټن راغی، خلاص مو کړ، حیران شوو، د امان الله خان او ملکې ثریا له لوڅو عکسونو ډک و.

د کارټن را وړونکې راته وویل چې دا عکسونه له لندنه راغلي دي، د پاچا او ملکې خبرې یې را اخیستې، د نورو کسانو پر لوڅو بدنونو یې ایښې، بیا له همدې عکسه نور عکسونه اخیستل شوي دي.

داعکسونه په دومره مهارت جوړ شوي وو چې جعلکاري یې په اسانه نه ښکارېده.

په لومړي ځل مو دا عکسونه یواځې شناخته وو ته ورکول، بیا مو تر وردګو، غزني او زابله پورې ولېږل.

خلکو به توبې ایستې، اوس پاچا او ملکه د کوپر پر ژۍ نه، کوپر ته ور لوېدلي ول.

یو سهار یوه بل جاسوس د چانسلر خط را ووړ، سترګې مې رډې را واختې، چانسلر لیکلي و چې ځانونه راباسئ، لارنس ( پیر کرم شاه ) یې له اسنادو او شواهدو سره ونیو، اعدام یې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هماغه ساعت مو د جاسوسي وسایل او پاتې دوا په خلطه کې واچول، قدم شاه ته مې وویل چې په تیاره کې به له دې ځایه ځو، خو قدم شاه یواځې یوه بله شپه غوښته، ویل یې چې نن بېګا به د سرې غونډۍ خزانې ته ورشو، سبا ماخستن به له دې ځایه پښې سپکې کړو. خو ما ونه منله، نور نو په افغانستان کې یوې ورځې پاتې کېدا هم خطر درلود!

په تیاره کې د باندې را ووتو، سپوږمۍ وه، په احتیاط لاندې لاړو، له سماوراونو خرهارۍ، د ناروغانو ځګیروي او د یوه ماشوم ژړا راتله.

آسونه مو تر قیضو ونیول، پلې ورسره تلو... پر ډبرو د آسونو د نالونو د لګېدا غږونه مې تر زړه تېرېدل....

یودم له ونو ګڼ کسان را ووتل، په غره کې زوروره چیغه را وګرځېده.

_شور ونه خورئ!

زړه مې پښو ته ولوېد، لسو،دولسو پوځیانو منډه را واخیسته، څو چې مو ځانونه خوځول، تر لاسونو مو پړي تاو شول.

لاس تړلي یې چینې ته را وستو، خلک له بلو څراغونو سره را ووتل. خوبولې سترګې له حیرانۍ ډکې وې.

سمڅې ته یې بوتلو، یوه پوځي څراغ ولګاوه، بل د بوجۍ خوله ځمکې ته کړه، له کړنګ سره لاوډسپیکرونه، سیمان، سپیرې، تارونه، دوا، رنګارنګ ګروپونه...ولوېدل.

یوه له ونې لوړ پوځي ورو وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ډېوېډ جونزه، درې شپې مو په ونو کې درته تېرې کړې، د نورو جاسوسانو راتګ ته ماتله وو، خو تا د تېښتې له پاره ډېره بیړه وکړه.

غلی شو، دېوال ته ور وګرځېد، لاس یې پرې تېر کړ، ویې ویل:

_ډېر وخت نه دی پرې وتلی، رنګ یې کړئ!

یوه پوځي د دېوال د سر تیرې ته برچه ونیوله، تیره په سخته را جلا شوه، خو نورو تیرو دومره زحمت نه غوښت، په اسانی لاندې را لوېدې....

سمڅې ته ګڼ خلک راغلل، د ټولو سترګې ردې را ختلې وې.

یو رېږدېدلی زوړ غږ راغی:

_څه خبره ده؟!

له ونې لوړ پوځي وویل:

_دا سړی، پیر نه، انګرېز دی، ګردېز ته یې بیایو.

خلکو یو بل ته وکتل، بوډا چیغه کړه!

_سپینې پښتنې خو مو پرنګیانو ته ور ولېږلې، شرم نه لرئ! اوس مو د خدای په دوستانو پسې ام را اخیستې ده.

پوځي ټیټ شو، لاوډ سپیکر یې را پورته کړ، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دې سړي دوکه درکړې، هېڅ کرامات نه لري، دې ته لاوډ سپیکر وایي، لاندې به یې ستاسو خبرې اورېدې، دلته به یې ستاسو نوم اخیست...سوچ انګرېز دی، د پاچا د بدنامولو له پاره کار کوي.

یو ډډ غوسه ناک غږ راغی:

_کوپر مه وایه، په پاچا کې نو څه پاتې دي، له خپلې ښځې سره یې لوڅ لپړ عکسونه اخیستي دي.

بل سړي وویل:

_پاچا خو نه خدای مني، نه پیغمبر! اوس پیران ام نه دې ترې پاتې.

پوځي خوله خبرو ته جوړوله چې بوډا وویل:

_نور خانه! د پیر ګل لاسونه ور خلاص که! که نه نو دا سمڅه به راباندې را پرېوځي.

یو قوي ځوان مخکې راغی، خو پوځي یې پر ټټر لاس ور کېښود.

بوډا چیغه کړه!

_عطاګله، برېڅه، خداینوره...تاسو هم ځانونو ته نارینه وایاست! د پیرګل تړلي لاسونه مو څنګه لورېږي!

څو کسان را مخکې شول، خو پوځیانو ټوپکې ورته ونیولې، ځای پر ځای ودرېدل.

په ونه لوړ پوځي چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_وځئ!

خلک شاته شول، د سمڅې په خوله کې ودرېدل. دېوال ړنګ شو، ګڼ پوځیان مخکې لاړل، تر یوه ځایه د څراغ رڼا ښکارېدله، بیا ورکه شوه، خو شېبه وروسته بېرته د سمڅې دېوالونه ژېړې رڼا ونیول، دقیقه وروسته یې د عبدالله وچ شوی جسد، اخبارونه، مجلې... پر غولي کېښودل.

په ونه لوړ پوځي مې تر مخ ودرېد، ورو یې وویل:

_دا ځوان څوک و؟

غلی وم.

_یودم یې پر ژامه سوک راکړ، ولوېدم، له خولې مې وینو داره وکړه.

چیغې شوې، خلکو ډېرې ور واخیستې، یوه پوځي (اخ) کړل، ولوید، نورو هوایي ډزې وکړې، خلک ودرېدل، سمڅه د سوځېدلو باروتو بوی ونیوله.

په ونه لوړ پوځي چیغه کړه!

_که څوک یو ګام را مخکې شو، خون یې پر خپله غاړه!

غلی شو، ویې ویل:

_او ساده ګانو! له پیرګله پوښتنه وکئ چې دا مړی دلته څه کوي.

بوډا په غوسه وویل:

_کوپر مه وایه! له پیر ګله به څنګه پوښتنه کوو، پیریانو به راوړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوځي ټنډه لا پسې تروه شوه:

_له دې ځایه ورک شئ!

بوډا وويل:

_پيرګله! دا خلک په سمه نه پوهېږي، ولې ماتله يې؟! ژندکی را وغواړه! دا د کوپر زامن به شنه لمبه کړي.

پوځي توپانچه را وایسته، ډز شو، د بوډا پښنو ته نږدې نرۍ دوړه پورته شوه.

شپېه وروسته يې لاس تړلي پر آسانو کېنولو، خو تر موږ مخکې ځو کلیوالو د خپلو آسانو تشو ته پوندې ورکړې، په تیاره کې ورک شول.

ټوله شپه مو مزل وکړ، سپېده چاود یوې تنګې درې ته ورسېدو، چوپه چوپتیا وه، یواځې د آسونو د پښنو ټکا اورېدل کېدله...کله کله به یوه مرغۍ هم وچونېده.

یودم سغ شو، له ټک سره د مخې پوځې ولوېد. ډزې شوې، له ډبرو سره سوکي بادېدل. پوځیانو مورچې ونیولې، آسونه وشنېدل، د ټوپکو له خولو سرې غوړنجې را وتلې....

د آس تشو ته مې د بوټونو غبرګ تلي سيخ کړل، آس منډه واخیسته، شاته مې وکتل، قدم شا را پسې و. یودم مې په ښی اوږه کې نرۍ څړیکه تېره شوه، آس ولوېد، پر لویو ډبرو ورغلم، سر مې پر تېږه ولګېد، پر ځان ونه پوهېدم.

یو وخت مې سترګې رڼې کړې، په کنډواله کې وم. اوږې ته مې وکتل، تړل شوې وه.

د قدم شاه غږ راغی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_زړه دې مه خوره!  ګولۍ وتلې ده.

شاوخوا مې وکتل، د کنډوالې پر ړنګو دېوالونو ګڼ مول وهلي کسان ناست ول.

حاجي پاینده خان راغی، خوشاله و، له پیر سره د مرستې او پنځو افغان پوځیانو د وژلو په خاطر یې ځان په جنت کې لید.

له پاینده خانه مې د نورو پوځیانو پوښتنه وکړه، ټنډه یې تروه شوه، د نورو پوځیانو تیښتې له اضافه ثوابه ایستلی و... بیا یې په خواره خوله د سپینو ګلانو شیره وغوښته، خو ما ورته وویل چې د ړندکي پیري راوړې شېره مو له لاسه ووته، شیره په کڅوړه  کې وه.

د پاینده خان تندی وغوړېد، په لوړ غږ یې د خلطې د راوړلو امر وکړ. یوه له ونې ټیټ سړي خلطه راوړه، خلاصه  مې کړه، د جنسي قوې د ډېرېدو د ګولیو سلامت پاکټ مې ورته ونیو. پاینده خان په حیرانۍ راته وکتل، خو نور د دې خلکو غلطېدا په دې نه ارزېده چې خپل ماغزه وخورم، لنډ مې ورته وویل چې ړندکي پیري ترقي کړې، اوس له سپینې شیرې ګولۍ جوړوي.

دوې شپې مې د حاجي پاینده خان د کور په کوټه کې تېرې کړې، هېڅوک نه و خبر، یوازې پاینده خان مې لید، سهار وختي به یې له لندو وېښتو او تورې کړې ږیرې راته ځاځکې څڅېدل.

په درېیم ماخستن یې دوه کسان را سره کړل، دې خلکو ته پټې لارې مالومې وې، له درې شوارزه مزل وروسته د ډیورنډ تر کرښې واوښتو.

غرمه مو د انګریزانو یوې قرارګاه ته ورسوله، ډاکتر مې د اوږې ټپ وکوت، د خلطې دواوو میکروبي کېدو ته نه و پرېښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه اوونۍ وروسته په پېښور کې د انګرېزانو په نظامي روغتون کې وم، چانسلر له لاهوره زما پوښتنې ته راغی، کلکه غېږ یې راکړه، پر ټپ مې فشار راغی، خو چانسلر تر ډېرو ټینګ نیولی وم.

وروسته افغانستان ته د لېږلو جاسوسانو په باره کې راته وغږېد، ویې ویل چې برېتانیې افغانستان ته ځلور زره کسان لېږلي دي، دا جاسوسان دې هېواد ته په مختلفو څېرو کې تللي ول، څوک موچي و، څوک نجار، څوک معلم، څوک تجار، څوک هم نظامي مشاور...خو تر ټولو په روحاني جامو کې لېږلو کسانو ښه نتیجه ورکړې وه.

چانسلر وویل چې ان د وزیرانو په سویه زړونه یې هم له امان الله خانه خوا توري کړي دي. بس! خبره خلاصه ده، د امان الله خان پر پاچاهي مو تېل وپاشل، اوس یواځې د اورلګیت خلی غواړي.

په میاشت کې مې د اوږې ټپ سره ورغی، بیا له ډېره وخته وروسته حمام ته ننوتم.

یوه لوېشت ږېره مې نوره څه کوله! چاړه مې پرې تېره کړه. بیا تودو اوبو ته ودرېدم، د صابون سپین ځګ تورو خیرو ونیو.

چانسلر یو کال رخصتي راکړه، لندن ته لاړم، له ډېر وخت وروسته مې د هوساینې ساه واخیسته، خو رخصتي مې لا نه وه پوره چې بېرته یې لاهور ته ور وغوښتم.

وار له واره مې قدم شاه ولید، دی د چانسلر د دفتر په دهلېز کې راته ماتله و.

قدم شاه کلکه غېږ راکړه، یوه شېبه کېناستو، د سرې غونډۍ خزانه یې لا نه وه هېره.

وروسته مو چانسلر ولید، ټنده یې هواره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانسلر یو عکس راته ونیو، په عکس کې یو خیرن، له وني ټیټ، خو قوي ځوان ولاړ و، توره ږیره یې درلوده، ګرد پټکی یې تړلی و.

چانسلر ته مې په حیرانۍ وکتل.

د چانسلر سترګې وځلېدې، په خوند یې وویل:

_دا سړی به زموږ پاشلو تېلو ته د اورلګیت خلی وهي.

خبره واضح نه وه، چانسلر باید نور مالومات هم راکړې وای. چانسلر وویل:

_دا سړی حبیب الله نومېږي، خو د سقاو په زوی مشهور دی، څو کاله مخکې په پېښور کې د یوه زرګر د پیسو سیف غلا شو، د سقاو زوی زرګرۍ ته نږدې چای خرڅاوه، د خلکو پر ده شک راغی، ځکه دا دروند سیف له دې سړي پرته بل چا نه شوای پورته کولای، خو د سقاو زوی وتښتید، دوه کاله وروسته په پاړا چنار کې د غلا په تور ونیول شو، هغه وخت د پاړا چنار د قرارګاه مشر راته وویل چې دا ساده سړی د امان الله خان ډېر ضد دی، ګڼ غله پرې راټول دي، له دې سړي ډېر کار اخیستی شو.

دا خبره مې خوښه شوه، د بند یوولسمه میاشت یې لا نه وه تېره چې خوشی مو کړ.

یو څه مو نور هم وپېرساوه، په لار کې د انګرېز له خوا یوه جوړ شوي ملنګ ورته وویل چې دی به یو وخت د افغانستان پاچا شي.

د سقاو زوی د کابل کلکان ته لاړ، غلاوې یې شرع کړې، کله کله به یې پر حکومتي کاروانونو هم برید کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سړي په کم وخت کې ډېر ملګري پیدا کړل، خبره تر امان الله خانه ورسېده، د سقاو زوی یې په پوځ کې شامل کړ، خو دې سړي په هماغه لومړیو کې یو پوځي افسر وویشت. بېرته غره ته وتښتېد. پاچا یې پر سر انعام وټاکه، خو د سقاو د زوی سر دومره اسانه کار نه دی، په دې سړي پسې د شوربازار حضرتان ولاړ دي، اوس یې ګڼ خلک طرفداري کوي....

چانسلر غلی شو، ماته یې وکتل، په سترګو کې یې ځلا پرته وه.

ومې ویل:

_ښه نو، زما رخصتي لا نه وه پوره، لاهور ته دې د څه له پاره را وغوښتم!

چانسلر را نږدې شو، ورو یې وویل:

_یو ځل بیا ږېره پرېږده!

دا خبره ښه نه شوه راباندې تمامه، ومې ویل:

_د برېتانیې په استخباراتو کې یواځې ډېوېډ جونز نه دی، نور هم باید خطر ومني، بل یوه ته ووایه!

چانسلر یو ګام شاته شو، سترګې یې رډې را وختې، چیغه یې کړه:

_نو ته د ملکې امر نه منې!

غلی وم.

چانسلر پر څوکۍ کېناست، ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_له تا مې دا تمه نه درلوده. سم وایې، په استخباراتو کې ډېر خلک کار کوي، خو ډېوېډ جونز ( یو ) دی. که مو بل ډېوېډ جونز لرلای، نو ته مو په رخصتۍ کې تر دې ځایه نه راغوښتې.

پورته کوټې ته وختم، پر مېز نوي او زاړه اخبارونه پراته ول. یو اخبار مې را پورته کړ، امان الله خان د اروپا له سفره بېرته راغلی و، ده له څو اسیایي او اروپایي هېوادونو سره ګڼ نظامي، اقتصادي، تجارتي... فرهنګي تړونونه لاسلیک کړي ول. وروسته د اخیستل شویو وسلو او نورو قراردادونو لیست راغلی و. امان الله خان په دې سفر کې له اروپایي هېوادونو شپېته زره نوي ټوپکونه، یوسلو شپږ توپونه، اته جنګي الوتکې، پنځه زغروال موټر، په زرګونو نظامي خولۍ، پټکونه، درې زره دوربینونه...اخیستي ول.

له اروپایي هېوادونو سره یې په افغانستان کې د قند، کاغذ، تار، ټوکر، جاکټ، جورابو، درملو، برقي او زراعتي وسایلو...د جوړولو د فابریکو قراردادونه امضا کړي ول....

فکر مې خټه شو، خو بل اخبار مې تندی ورین کړ، امان الله خان له اروپایي سفره له راتګ وروسته لویه جرګه را غوښتې وه، د جرګې غړو ته یې خپل تصمیمونه ویلي ول، د دې تصمیمونو مهم ټکي لیکل شوي وو:

د مریدي له مینځه وړل، د ښځو د چادرۍ لیرې کول، د برېټانوي هند د دیوبند په مدرسه کې د افغانانو په زده کړه بندیز، له ملایانو له سره امتحان اخیستل، د تذکرو وېش، د عسکري جبري کېدل، بهر ته د زده کړې له پاره د ځوانانو لېږل، د وړو نجونو نکاح منع کول...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه څه وو چې ملايانو نه غوښتل، تر ټولو ډېر مخالفت يې د شوربازار د حضرتانو مشر نور المشايخ فضل عمر مجددي کړی و.

انګريزي اخبار مې را واخيست، سلامت مخ يې د شينوارو پاڅون ته ځانګړی کړی و، تبليغات تاوده ول، د امان الله خان پاچاهي يې نسکوره ګڼله....

يوه مياشت له چانسلر او ځينو نورو انګرېزانو سره پر پلانونو وغږېدم، د سفر له پاره هر څه تيار ول، بس! يوازې رېږې ته ماتله وم. اه! رېږه! که رېږه په پيسو اورېدېدای، نو چانسلر زما د رېږې د اورېدو له پاره تر ميليونونو روپيو تېر و.

پاتې سلامت مياشت ونه لمبېدم، خيرن ځان، اوږدو له خيرو ډکو نوکانو او څپولو وېښتو مې پيري نوره هم تقويه کوله.

وخت را ورسېد، شنې مرۍ مې غاړې ته واچولې او يو ځل بيا له قدم شاه سره سمڅې ته ورغلم.

د يو کال ورکېدو بانه جوړه وه، بغدادي پير خو يوازې د ملک ځونډي له پاره نه و پيدا، په ټوله دنيا کې يې مريدان لرل.

په يوه مياشت کې څو ځله له خانانو او ملکانو سره وغږېدم، ناليدلي خوبونه به مې ورته تېرول، د سقاو زوی مې د دې ټولو مشکلاتو حل ګڼه، ويل به مې چې په همدې سړي پسې ودرېږئ، خوب مې ليدلی، همدا مسلمان ځوان به مو له کوپړه راباسي.

پاچا ته د خلکو زړونه هسې هم ډک ول، خو زما خبرو نور هم وپړسول. د پاچا پر ضد سلامت لښکر تيار و، خوما د اوس له پاره درې سوه تکړه ځوانان ترې را بېل کړل او د کابل شمال ته مې مخه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه اوونۍ وروسته مې د سقاو زوی په یوه زړه کلا کې ولید، ساده سړی و، پیرانو او حضرتانو ته یې له حده تېر احترام درلود.

له دې سړي سره د شپې تر ناوخته ناست وم، غیبي مرستې یې یادولې، ویل یې چې په فلاني ځای کې مې یو پیر ولید، رایاده یې کړه چې خوب مې لید، پر سپین آس سپور یې، توره دې په لاس کې وي، کاپر امان الله منډې درنه وهي...لاړ شه، فلانی ځای وکینده، غیبي مرسته درته پرته ده. ځای مې وکېنده، نوې ټوپکې او ډېرې پیسې ترې را ووتې....

د سقاو د زوی ټولې کیسې د پیرانو او غیبي مرستو په اړه وې، ځان یې سر له اوسه د افغانستان پاچا لید.

ګرم نه و، پیرانو، ملنګانو، ملایانو، حضرتانو، په غلا تورنو حاکمانو، له وظیفو شړل شویو وزیرانو...ټولو د امان الله خان ورکېدا غوښته.

پټې او ښکاره جلسې نیول کېدې، د سقاو د زوی خبرې چلېدې، ان په پوځ کې یې هم ډېر هغه کسان خپل کړي وو چې پاچا به غلاوو او فساد ته نه پرېښودل.

چا چې به په کوهدامن کې د امان الله خان له نوم سره د (غازي) ټکی وتاړه، سر یې قلم کېده، کور ته یې اور ور لوېده، ښځه او لوڼې یې د مینځو په نوم پر خپلو قوماندانانو وېشلې....

د سقاو زوی ته ځینو شېخانو د خادم دین رسول الله لقب ور کړی و، خلکو به د دې سړي غلاوې او ظلمونه په خپلو سترګو لیدل، خو سوڼ یې هم نه شو کولای، د دې سړي پر وړاندې ان له تریو تندي هم د کوپر مانا اخیستل کېدله. تریو تندی یانې مرګ. .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اورلګيت وار را ورسېد، د سقاو د زوې په مشرۍ زرګونه کسان د کابل پر ښار ورغلل، دوې ورځې وروسته احوال را ورسېد چې امان الله خان د غزني خوا ته مخه کړې.

د هوساينې سا مې وايسته، د انګرېز پاشلو تيلو اور اخيستى و.

يوه اوونۍ وروسته کابل ښار ته ورغلم، اه! له ښاره سا ختلې وه، تورې وربځې د اسمايي تر غره را ټيټې وې، دوکانونه ته کولپونه ور لوېدلي ول، په کوڅو کې مې يو-يو بنيادم ليد، په ختو کې ټيټ سرونه روان ول...ځاى ځاى به د دار په پايو پسې ځړيدلي کسان زنګېدل.

يو ځاى مې چيغې واورېدې، څو وسلوال په يوه سړي کې ختل، ويل يې چې دا کاپر دى، د امان الله خان په وخت کې يې خپله لور کوپر ته د درس له پاره ور لېږلې وه، سړى يې همالته وويشت.

ارګ ته ورغلم، چمن له لندو دوسيو او کاغذونو ډک و. کړکۍ ماتې وې، په ونو کې قفسونه را ځړېدل، بندي زرکان غلي پراته ول.

د ارګ پر دفترونو را وګرځېدم، مېزونه، څوکۍ، الماري، غالۍ...هېڅ هم نه وو پاتې.

پر دېوال غټې رسامي شوې نقاشي ته ودرېدم، د سپينو بتو سرونه په برچو يا کوم بل تېره شي، خراب شوي ول، خو شنې اوبه، غرونه او د غرونو په لمنو کې شنې ونې پر خپل ځاى پاتې وې.

د امان الله خان دفتر ته ورغلم، دېوالونه يې تک تور ول، د سوځېدلو کوچونو يواځې فلزي سپرنګونه پاتې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته چمن ته ورغلم، يوه دوسيه مې را پورته کړه، د تجارت د وزارت د کلني راپور له پاڼو ډکه وه. بل کاغذ مې را واخيست، په کابل کې د يوه لوی پوهنتون د جوړېدو د قرار داد کاپي وه.

دوې، درې، نورې په ختو لړلې دوسيې مې وکتې، د افغانستان په ځو لويو ښارونو کې د لويو ښارګوټو د جوړېدو له نخشو او اسنادو ډکې وې....

په رڼا ورځ د برېتاينې سفارت ته ورغلم، وېره مې نه درلوده، بې سرپوښه وطن و، چا به پوښتنه کوله چې بغدادي پير د انګرېزانو په سفارت کې څه کوي!

سفير مې وليد، خوشاله و.

سفير وويل چې د سقاو د زوی په امر د برېتانيې له سفارته پرته، نور ټول سفارتونه تړل شوي دي.

د سفارت ځينو مامورينو کيسې راته وکړې، د خلکو کورونه چور شوي وو، نجونو او ځوانو ښځوته لاس ور لوېدلی و، په سپينو هلکانو پسې کورونو ته ور اوښتي ول.

بانکونه، دولتي شتمنی، دوکانونه، فابرېکې...هېڅ هم نه و پاتې....

څو ورځې وروسته احوال راغی چې خادم دين رسول الله خلکو ته خپل اصلاحي پروګرامونه تشريح کوي.

ورغلم، په يوه لويه ميدانۍ کې ګڼ خلک را ټول ول. مخکې لاړم، له علماوو سره کېناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېبه وروسته يو تور موټر او پر آسانو سپاره ګڼ کسان راغلل. حبيب الله ( د سقاو زوی ) د موټر له مخکيني سېټه را کښته شو، ږېره يې لنډه کړې وه، د اغوستې تورې دريشي پايڅې يې ور پورته کړې وې.

له علماوو سره يې ستړې مشي  توده وه.

لومړی د شور بازار حضرت وغږېد، د حبيب الله کارنامې يې يادې کړې، ويې ويل چې دا وطن همدې خادم دين رسول الله له کوپره وژغوره...په پای کې يې نوي پاچا ته اوږده دعا وکړه.

حبيب الله ودرېد، خپلې پخوانۍ کارنامې يې را واخيستې، ويې ويل چې د امان الله خان بت پرستي او کوپر د دې سبب شو چې د هغه پر ضد را پورته شي...ياده يې کړه چې په لومړيو کې څوارلس زره نغدې روپۍ او نولس ځوانان را سره ول، ورور ورو ډېر شول، بيا ملايکې مرستې ته راغلې...دا وطن مو له کوپره وژغوره.

نور به د بيت المال پيسې پر خپلو عسکرو او ملايانو لګوم چې عبادت وکړي...د نجونو مکتبونه بند دي، هلکانو ته هم د مکتب کوپري کتابونه فزيک، رياضي، کيميا ...ښه نه دي، له دينه يې باسي، دوی بايد مدرسو ته لاړ شي.

له دې وروسته د عدليې، تعليم او تربيې، حفظ الصحې...وزارتونو ته ضرورت نه شته، عدل د ملايانو کار دی، ناروغۍ په دم تايذ ښه کېږي، د تعليم او زده کړې له پاره مدرسې لرو...

ماليات نه اخيستل کېږي...په دې وطن کې يوائې انګرېزان سفارت درلودای شي، ځکه دوی له موږ سره په ګډه کاپر پاچا را وپرزاوه، نور کوپري هېوادونه د سفارت حق نه لري...ورځئ! خپل ساعت تېر کړئ، چرګان او مرزان وجنګوئ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې يې ځان د افغانستان امير اعلان کړ.

څو ورځې وروسته بيا ارګ ته ورغلم، د سقاو زوی په جګو پښو پر څوکۍ ناست و، مخې ته يې جنګي چرګان تړلي ول. دی په ټکي نه پوهېده، د خلکو عريضې به يې شفاهي اورېدې.

بيا د هغو بنديانو وار شو چې د امان الله خان په دوره کې يې لوړې څوکۍ درلودې.

لومړۍ يې يو ډنګر سړی را ووست، دا سړی په تېر حکومت کې د موزيم ريس و. د سقاو زوی د موزيم په مانا نه پوهېده، يوه بل ورته ووېل چې دې سړي زاړه بوتان ساتل...

د سقاو زوی سترګې پټې کړې، چيغه يې کړه چې د بت پرستانو ديد ناروا دی، مه يې ځنډوئ، همدا نن يې سر په لاهوري دروازه کې راو ځړوئ.

بل لاس تړلی بندي يې را ووست. دا سړی د امان الله خان د ماليې وزير مير هاشم خان و.

د سقاو زوی ووېل:

_دا کاپر مو ولې تر اوسه ژوندی پرېښئ!

هاشم خان ووېل:

_سم مسلمان يم!

د سقاو زوی چيغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دې وطن ته دې کوپړ را ووست، بودېجه تا جوړه کړې وه!

وزير وويل:

_هو، خو بوديجه د حساب دارۍ يو پخوانی سيستم دی، په کورونو، دوکانونو کې هم بوديجې لرو، بوديجه يواځې يو نوم دی....

د سقاو زوی چيغه کړه:

چېلم راوړئ!

وزير ته يې وکتل، ويې ويل:

_ورک شه!

په دوو ساعتونو کې اتيا کسان محاکمه شول. ځينې يې زندان ته ولېږل، نورو ته يې د مرګ حکم واوراوه....د کابل پر څلورو دروازو بايد سرونه را ځړېدلې وای، دا سرونه د نورو له پاره عبرت ول.

نور مې په کابل کې پاتې کېدا ګټه نه درلوده، څه چې برېتانيې غوښتل، تر لاسه يې کړل.

پېښور ته له تګه يوه ورځ مخکې يو ځل بيا ارګ ته ورغلم. زينتې بوټې، ګلان، چمن... له بېخه ايستل کېدل...د سقاو زوی امر کړی و چې دا بې ګټې شيان له ريشو را وباسئ، پر ځای يې ترکاري وکرئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا په ښار کې وګرځېدم، د پخوا غونډې نظافت نه و، ډېر کسان به په لارو کوڅو کې رفع حاجت ته کېناستل... ډېرو دوکانونو ته کولپونه ور لوېدلي وو. لارې، کوڅې له شنو چادریو ډکې وې، ښځو، ماشومانو او ځوانو نجونو سوال کاوه.

مخکې لاړم، د حبیبې د لیسې ټولې شیشې ماتې وې، په لویه میداني کې یې غواوې ګرځېدې...

سوزان کتابچه کېښوده، ګروپ یې مړ کړ.

* * *

ټک شو، توپ له بېټ سره ولګېد، سوزان منډه واخیسته، توپ په چمن کې رغړېده....

ټام چیغه کړه!

_څلورېزه!

سوزان توپ را واخیست، بېرته راغله، خپل ورور ته یې وکتل، په سترې ساه یې وویل:

_بس ده! نوره مې پرېږده!

د ټام تندی تریو شو:

_نه، اوس به زما وار را تېروې.

سوزان وویل:

_ما دېرش منډې کړې، ته لا په شپاړسو کې یې، پاتې منډې مې در وبخښلې، تا وګټله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټام چیغه کړه!

_له اوله به دې کرکټ نه کاوه، نه به راتلې، اوس باید زما پنځه اووره را پوره کړې.

سوزان توپ پر ځمکه واچاوه:

_بد مې وکړل، بخښنه غواړم
د لارا غږ راغی:

_څه خبره ده، ولې سره خورئ!

سوزان ور وکتل، مور یې په چمن کې ناسته وه، پر مخ یې د لمر ضد کریم وهل....

سوزان وویل:

_مورې! که وخت لرې، نو زما پر ځای د ټام درې پاتې اوورونه ور پوره که.

سوزان لاړه، کتابچه یې ور واخیسته، ډېوېډ جونز یودېرش کاله وروسته تاریخ لیکلی و.

۱۹٦۰ م کال_د اپرېل شپږ ویشتمه_لندن

_تېر مازدیګر تلویزیون ته ناست وم، درې اویا کلن یم، غوږونه مې درانه دي، له غوږۍ پرته، غږ سم نه اورم. یودم پر تلویزیون یو تور او سپین عکس راغی، دا څېره شناخته راته واېسېده، پر ذهن مې فشار را ووست. د افغانستان د پخواني پاچا امان الله خان د ځوانۍ عکس و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بېړه ودرېدم، د تلوېزيون غږ مې لوړ کړ، امان الله خان د سويس په يوه روغتون کې له وطنه ليرې، په بې کسي کې سا ور کړې وه.

بېرته پر څوکۍ کېناستم، پر اوږه مې څه ولګېدل، د اووه کلن لمسي کوچينی لاس و. ماشوم په حيرانۍ راته وويل:

_نيکه! ته ژاړې!

ځان ته مې پام شو، ما په رښتيا ژړل، خو ولې؟! نه پوهېدم!

کوټې ته لاړم، کتابونه مې ولټول، له کلونو وروسته مې د يادښت کتابچه را واخيسته. ومې کته، وروستی يادښت مې يودېرش کاله مخکې ليکلی و.

په دې کلونو کې مې امان الله خان يواځې يو ځل وليد، په ۱۹۵۵ م کال کې مې مور مړه شوه، نوي کلنه وه، وصيت يې کړی و چې جنازه به مې خپل پلرني وطن، ايټاليا ته وړئ!

مور مې په روم کې خاورو ته وسپارله. منی و، د ايټاليې هوا تر لندنه توده لګېده، فکر مې وکړ، توده هوا مې هډوکو ته ښه وه. څو ورځې په ايټاليې کې پاتې شوم، يوه ورځ مې امان الله خان په ذهن کې را وګرځېد، پوهېدم چې په روم کې اوسي، خو دقيق ادرس يې نه و رامالوم.

د افغانستان سفارت ته ورغلم، بانې يې کولې، نه پوهېږم چې ولې يې له پخواني پاچا سره زما ليدل نه خوښېدل. په سخته مې قانع کړل، ادرس يې راته وليکه.

کاغذ ته مې وکتل، پخوانی پاچا د ښار په تر ټولو غريبه برخه کې اوسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سهار مې ټکسي ته لاس ورکړ، شل دقيقې وروسته د يوه پارک پر غاړه کښته شوم.

يوې ځواني نجلۍ ته مې کاغذ ونيو، شمال لور ته يې ګوته ونيوله، مجبور وم، بايد په پارک کې تېر شواى واى.

پر ژېړ چمن ژېړې پاڼې پرتې وې. څو ماشومانو فوټبال کاوه، زاړه کسان پر اوږدو څوکيو لمر ته ناست ول. مخکې لاړم، سرې او ژېړې پاڼې مې د بوټو تر تليو لاندې کېدلې...يو ځاى ودرېدم، بېرته مې شاته وکتل، يو څوک پر اوږده څوکۍ ناست و، اخبار يې وايه.

نږدې ورغلم، دا غټې سترګې شناخته راته واېسېدې. مخامخ ورته کېناستم. حساب مې وکړ، دوه شپېته کاله! نه وم غلط، امان الله خان به په دوه شپېته کلنۍ کې خامخا همداسې څېره درلوده. ور نيږدې شوم، پر سرې مې سيورى ورغى، شپو خولۍ يې له څوکۍ ور پورته کړه، کېناستم، په انګليسي مې وويل:

_هوا ښکلې ده!

غټې کڅوړنې سترګې يې را واړولې، موسک شو، لنډ ځواب يې راکړ!

_ډېره!

بېرته يې اخبار سترګو ته ونيو.

ور ومې کتل، د زاړه، خو پاک بالاپوښ ګروې ( تنۍ ) يې تر غاړې پورې تړلې وې، له ليرې يې د مخ ګونځې دومره ژورې نه ښکارېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټپ شو، توپ پر اخبار او بیا د سړي پر اوږه ولګېد، یو ماشوم راغی، بخښنه یې وغوښته، سړي توپ ور واخیست، د ماشوم پر سر یې لاس تېر کړ، توپ یې ورته ونیو. ماشوم موسک شو، مننه یې وکړه.

سړي بېرته اخبار ته وکتل.

په انګلیسي مې وویل:

_په ماشومتوب کې دې کومه لوبه خوښېدله؟!

سړي را وکتل، ویې خندل:

_د آس سورلۍ.

بېرته یې سر وځړېد.

یوه شېبه ناست و، بیا ورو ولاړ شو. ګام یې واخیست، په پښتو مې وویل:

_مېلمه یواځې پرېږدې!

نبغ یې راته وکتل، سترګې یې وځلېدې، په خوند یې وویل:

_افغان یې؟!

راغی، تر لاس یې کش کړم، ودرېدم، تر ډېرو یې په غېږ کې نیولی وم. نه یې پرېښودم.

ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_نه! پرنګۍ!

ویې ویل:

_ټوکې مه کوه! پرنګیان او داسې صافه پښتو! ډېر سره لیرې دي.

ومې ویل:

_ډېوېډ جونز یم، په ۱۹۱۹ کال کې ارګ ته درغلی وم، درې کسه وو، د چانسلر لېک مو درووړ، په کابل کې مو د خپلو څو نمایندګانو پاتې کېدا غوښته.

د سرې لاسونه مړه شول. تر څنګ مې کېناست، سر یې څو ځله یوې، بلې خواته وخوځاوه، یودم یې وخندل:

_اه! پرنګیانو! دلته هم نه یم درنه خلاص!

ومې ویل:

_خو اوس مې تقاعد اخیستی، له سیاست سره کار نه لرم، ایټالیا ته مې د خپلې مور جنازه راوړه، ته مې په ذهن کې را وګرځېدې، لیدو ته دې راغلم.

امان الله خان ودرېد، تر لاس یې ونیولم، په موسکا کې یې وویل:

_راځه! کورته ځو، بیا ونه وایې چې یوه افغان بوډا په پردي وطن کې خپله مېلمه پالنه هېره کړې وه.

تر پارک ووتو، تنګه کوڅه راغله، امان الله خان په یوه زاړه کور کې اوسېده. پورته وختو، وړه کوټه وه، پر زړه، رنګ خوړل شوې غالۍ یو کټ، کوچینی مېز، دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوکۍ...ښکارېدلې. کېناستم، شاوخوا مې وکتل، وړه الماری له کتابونو ډکه وه، پورته د لرګي په چوکاټ کې کليمه نيول شوې وه، کټ ته نږدې، په تاقچه کې د جاينماز پر سر کوچينی قرآن شريف ايښی و.

امان الله خان د باندې ووت. زاړه وره چولې درلودې، غږ يې راته، يو چا ته يې وويل:

_څه مو پاخه دي؟!

ښځينه غږ راغی!

_لوبيا!

امان الله خان وويل:

_مېلمه لرم، قابلي پلو پوخ کړئ!

ښځينه غږ وويل:

_غوښه نه شته!

_يو ځوک پسې ولېږئ!

دروازه خلاصه شوه، امان الله خان بېرته راغی، ويې ويل:

_کړکۍ ته کېنه، کوټه سړه ده.

ځوکۍ مې وکښوله، د لمر وړانګې مې اوږو ته سيخې شوې. امان الله خان پر کټ کېناست، ويې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_اوس مې نو سم زړه ته ولوېده چې ډېوېډ جونز يې، فکر کوم چې يو ځل مو بيا هم سره ليدلي و.

ومې خندل:

_هو، زه او سفير دې په نيمه شپه کې در وغوښتو، ويل دې چې انګرېزان د افغانستان په شمال کې مداخله کوي، خلک يې مسلح کړي دي، سفير ته دې د هغه له خوا امضا کړی سند ورکړ، ورته ودې ويل چې په دوه اوياوو ساعتونو کې به له افغانستانه وځي. يوه اوونۍ وروسته دې زموږ انګرېز جاسوس اعدام کړ.

امان الله خان سړه ساه وايسته:

_اې پرنګيانو، حق مو و، وطن مو را غرق کړ.

ومې خندل:

_ته هم ګرم وې، ډېر تېز تلې.

راته ويې وکتل، څه يې ونه ويل:

_د کوټې دروازه وټکېده، امان الله خان ولاړ شو، بېرته له پتنوس سره راغی. دوه ګيلاسه يې له شنو چايو ډک کړل.

کړکۍ ته ودرېد، ويې ويل:

_هاغه ماشومان وينې؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدم. لاندې پاک، سوتره او صحتمند ماشومان روان ول، خندل يې، په ملاوو پسې يې د مکتب بکسې تړلې وې.

امان الله خان وويل:

_دا ماشومان پچې نه جارو کوي، په دوو اوزو پسې هم ټوله ورځ نه دي روان، لوږه نه پېژني، مکتب ته ځي، خاندي، تفريح لري، تلويزيون ته ګوري، غم نهويني، د ټوپک ټک يې نه دی اورېدلی، روغ دي، له ژونده خوند اخلي....

غلی شو، ويې ويل:

_د هاغه دوکان تر مخ ناست بوډا زموږ ګاونډی دی، پنځه څلوېښت کاله يې په يوه فابريکه کې کار وکړ، اوس کرار ناست دی، د تقاعد پيسې ورته راځي...نه زوی ته احتياج دی، نه لمسو ته، تر مرګه به په ګېډه موړ او پر تن پټ وي.

هاغه بله ځوانه ښځه ډاکټره ده، اته ساعته کار کوي، خو څوارلس ساعته هوسا ژوند لري، کونډه ده، خو دومره پيسې پيدا کولای شي چې د خپلو اولادونو، درس، روغتيا، خوراک، تفريح... ته ورسېږي.

دا د روم تر ټولو غريبه سيمه ده، خو کورونه يې څلرويشت ساعته برق، ګاز او اوبه لري...کوڅې يې پخې دي، مکتب او روغتون نږدې دی، په دې ټوله غريبه سيمه کې به يو سوالګر هم ونه وينې.

غلی شو، بېرته پر خپل ځای کېناست، پياله يې ور پورته کړه، ويې ويل:

_سم وايې! زه تېز تلم، ځکه وخت کم و، ما وېل چې په خپل ژوند کې يو پرمختللی افغانستان ووينم. داسې وطن چې اوسېدونکې يې د دې خلکو په څېر ارام ژوند ولري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړه ونه پېژني، تعليم وکړي، د ځان او نورو په حقوقو پوه شي، ښه او بد ور مالوم وي، په کورونو کې د مورچو د جوړولو پر ځای، د کتابونو ځای جوړ کړي...نور يې په يوه او بل نوم غلط نه کړي ....

غلی شو، له پيالې يې سور وکړ، سوړ اسويلی يې وايست:

_ايټالياوان له دوهمې نړيوالی جګړې را ووتل، ټوله ايټاليا خاورې شوه، خو خلک يې پوه او تعليم يافته ول، په لسو کلونو کې يې بېرته ايټاليا، ايټاليا کړه، اوس موټرې او طيارې جوړوي، خو زما خلک بې سواده ول، ماغزه به مې ورسره وخوړل، په عادي خبره کې به يې قناعت نه کاوه.

غلی شو، يودم يې ترخه وخندل:

_يو وخت څو سپين ږيري راغلل، دوی په کابل کې روان رېل ليدلی و، غوسه يې نه کنټرولېده، ويل يې چې ښار ته دې د اوسپنې ښامار راوستی، خوراک يې اور دی، شيطان يې چلوي.

ورسره ووتم، په رېل کې مې کېنول، دوره مې ورکړه، پوه مې کړل چې ريل د مسافرو او تجارتي اجناسو د انتقال له پاره تر ټولو ارزانه او ګټوره لاره ده...ورته ومې ويل چې دا رېل له اوسپنې او لرګيو جوړ دی، د ډبرو په سکرو کار کوي، بنيادم يې چلوي...هر څه يې په خپلو سترګو وليدل، خو کله چې رېل ودرېد، بېرته يې هماغه پخوانی خبره را واخيسته، تور شيطان او د اوسپنې ښامار يې نه غوښت.

راډيو يې نه منله، ويل يې چې په مينځ کې يې واړه واړه شيطانان ناست دي...خلک له دينه باسي...تليفون کوپر ورته ښکارېده، ويل يې چې له دينه اوښتی يې، له شيطان سره غږېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خلکو ان په پخه خښته او پوخ دېوال کې هم شيطان ليد...پوهېږې چې ولې؟!
علت يې بېسوادي وه.

ما بايد دا ستونزه حل کړې واى، مکتبونه مې جوړ کړل، غوښتل مې چې دا خلک له تيارې را وباسم، په هرڅه يې پوه کړم...خو دوى مکتبونه هم نه غوښتل، د کوپړ ځالې يې بللې....

ومې ويل:

_نو فکر نه کوې چې په داسې يوه ساده او بې سواده ټولنه کې ترکيې ته د نجونو لېږل ښه نه و؟!

امان الله خان پياله ور ډکه کړه، سړه ساه يې وايسته:

_په ټول وطن کې ښځينه ډاکټره نه وه، ښځې به په ډېرو عادي ناروغيو مړې کېدلې، فکر مې وکړ، په ټولو اسلامي هېوادونو کې ترکيه ښه راته وايسېده، تر عربو مخکې وه، ما بايد په خپل وطن کې ښځينه ډاکټراني درلوداى، سلامت پوهنتون، استادان، لابراتوارونه، کتابخانې... خو مې غريب افغانستان ته نه شواى راوړلى، چاره نه وه، نجوني او هلکان مې ترکيې ته ولېږل...د شرعي خلاف کار مې نه ګاڼه، ترکيه اسلامي هېواد دى، د نجونو ليليه، خوراک، څښاک، هر څه بېل ول.

ومې ويل:

_د چادري په اړه څه وايې؟! تا په کابل کې چادري منع کړه!

امان الله خان سر وخوځاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_زه ديني عالم نه يم، خو اسلامي نړۍ مې ليدلې ده، مطالعه لرم، ما په يوه اسلامي هېواد کې هم دا ډول شنې رنګه چادريانې ونه ليدلې...زموږ د خلکو لوی مشکل دا دی چې دين او رواجونه يې سره ګډ کړي دي...

زه به د بند، فابريکې، برق، سړک، پل، پلچک، مکتب، پوهنتون... د جوړېدو په باره کې ورته غږېدم، ګټې به مې يې بيانولې، د دې شيانو په جوړولو کې به مې د خلکو همکاري غوښته....خو دوی به په هر څه کې ښځې را ګډولې...پوخ سړک او په موټر کې هوسا تګ ته يې پام نه و، ويل به يې چې نه، بيا به له روان موټره زموږ کورونه او د کورونو په مينځ کې زموږ ښځې ښکارېږي.

د مکتب او پوهنتون په ګټو به مې خوله ستړې شوه، خو په په اخير کې به يې راته ويل چې نجونې مو کوږ او فحشی ته مه باسه....

د روغتون فايدې به مې ور يادې کړې، ويل به يې چې ته عياشي غواړې، تورسرې به مو څنګه له کوره د باندې وځي؟!

خوارځواکه ماشومانو او ښځوته مې د تقويې دواوې ور ولېږلې، خو خلکو اور ور واچاوه، ويل يې چې پاچا د اسلامي امت د ډېرېدو مخالف دی، دا دوا زموږ ښځې را وچوي، اولاد نه شي پيدا کولای.

ما به د وطن د پرمختګ خبرې ورته کولې، خو دوی به خامخا پل، پلچک، دېوال، پوخ لښتی...د ښځو له نوم سره تاړه...وی، په دې کې خو زموږ ښځې راځي، خلک به يې مخ ويني، بې بندوباره به شي....دوی هر څه ته بد بينه ول، هر پرمختګ يې خامخا د ښځو د مخونو له لوڅوالي او عياشي سره تاړه....

امان اله خان اوږدې خبرې وکړې، سترګې يې لندې وې....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېوېډ جونز يادښتونه همدومره ول.

سوزان خپل تليفون را واخيست، په انټرنټ کې يې د امان الله خان نوم وليکه، ګڼې انټرنيټي پاڼې راغلې. يوه يې خلاصه کړه، اروپا او ځينو اسيايي هېوادونو ته د غازي امان الله خان سفر پکې راغلی و.

په مصر کې يې د مصر پاچا شاه فواد، صدراعظم او د کابينې غړې مخې ته را وتلي ول. په عکس کې د امان الله خان استقبال ته په زرګونو کسان د ګلانو له ګېډيو سره ولاړ ول....ګڼ ليکل شوي شعارونه ښکارېدل، امان الله خان يې په اسلامي نړۍ کې خپلواکۍ اخيستونکی اتل ياد کړی و.

د مصر مشهورې ورځپاڼې الاهرام ليکلي ول (( اې هغو کسانو چې استقلال غواړئ او له آزادی سره مينه لرئ...نو له امان الله خانه يې زده کړئ....)).

دوهم سفر يې ايټاليا ته و، په روم کې د ايټاليا پاچا، ملکه، د دربار غړي، صدراعظم موسيوليني...مخې ته ورته راغلي ول. ..بيا فرانسې، سويس، المان،،
پولنډ، انګلستان، شوروي ... ته تللی و، هلته يې هم تود هرکلی شوی و، پاچا د افغانستان د پرمختګ له پاره ګڼ قرار دادونه امضا کړي ول...

سوزان بله انټرنټي پاڼه راوسته، په دې پاڼه کې يې د امان الله خان په اړه د نړۍ د سياستوالو، پوهانو، ليکوالو... خبرې را اخيستې وې.

په کابل کې د انګلستان د هغه وخت سفير ليکلي ول:

(( امان الله خان په مېړانې، زړورتوب، دوستي او ښه مشرتوب کې جوړه نه درلوده. دا سړی د پرمختګ لېونی و، غوښتل يې چې خپل هېواد په لنډ وخت کې د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودروي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هند لومړي وزير جواهر لعل نهرو ليکلي ول:

(( امان الله خان فصيح، روانه او قناعت ورکوونکې ژبه درلوده، په خپل سفر کې يې ډېر اروپايي هېوادونه قانع کړل چې په افغانستان کې سرمايه ګذاري وکړي، فابريکې جوړې کړي... دې سړي خپل هېواد نړۍ ته ور وپېژاند، د افغانستان حيثيت او اعتبار يې ډېر کړ...)).

فرانسوي سفير موريس فوشي ليکلي ول: (( ځوان پاچا په سياست کې حيرانوونکې پوهه درلوده، وېره يې نه پېژندله..ما په لومړي ځل د جنرالي په د ريشي کې وليد، ښکلی ښکارېده، سترګې يې اغېزناکې وې، مقابل لوری يې تر تاثير لاندې راووست، په خبرو کې به يې موسکا ګډه وه، په ډېرو سختو حالاتو کې هم نه عصبي کېده، دې سړي خپل هېواد په لنډ وخت کې نړۍ ته ور وپېژاند...)).

امريکايي ليکوال پولاده د امان الله خان د ملګرو له قوله ليکلي ول:

(( د دارلامان ماڼۍ د يوې غونډۍ پر سر جوړېده، امان الله خان راغی، د ماڼۍ جوړېدو ته خوشاله و، ويل يې چې د ماڼۍ کارونه بايد له نږدې ووينو، خو موږ ورته وويل چې غونډۍ يخ وهلې، ځانونه مو وازمايل، پورته ختل ناممکنه ده، ښوييږو... خو پاچا وخندل، منډه يې واخيسته، په يوه ساه د غونډۍ سر ته وخوت. له هماغه ځايه يې په خندا را غږ کړل:

(( ډېره ډوډۍ مه خورئ، زما غوندي ورزش وکړئ...)).

( په افغانستان کې اور ) د کتاب ليکوالي ميرمن رياټالي ستيوارټ ليکلي ول: (( د افغانستان پخواني اميران مغروره او متکبره کسان ول، په سخته به يې چاته اجازه ورکوله چې ورسره ووينې، خو امان الله خان بې کبره انسان و، له ګارډ او محافظ پرته به په ښار او کوڅو کې ګرځېده، له غريبو خلکو سره به يې ناستې درلودې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی مشکلات به یې لیکل...دی ریښتونی او صادق انسان و، کله چې له کابله ووت، نو په غزني او کندهار کې په زرګونو خلک وربانديې را ټول شول، ټول د پاچا امر ته ماتله ول، ویل یې چې د سقاو پر زوی حمله ور وړو، خو امان الله خان منع کړل، ویې ویل چې زما پاچاهي د افغانانو په خپل منځي جګړې نه ارزي.)).

یوه بل لیکوال لیکلي ول:

(( په ایټالیا کې د پاچا ژوند سخت و، په ناز او نعمت کې را لوی شوي دې سړي نجاري کوله، ده هېڅوخت د ایټالیي د حکومت مرستې ونه منلې، ویل به یې چې لاس او پښې لرم، خیرات ته ولې کینم... یو وخت یې لاس ډېر تنګ شو، د افغانستان پاچا نادر خان ته یې لیک ور ولېږه، له هغه یې غوښتي ول چې په کابل کې زما یوه ټوټه ځمکه خرڅه او پیسې یې را ولېږه، خو نادر خان دا کار ونه کړ...امان الله خان بیا د مرګ تر ساته له هېچا، هېڅ ونه غوښتل...)).
افغان دیپلومات ډاکټر شاهي بای مستمندي لیکلي ول:

_(( په ایټالیې کې د امان الله خان کور ته ورغلم، پاچا غریبانه ژوند درلود، ملکې ثریا د پاچا د کټ روجایي لیرې کړه، یو بالښت یې را وایست، راته ویې ویل چې دا بالښت د افغانستان له خاورې ډک دی، پاچا دا خاوره هغه وخت ورسره را وړه چې له افغانستانه را ووت.

پاچا پر همدې خاوره سر لګوي، وایې چې بوی یې ښه راباندې لګېږي، کله چې ناروغه شي، نو همدې خاورې ته پزه ور نږدې کړي، خپل سږي وپړسوي، وایي چې درملو ته ضرورت نه شته....پاچا وصیت کړی چې که مړ شوم او وطن ته مې د تابوت د وړلو امکانات نه ول، نو په قبر کې به همدا خاوره راسره ږدئ...)).

یوه بل اروپایي لیکوال لیکلي ول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_(( دې خلکو ( افغانانو) کبر وکړ، د عزت، ترقي او پرمختګ چانس یې په لغته وواهه...دوی یو داسې پوه، مدبر، زړه سواند، زړور او پر وطن مین پا چا پسې واخیست، چې په افغانستان کې به بیا تکرار نه شي...)).

سوزان د دوه زره شپاړسم افغانستان عکسونه را وستل. خوار او په نس وږي، خړ پړ خلک، سوالګر، له خټو جوړ کورونه، وژنې، چاودنې، بمبارد، پرې کړې اندامونه... یې سترګوته ودرېدل.

د سوزان سترګې ډکې شوې، ګامونه یې واخیستل، د ډېوېډ جونز کتابچه یې د جهیل اوبو ته واچوله.

د خیمې خواته ورغله، د پلار خوشاله بږغ یې واورېد:

_ښنګه! ډاډه یم، پر غور نیکه به دې افتخار کړی وي.

سوزان ور وکتل.

پلار یې په حیرانۍ وویل:

_ته ژاړې!

نجلۍ خیمې ته ننوته.

( پای )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**